# هيڅ ملاقــات تصادفي نه دی

تقدير انسان نه پرېږدي
شېبه په شېبه له سره ليکل کېږي

ليکوال: هاكان منګوچ
ژباړن: شېرخان حساس او زينت سهاک

Scanned with CamScanner

## د خپرندوی یادښت

د اللهﷻ ډېر زیات شکر ادا کوم چې نویسا خپرنځي ته یې د دې توفیق ورکړ چې د هاکان منګوچ لیکلی اثر (هېڅ ملاقات تصادفي نه‌دی) چې پښتو ژباړه یې شېرخان حساس او زینت سهاک کړې، چاپ کړي.

نویسا خپرنځي د تاسیس له پیله تر اوسه د علم او فرهنګ مینه والو ته په بېلابېلو برخو کې ګڼ شمېر کتابونه وړاندې کړي او اوس له سمونې او اوډون سره دا کتاب خپراوي ته سپاري. د نویسا خپرنځي موخه دا ده چې د اللهﷻ په مرسته او د بېلابېلو زړه سواندو پوهانو په همت او همکارۍ سره اړین مطالعات او څېړنې وکړي او په ټولو انساني څانګو کې له اصلي درسي، فرعي او هر اړخیزو سرچینو څخه په ګټنې لیکوالي او ژباړې وکړي.

نویسا خپرنځی په نظر کې نیسي چې:

۱. اثر، باید ګټور او اغېزناک وي؛

۲. اثر، په فرهنګي او علمي برخو کې ارزښت ولري؛

۳. اثر، باید اکاډمیک او علمي لیکل شوی وي؛

٤. اثر، په یو ډول د خلکو لپاره سالمه تفریح وي.

له درنو استادانو او د نظر له خاوندانو غوښتنه کېږي چې د خپلې همکارۍ، لارښوونې او اصلاحي وړاندیزونو له لارې، د دې کتاب د اصلاح او د نورو اړینو آثارو په لیکنه کې له دې خپرندویې موسسې سره همکاري وکړي او هیله‌من یو چې د چاپ او خپراوي په برخه کې به د دوامداره او ور خدمت توفیق ولرو.

نویسا خپرندویه موسسه د هېواد د فرهنګیانو په چوپړ کې ده.

په درنښت

**محمد ظریف بشارت**

د نویسا خپرندویې ټولنې مشر

Scanned with CamScanner

# هیڅ ملاقات تصادفي نه‌دی

تقدیر انسان نه پرېږدي
شبېه په شبېه له سره لیکل کېږي

لیکوال: هاکان منګوچ
ژباړونکي: شېر خان حساس او زینت سهاک

علم او پوهه د انسان لپاره داسې یو شایست دی چې له هېڅچا پټ نه‌دی. داسې نسب دی چې هېڅکله جفا ورسره نه‌شي کېدای.
مسئله دا نه‌ده چې د کتاب پېرل څومره ګران تمامېږي، مسئله دا ده چې که کتاب ونه لولې څومره به درته ګرانه تمامه شي.

انتشارات نویسا
کابل؛ ۱۴۰۲ لمریز کال اوړی

Scanned with CamScanner

دا کتاب له پېښو څخه په الهام اخیستلو لیکل شوی...

هغه موسیقي چې د کتاب د داستان لپاره جوړه شوې، له اسیاتیفي او اپل موسیقي څخه یې اوربدلی شئ.

Scanned with CamScanner

## د لیکوال په هکله

د ترکیې ډېری خلک هاکان منګوچ د لیکوال، موزیشن او وینااوال په توګه پېژني. د هغه زده‌کړې چې په صوفي فلسفه ولاړې دي په دوو کتابونو کې (زه نی یم) او زړه دې چې پاک وي داستان به دې ښکلی پای ولري[۱] تر اوسه له سلګونو زرو خلکو څخه د زیاتو کسانو غوږونو ته رسېدلي او څه د هېواد دننه یا بهر په هغو سمینارونو کې چې وړاندې کړي یې دي د میلیونونو خلکو په زړونو کې یې ځان ته ځای جوړ کړی، د هغه کتابونه په آلماني، انګلیسي، فارسي، بلغاریایي، آلباني او روسي ژبو ژباړل شوي دي.

دا ځوان لیکوال چې د امریکایي ګیرنه پوهنتون په جوړښت کې د صوفي اکاډمي د ښوونکي او رئیس په حیث ځای لري، شپېلی غږوونکی هنرمند هم دی. د شپېلی غږولو خپرو شوو ویډیوګانو لیدونکي یې تر میلیونونو کسانو رسېدلي دي.

### د ژوند فلسفه

هغه داسې ښکاره کوي چې د ژوند فلسفه په هیله‌مندۍ ولاړه ده او په دې هیله کې نورو ته په سهم ورکولو کې نغښتې ده. همداراز ادامه ورکوي: «هیله‌مندي یوازې د مثبت فکر کولو په معنا نده. د هغو تراژیډیو د پامه غورځولو په معنا هم نده چې په ژوند کې ورسره مخ کېږو. بلکې هیله لرل د هرې شونتیا د لیدلو په معنا ده. یعنې د کور په یوه څنډه کې د کېناستلو کفر او ښکنځلو پر ځای، هر هغه کار چې د ښه کېدو لپاره دې له لاسه پوره وي ویې کړه.»

---

[۱] دا دوه کتابونه نسل نواندیش انتشاراتو کې چاپ کړي دي. – ژ.

هاکان منگوچ داسې څرګندوي چې د هیلې رامنځته کولو لپاره د څمکې په سر د یوه کس شتون هم بسنه کوي. «او ته همدا کس اوسېدای شې، نوی او تازه «ته» له تا څخه نږی ته راځي، او بیا یو بل «ته» او په همدې توګه «ته» پراختیا پیدا کوي او په «موږ» به تبدیل شي.»

له دې کبله هاکان منگوچ له دې تفکر څخه چې «د تیارو د بڼکنځلو پر ځای، ډېوه روښانه کړه» دفاع کوي.

ځوان لیکوال د خپلو ښوونکو خبرو ته په غور نیولو هغه ډېوه یې چې روښانه کړې د نورو تګلورو ته د رڼا ورکول یې خپله هیله ګرځولې او په دې لار کې هیله‌من دی چې د نورو د وجود د ډېوو د روښانولو لپاره هڅوی ته زړورتیا وروبښي.

لکه څرنګه چې مولانا ویلي: «کله چې یوه ډېوه بله روښانه کوي، د هغې له نور څخه څه شی نه کمېږي، برعکس په یوه داسې وسیله اوړي چې تیارو ته رڼا وربښي.»

**د هاکان منگوچ په هکله څه ویل شوي دي؟**

«د هاکان منگوچ کتابونه د نسخې په ډول خپلو ناروغانو ته تجویزوم.»

*پروفیسور داکتر زینب دمیرچي*

«هاکان منگوچ داسې یو شخصیت لري چې ډېر مناسب کارونه کوي... صبر لرونکی... زغم‌لرونکی او د تفکر په تړاو ښه نظر لري. زما په نظر هاکان چې هر تخنیک بیانوي اول په خپل زړه کې ځای ورکوي او په پوره ډول یې هضموي، او دا مسئله د دې لامل ګرځېدلې چې هغه ځانګړی واوسي.»

*د کلینیکي روان‌پېژندنې متخصصه، اسرا ازمجی*

«ځینې وخت ممکن یو انسان ته ارزښت ورکول سخت کار واوسي، څکه کله چې غواړو دا کار وکړو، خوښېږي مو چې منفي واوسو. په داسې حال کې چې زما په نظر غوره دا ده چې د خپل ځان په هکله لږ مثبت واوسو، تر څو یو ښه حس په موږ کې رامنځته شي، تر څو خپلې باطني انرژۍ ته متوجه شو، دا مسئله د دې

لپاره چې خپل استعدادونه ښکاره کړی شو، ډېره اړینه ده. که وغواړو دې مسئلې ته د یوه تګلوري او لارې په سترګه وګورو، هغه څوک چې غواړو یې زموږ تر څنګ واوسي، هاکان منګوچ دی. حتی هغه وخت چې په ځان مو باور له لاسه ورکړی دی، هغه به مو لاس ټینګ ونیسي او مرسته به وکړي چې له یوې یوې زینې څخه پورته لاړ شئ، پر دې سربېره د دې کار تر ټولو ښکلې برخه هغه ده چې په تاسو کې به دا حس رامنځته کړي چې دا بریا له هغه څخه ډېره په تاسو پورې ځانګړې شوې! ګرانه ملګریه هاکان، لاره دې روښانه او بې له خنډونو واوسه.»

*پروفیسور ډاکتر مرات اکسوې*

*د (زما طبیب) خپرونې کوربه*

«کله مې چې د لومړي ځل لپاره هاکان په سِمینار کې ولید، له ځان سره مې وویل: په رښتیا چې وجود کې یې الهي نور شته، له دې نور سره د انسان لاره روښانه کوي او د هر یوه کس زړه لمس کوي.»

فرهاد عاکف، لیکوال او کارګردان

«هاکان منګوچ د یوویشتمې پېړۍ د صوفي فلسفې له مخکښانو څخه دی.»

*سرهات آکپینار، د ګیرنه امریکایي پوهنتون رئیس او مؤسس*

Scanned with CamScanner

# ۱

## هېڅ ملاقات تصادفي نه‌دی

تقدیر انسان نه پرېږدي، شبېه په شبېه له سره لیکل کېږي. داسې شېبې به راځي چې د هغه کار په کولو به بوخت یې چې ویلي دې و هېڅکله به یې نه کوې، داسې څه به زغمې چې ویلي دې و هېڅکله یې نه زغمم. هغه شېبې به خوښوې چې ویلي دې و هېڅکله به یې خوښې نه کړې. یو ناڅاپه به یې پرېږدې او ځې، کله دې چې تصور کاوه هېڅکله تلی نه‌شې، یو وخت وایې چې مړ شوم، خو بیا ژوند کوې.

په هره آزموینه او سفر کې خپل ځان ته نږدې کېږې. ملاقاتونه په ملغلرو بدلېږي. هر ملاقات د بل داستان د آزموینې غوټه‌په‌غوټه اوبدلو ته لار هواروي. یو ناڅاپه په یو ځای او وخت کې خینې راځي او خینې دې له ژونده ځي. کله چې په دې فکر کوو چې د دې ټولو معنا څه ده، خپل ځان په هغه داستان کې پیدا کوو چې له خپل ځان سره په هغه کې غوسه یو. ګورې چې په خپل داستان کې مسافر یې. هر تګلوری په تا ختمېږي او هر څوک چې دربانديې ګران دي ستا د وجود یوه ټوټه ده... یعنې په حقیقت کې په نورو کې د خپل وجود یوې ټوټې ته جذبېږې.

پام دې کېږي چې دا له ملاقاتونو او آزموینو څخه ډکه لاره دې په خدمت کې ده. په دې نړۍ کې پاڼه هم بې دلیله نه رالوېږي.[1] یاد هم تا ته د ویلو لپاره کلمې لري، یوازې بسنه کوي چې زړه دې هوښیار وي او د یو زده‌کوونکي په څېر د زده‌کړې تږی پاتې شي. هېڅکله په دې لاره کې دا په ژبه مه راوړه چې «زه بشپړ شوم»، ځکه د «زه بشپړ شوم» ویل په حقیقت کې د «زه مړ شوم» په معنا ده.

---

[1] د انعام سورت، ۵۹ ام آیت سره هم مضمونه دی: «... هېڅ پاڼه نه رالوېږي، مګر دا چې په هغه باندې خبر دی...»

Scanned with CamScanner

# ۲

«ممکن ټول هغه کس ته وګوري چې ته ورته ګوري، خو هغه څه چې ته یکې وینې بل څوک یې پکې لیدلی نه‌شي. ټول مینبدلی شي، خو تا غونډې مینه نه‌شي کولای. یوازېنی توپیر «ته» یې او هغه څه چې تا ځانګړی کوي، هغه کس چې دربانديې ګران دی، نه‌دی؛ ستا علاقه ده.»

شمس تبریزي

کلونه مخکې یوې پېښې ما ته راوښودل چې تـل د هغـو شـيانو د زده کولـو پـه هکله چې ژوند یې له موږ څخه اخلي او یا یې راکوي، باید ډېر دقت ولرو. زده مې کړل چې هېڅکله به مې زده‌کړې پای ونه مومي. هر ملاقات او هره هغـه تجربـه چې ناڅاپي ښکاري، زما د تقدیر په جوهر به تبدله شي او زه به په داسې حال کې په دې تګلوري کې قدم ږدم چې د هغه ښکلي داسـتان قهرمـان واوسـم چې لـه هغه سره سپېڅلی جوهر ولیکلی شو.

**که اوس اکاډمیک شخص یم او د یوه پوهنځي د چارو سرپرستي په غاړه لـرم، کـه داسې لیکوال یم چې کتابونه یې د نړۍ د ډېرو پلورل کېدونکو کتابونو له ډلې څخـه دي، که میلیونونه کسان په ټولنیزو رسنیو کې زما خبرې تعقیبوي، پـه دې ټولـو کـې د هغـې پېښې برخه ډېره زیاته ده چې کلونه مخکې راته پېښه شوې وه. د هغو مسایلو تر سیوري لاندې چې هغه ورځ مخې ته راغلل د (اوسني زه کېدلو) په لار کې مې ګام کېښود.**

تازه‌کاره او ځوان ویناوال وم، خو د هغه پام پر مټ چې خپلو زده‌کـړو تـه مـې درلوده، په لنډ وخت کې مې په چټکۍ سره وده وکړه. له یوه ښاره بل ښار ته تلـم. په پوهنتونو، غونډو او ښاروالیو کې مې سِمینار وړاندې کاوه.

**په هغه کار میین وم چې کاوه مې؛ ځکه یو څوک چې په دې هڅه کې وي چې د یو بل کس حال ورته ښه کړي، د خپل ځان د حال ښه کولو لپاره هم لاره پیدا کوي. د**

همدې لپاره تل ښښونکی ښوونکی وم. هر څومره به مې چې ښښل، ژوند به بېرته هماغومره ما ته راګرځول.

**انسان څنګه داده شي هغه کار سرته رسوي، چې خوښ يې دی؟**

**که ډېل کار له هېڅ بدیل پرته سرته رسوي، په حقیقت کې د خپلې خوښې وړ کار د سرته رسولو په حال کې دی.**

ډېر ډېر مې خوښېدل چې خپل پوهاوي له نورو سره شریک کړم. له هر چا سره چې په اړیکه کې وم، قطعاً يو څه به مې ترې زده کول او هغه مې بيا نورو ته ویل، دا نه ستایل کېدونکي تجربه وه.

څو کاله مخکې بیا په هماغې تلوسې او البته له هماغه خوند او شوق سره هغه هوټل ته چې هلته مې باید درس ورکړی وای، لاړم. کله چې سالون ته ننوتم او خنداني څېرې مې خپل مخ ته ولیدې، احساس مې وکړ چې له لاسته راوړنو ډکه ورځ به ولرو.

په ټوله کې هغو کسانو چې نوم‌لیکنه کړې وه راغلي وو، داسې کس نه و چې نوم يې لیکلی وي او راغلی نه وي.

ډېر خوشحاله شوم.

لګیا وم حاضرېدم چې پرته له یوې شېبې دمې وینا پیل کړم، چې یوه مېرمن له دې ډلې څخه له خپل ځایه پورته شوه او په ډاډه ګامونو د هغه مېز په لور چې غوښتل مې د هغه تر شا څېرې وکړم، راغله. همداسې مې هغې ته کتل؛ په تلوسې سره په تمه وم چې څه غواړي ووايي.

يې له اجازې يې هغې کتابچې ته چې د مېز پر سر مې ايښې وه، لاس ورېبرته کړ. پرته له دې چې راته وګوري پاڼې يې پرانیستلې، يو کاغذ يې د هغې په منځ کې کېښود او سالون يې پرېښود.

نه يې توضیح راکړه او نه يې وویل چې څوک ده. د سیمینار تر پایه سالون ته

راونه ګرځېدله.

حاضرین هم چې زما سرګردانی ته متوجه شول، ویې موسل، هک پک وم، ځکه هغه په سیمینار کې ګډون د عوامو لپاره نه و، حتی هغې مېرمنې چې سالون یې پرېښود فیس یې ورکړی و، او د سیمینار له پیلېدو نه مخکې یې زما په کتابچه کې یادښت کېښود او لاړه.

نه پوهېدم چې هغه شېبه مې باید څه فکر کړی وای، د دې لپاره چې حاضرین ډېر په تمه پاتې نه‌شي، بې له ځنډه مې سیمینار پیل کړ؛ خو فکر مې مشغول و چې هغه په یادښت کې به څه لیکل شوي وي. د دمې په لومړني وخت کې مې ولوستلی شوه:

«حضرت امیر سلطان[۱] دې خپل حضور ته غواړي.»

هو.

یوازې یوه کرښه.

«حضرت امیر سلطان دې خپل حضور ته غواړي.»

دا څه معنا؟

یعنې باید کوم کار مې کړی وای؟

کېدای شي یوه وړه شوخي به وه، څوک څه پوهېږي...

یا هم کېدای شي د سیمینار د ګډون‌والو له ډلې څخه د کوم یوه معصومانه هیله وه چې امیر سلطان ته یې ځانګړی ارادت درلود او له ما یې غوښتل چې هلته ورشم.

د داسې کس په توګه چې د بورسا اوسېدونکی دی، امیر سلطان مې په بشپړه توګه پېژانده. هغه له ارزښتنمو اولیاوو څخه شمېرل کېده. د هغه خوب په مټ چې په مدینه کې یې لیدلی و، پلی بورسا ته راغی، او د عمر تر پایه همالته پاتې شو او خلکو ته یې علم ورښوده.

---

[۱] د عثماني زمانې مفسر او صوفي و، چې په ۱۳٦۸ زېږدیز کال یې په بورسا کې ژوند کاوه. ـژ.

حضرت امیر سلطان داسې یو څوک دی چې ډېر ارزښت راتـه لـري او څـومره مې چې له وسه پوره وي هڅه کوم ډېر شیان ترې زده کـړم، څـو ځلـې مـې د قـبر زیارت هم ورتـه کـړی. حتـی پـه ډېـرو دوسـتانه مجلسونو کـې د دې پـه هکله چې حضرت امیر سلطان، څه ډول بې له پوښتنې خپل ځان تسلیم کړ او پـه داد یـې ځـان خدای ته وسپاره تر څو له مدینې څخه بورسا ته په دې اورده او له ناآشنایي ډک سفر په لور ګامونه واخلي، ډېرې خبرې مو کړې دي.

لومړی مې ذهن د دې په هکله ډېر بوخت و چې دا یادښت چې ما تـه راکـړل شوی و کومه ځانګړې معنا یې راته لرله؛ خو پرېکـړه مـې وکـړه چې هغـه تـه ډېـر ارزښت ورنه‌کړم.

هر څه چې وي، هر وخت مې چې غوښتي وای د حضرت امیر سلطان مقـبرې ته تلی شوم. په ټوله کې مخکې له دې هم څو ځلې تللی وم. هغـه داسـې څـوک نه و چې ویې نه پېژنم. پر دې اساس اړینه مې ونه ګڼله هغه کوچنی یادښت مـې چې په کتابچه کې اینبودل شوی و، ارزښت ورکړم. وروسته له دې چې کاغذ مـې په جیب کې کیښود دا مسئله مې په بشپړه توګه له یاده وایستله.

**دوه اوونۍ وروسته**

دوه اوونۍ تېرې وې چې د کاري دفتر ټیلیفون ته مې زنګ راغـی. د بورسا لـه محلي ټلویزیونه یـې اړیکـه نیـولې وه. د روژې د میاشـتې لپـاره یـې غوښـتل چـې مېلمه یې شم؛ ما هم په لېوالتیا سره ومنله. د کاري حجم د ډېروالي لـه امله مـې له خپلې کورنۍ سره چې په بورسا کې اوسېدله، نه‌شو کتلی. خوښ وم چې له دې لارې له خپلې کورنۍ سره هم وخت تېرولی شم.

له خپرونې نه یوه ورځ مخکې مې د خپرونې له تنظیموونکي سره اړیکـه ونیولـه تر څو وپوښتم خپرونه چېرته ثبتېږي.

ویې ویل: «د حضرت امیر سلطان د مقبرې په انګړ کې».

Scanned with CamScanner

هک پک شوم. هغه یادښت چې په ورځو ورځو مې په جیب کې ګرځاوه، ذهن ته مې راغی. له ذهنه مې پاک شوی و، ولې دروغ ووایم. اصلاً مې بورسا تـه د تلو فکر په ذهن کې نه و. له یوه سِمیناره به مې بل سِمینار ته منډې وهلې. سره له دې چې کورنی مې ډېره یادېدله، سستي مې کړې وه. اوس ژوند زه پـه خپل لاس د بورسا په لوري بوتلم.

په هغې شیبه کې مې هیڅ نظر نه درلود چې دا پېښې څه معنا لـري، زما ژوند ته به کوم ته بدلون ورکړي او کومې پېښې به راباندې راشي. بیا مې هـم پېښو شوو حادثو ته کومه ځانګړې معنا ورنـه‌کړه. یـوازې فکـر مې وکـړ څه یو عجیب تصادف! زما په نظر یوازې یو ساده تصادف و، مګر بې له دې څه اوسېدای شي؟

د دې مسئلې بل عجیب اړخ دا و؛ د هغې خپرونې مېلمـه چې وم پـه حقیقت کې داسې خپرونـه وه چې پـه ستوډیو کـې ضبط کېدلـه. دا لومړی ځـل و چې پربکړه یې کړې وه چې خپرونه د حضرت امیر سلطان د مقبرې په انګړ کې ضبط کړي، هغه هم زما قسمت شوی و، څومره عجیب تصادف!

سر تر پایه خوندوره خپرونه وه، مفصلې خبرې اترې مو وکړې. بیا یې وغوښتل چې شپېلۍ وغږوم. د ورځې پـه پـای کـې ټـول راضي او خوښ برېښـېدل. پـه هماغې اوونۍ مې د هغې خپرونې ځینې لنډې برخې پـه خپلـو ټـولنیزو رسـنیو کـې خپرې کړې، هیله‌من وم هغه څوک چې یادښت یې راتـه ایښی و، هغـه یـې هـم ووینې او د هغې نښې په لټه کې چې دی، پیدا یې کړي او خوشحاله شي.

کله چې ضبط پای ته ورسېده او ټول لاړل، څو شېبې په مقبره کې پاتې شوم. یوازې کېناستم او په تمه شوم. زړه مې له نه ستایل کېدونکې آرامتیا، د تسلیمېدو احساس او اطمینانه ډک و.

ډېره موده مې په امیر سلطان فکر وکړ. ولې یې خپل هېواد پرېښی و او دلته راغلی و او د خپل سفر په پای کې یې کومې لاسته راوړنې درلودې؟ بې لـه شکه یـوازې پـه دې دلیل چې په بورسا کې ژوند وکړي، وطن یې نه و پرېښی. څوک پوهېږي له کومې

آزمويني تېر شوی و او په دې سفر کې يې څه لاسته راوړي وو او څه يې له لاسه ورکړي وو...

**لومړی ملاقات!**

پام مې شو چې له يوه ساعت څخه ډېر په مقبره کې کېناستلی وم. له روژه ماتي نه وروسته و... کوځې تشې تورې وې.

شاوخوا دومره آرامتيا وه چې د اوبو د بهېدو بهيرمې اورېده، چې زما له ستوني څخه تېرېدلې. غوږونه مې مخکې له دې چې د کورنی غږي ويده شي، کور ته لاړ شم. غوږونه مې مور ته مې زنګ ووهم او ورته ووايم چې راته په تمه شي، چې يو ناڅاپه مې د يوه ځوان غږ واورېده، ته به وايې چې دې غږ مې په زړه باندې منګولې ښخې کړې وې.

له غوسې او کړاوه ډک غږ!

نه کېده چې ځان مې تېر ايستی وای.

تونه خبره يې دا وه: «زه!»

زه

زه

زه

«ته پوهېږې زه څوک يم؟»

«فکر کوې دا مسئله همداسې پرېږدم؟»

«زما يې له تا سره څه کار؟»

« په کوم جرئت دې له ما سره دا کار وکړ؟»

له خولې نه يې د غوسې اور بادېده. ښکاره وه چې زړه يې لکه اور شيندونکې داسې خوټېده. په هيڅ وجه نه آرامېده. هر ځل يې لا په لوړ غږ چيغې وهلې. له هر ځل «زه» ويلو سره يې، ګنې داسې چې تازه خس د خپل وجود اور ته اچوي او د اور لمبې يې لا زياتېدلې.

Scanned with CamScanner

په یوه شبه کې مې غوښتل هغه پیدا کړم او ووایم: «**آرام اوسه. هیله کوم یوازې آرام اوسه. دا «زه» ویل او عصیان کول، ستا د زړه د اور لمبو له زیاتولو پرته بل کار نه کوي.**»

په خواشینۍ سره مې هغه ونه‌شو کتلی چې چېرته ده. احتمالاً چې د ونو تر شا د څوکۍ پر سر ناست و. د کور په لور را روان وم چې د سلګیو آواز مې واورېده. څه یې چې پټ کړل ممکن موبایل یې و، په لوړ آواز یې ژړل. له هغه کبر او خانخاني کوم اثر نه و پاتې چې لږ مخکې یې درلود.

غږ مې وخاره. لکه څرنګه مې چې اټکل کړی و، هغه مې د ونو تر شا د څوکۍ پر سر پیدا کړ.

کله مې چې هغه ولید جرئت مې ونه‌کړ چې نږدې ورشم، ما سره یې څه تړاو درلود؟

هغه ته مې څه ویلی شوای؟

کېدای شي تر دې دمه د آرامتیا لپاره تیاری ونه لري. څه خبر چې کېدای شي لا زیات د غوسې په اور کې وسوځي؟

تر څو چې څوک مرسته ونه غواړي، هغې حل‌لارې ته نه‌شې رسېدلی چې ستونزه یې پرې حل کېږي. خو دا چې هغه مې په دې حال کې پیدا کړی و، آیا دا د دې نښه نه‌ده چې پوره تیاری لري تر څو حل لاره واوري؟

نه پوهېدم.

په داسې حال کې چې فکر مې کاوه په ډېرو شیانو پوهېږم. په هغه لنډه موده کې د هغه تضاد تر منځ چې راګیر وم، ما ته ډېره ستونزمنه وه.

**په پای کې مې پرېکړه وکړه چې له دې څخه ډېر چوپ ونه اوسم، تل به مې په سمینارونو کې ویل چې ډېر فکر کول د عمل کولو لمبه مړه کوي. ذهن له لومو څخه ډک دی. تل بنوېږي، نه غواړي په لاره روان شي، وده وکړي، زده یې کړي او له سختیو سره مخ شي. غوره یې بولي هغه ځای سره یې چې عادت کړی په هماغه ډول پاتې شي. غواړي موجود وضعیت په همدې ډول وساتي. له همدې امله ډېر فرصتونه له**

Scanned with CamScanner

منځه ځي، ډېرې آزموینې او ډېرې معجزې...

له هغه ځوانه مې پوښتنه وکړه: «لایټر لرې؟»

ځرنګه چې ځوان زه ولیدم لالهانده شو، سر یې ټیټ کړ چې خپل مخ پټ کړي. د لاس په شا یې اوښکې پاکې کړې.

په هماغه ډول یې خپل بکس لټاوه، ویې ویل: «لرم یې.»

بې له دې چې ما ته وګوري لایټر یې راواخیست؛ کله یې چې فکر شو چې نه غواړم سګرټ بل کړم، زما مخ ته یې وکتل.

ویې پوښتل: «لکه چې نه غواړې سګرټ بل کړې؟» مخ یې سور سور و، مدام به یې پوزه پورته کشوله.

ومې ویل: «زه سګرټي نه یم.»

نه پوهېده چې څه ووایي، لایټر مې چې درلود لوبې مې ورسره کولې، ویې کتل. بیا یې په خیر زما مخ ته وکتل. فکر یې مشغول و. یا هم کېدای شي دې ته به یې فکر کاوه چې زه هغه ته زیان رسوم که نه.

احتمالاً فکر یې وکړ چې زما له لوري هغه ته ضرر نه رسېږي، ځکه پوښتنه یې وکړه: «نو ولې دې لایټر وغوښت؟»

ومې ویل: «ځکه انسان ډېری وخت هغه څه چې په لاس کې یې لري نه پوهېږي څنګه یې وکاروي. یا یې عقل کار نه کوي او یا د خپلو غوښتنو پر وړاندې ړندېږي. له همدې امله هغه څه چې لاس کې یې لري فکر کوي چې ګټه نه ورته رسوي.»

«پوه نه شوم چې څه مو وویل.»

«د بېلګې په توګه، کله چې انسان لایټر په لاس کې لري، خو بیا هم په تیارو کې تګ ته ادامه ورکوي یا کله چې لوی او له برکته ډک زړه لري چې ښښنه کولای شي، خو بیا هم په شخړو او دعوو کې پاتې کېږي او خپل ځان خوروي، کله چې د بې‌نهایته مینې کولو وس لري، تل هڅه کوي او زیار باسي چې یو ځانګړی څوک له هغه سره مینه وکړي. پر دې سربېره ټینګار کوي هغه څوک چې ده ته پاکلی دی له ده سره مینه

وکړي، ته هم لایتچر لري، خو تراوسه په تیاره کې ولاړ یې. په هر حال، همدومره مې کولای شو چې درته ووایم؛ هیله ده چې په کار دې شي. شپه مو په خیر.»

د ویلو لپاره مې نور څه نه درلودل. زموږ له دې ملاقاته یې وکولای شول، همدومره برخه واخلي، مګر بل کوم کار مې ورته کولای شوای، بې له دې چې آرام یې کړم تر څو له خپلې غوسې سره مخامخ شي؟ ده هم هغه پوهه چې له یاده مې وتلې وه، را په یاد یې کړه.

ما هم په تېرو څو کلونو کې دومره سخت کار کاوه، هېر کړي مې وو چې آرام وکړم، خپل ځان ته غوږ ونیسم، له کورنۍ او هغو کسانو سره وخت تېر کړم چې رابانديې ګران دي او وروسته هغه بار چې د دې ټولو له نه شتون څخه منځته راتـه په اوږو یوسم. په هغه شپه کې مې دا فکر ذهن تـه راغی چې پـه مسافرۍ لاړ شم. سر سپارلی او د امیر سلطان په داد سفر مې په پرله‌پسې توګه ذهن ته راته. سر تر پایه ناپېژانده او نامعلوم دوران...

لږ لرې تللی وم چې بیا مې د هغه خوان آواز واورېده.

په غوسه یې ځواب راکړ: «دا یعنې څه؟ تا ځان ته څه فکر کړی، ته څوک یې؟»

راوګرځېدم او ورته ومې کتل. مخ یې سور بخوني برېښېده، ښکاره وه چې مرستې ته اړتیا لري، خو کبر او غرور یې له دردونو څخه ډېر و.

هماغسې چې آواز یې پورته کړ، ویې ویل: «ته څوک یې، کشیش یې؟ راغلې او ما ته دې د ژوند درس راکړ. اوس لاړ شه او په غرور دې خپلو خپلوانو تـه بیان کړه چې له یو چا سره دې مرسته وکړه. چا له تا څخه مرستـه وغوښتنه؟ زه عـاجز یم؟ ته په هغه حد کې نه یې چې وغواړې زما په مسایلو کې لاسوهنه وکـړې. بې له دې چې وشرمېږې زما ټیلیفوني خبرو ته دې غـوږ نیـولی و؟ نیت دې څـه دی؟ فرصت لټونه؟ ودې لیده چې یو څوک لګیا دی ژاړي، نو ستا لپاره مناسب فرصت دی، د نصیحت کولو لپاره، کنه؟ که یو بېچاره سړی دادګیرنې ته اړتیا ولري، بایـد په سر یې هوار شي.»

Scanned with CamScanner

په موسکا سره مې ورتـه وویـل: «مبارکي درتـه وایـم پـه یـو ځل ملاقـات دې زه پېژندلی یم. کاش چې په یو ځل ملاقات دې خپل ځان هم پېژندلی وای. تل د نورو پر وړاندې غوسه کېږې او چیغې وهې، خو متوجه نه یې چې له دې سره یوازې خپل ځان تر پښو لاندې کوې. وروسته بیا حیران پاتې کېږې چې ولې مې وجود دومره خوږېږي. زما په آند د یوه فرصت غوښتونکي لپاره دومره انـرژي مـه مصرفـوه، حتـی د چیغـو وهلو ارزښت نه لري.»

څو ګامـه نـور هـم لـرې شـوی وم چې بیـا هماغسـې لـه غوسـې ډکـه ږغ آواز راباندې وشو. البته دا ځل یې راپسې منډې کړې او زما مټـه یـې ونیولـه. فکـر مـې کاوه چې غواړي بحث اورد کړي خو ومې لیدل چې یوازې خپل لاپتر یې وغوښت.

ومې ویل: «ښښنه غواړم؛ پام مې نه و چې زما په لاس کې پاتې دی.»

ویې ویل: «زما په اور باندې خپله تیاره روښانه کولای نه‌شې.» دا ځـل زه ناراحتـه شوی وم. د هغه په دوام یې راته وویل «غواړې زما له کمزوری څخه څواک واخلې.»

بې اختیاره مې وویل: «نه! داسې نیست نه‌شم درلودلی.»

ویې ویل: «دا بد کار هم نه‌دی، اندېښنه مه کوه.» دا ځـل یـې څېـره آرامـه او پوهه ښکارېده.

دوام یې ورکړ: «د انسان حال انسان ښه کولای شي. بیا خلې انسان د انسان پـه وسیله ازمویل کېږي. کېدای شي د دې لپاره چې ته په حقه وې ستا له لاسه په غوسه شوم.»

ومې ویل: «اوس دې فکر شو چې د څومره لوی اور څښتن یې؟ ستا لـه تیـارو سره نور کار نه لرم، شپه مو په خیر.»

ویې ویل: «شپه مو په خیر.» لایټر یې راواخیست او په جیب کې یې کېښود.

«ډِنیز!»

«څه؟»

«نوم مې ډِنیز دی.»

Scanned with CamScanner

لاس یې زما په لور را اوږد کړی و، تمه مې نه درلوده. خو یو بل ته مو لاس ورکړ.

«هاکان.»

«یوه اوونۍ مخکې له خپلې کوژدنې بېل شوم. له ځان سره مې ژمنه کړې وه، چې زنګ به نه ورته وهم، خو ومې واهه. هر څه مې چې په خوله راتلل ورته ومې ویل. کېدای چې په دې به نه یم برلاسی شوی چې له بېلېدو سره یې عادت شم. په دې ورخو کې ډېر خواشینی یم. په هر څه چې پوهېدم نور مې نه په کارېږي.»

«د هغې ژمنې لپاره چې له ځان سره دې کړې وه، ډېر په غوسه یې. په قهر یې چې هغې ته دې زنګ وواهه، دا ټولې خبرې، هغه ډېنیز ته وې چې ویې نه شو کولای په خپله ژمنه ودرېږي، پر دې اساس له مقابل لوري سره دې تړاو نه لري.»

«مینه دوه اړخیزه مسئله ده. یعنې داسې مسئله نه‌ده چې له مقابل لوري سره تړاو ونه‌لري.»

«نه. مینه له یوه کس سره تړاو لري، له صاحب سره یې تړاو لري. اوس چې له هر چا او هر څه سره اوسي. هېڅوک زموږ د مینې مسوول نه‌دي، له همدې امله څوک نه‌شو اړ کولای چې د بل د مینې تاوان ورکړي. زما په نظر له کوژدنې سره دې له جنجاله تېر شه، مینه په تا کې ده نه هغې کې.»

«مګر داسې څه ممکن دي؟ هغه وخت د اړیکې په نوم کوم څه شتون نه‌شي درلودلای.»

«خو اړیکه د جګړې ډګر نه‌دی. داسې قانون نشته چې ووایي هر څوک دې خپله وسله راوباسي او د هر چا مینه چې لویه وي بریالی دی او هغه څوک چې لږه مینه لري، باید تاوان ورکړي. په داسې حال کې چې هر څوک چې غښتلې ستراتیژي یا وسله ولري، ګټونکی دی. تل داسې څوک شته چې مبارزه کوي او پر وړاندې یې داسې څوک شته چې نمک‌حرام او احسان هېروونکی دی. یا هم یو نارسیس... خو په جګړه کې فاتح نشته، څوک چې ظاهراً هم ګټونکی شي، په حقیقت کې یې بایللې ده.»

«فکر کوم سمې خبرې کوې، او دا زما حال نه ښه کوي. هغه رنځ چې لرم نه یې یې کموي. له چا سره مې چې مینه درلوده له لاسه مې ورکړه. اوس هم نه

پوهېږم بې له هغې څه وکړم.»

څومره معصوم او سترې ښکارېده. په دې وخت کې یې ځان په اور او اوبو کې واهه تر څو د ګرانښت وړ وګرځي. ګنې که پلار یې هغه په غیږ کې کلک ونیسي، حال به یې ښه شي.

ومې ویل: «اندېښنه مه کوه. هغه دې له لاسه نه‌ده ورکړې.»

یوه شېبه یې څېره تازه شوه.

ویې پوښتل: «څنګه؟ داسې نه چې کومه لاره درته معلومه ده چې هغه راوګرځوم؟»

«نه داسې لاره نه‌ده راته معلومه. هغه اصلاً له تا نه‌ده تېره شوې چې وغواړم راویې ګرځوم.»

داسې یې راته کتل لکه چې نه وي پوه شوی چې څه وایم.

**د هارون الرشید او مجنون داستان**

ومې ویل: «پوهېږې؟ کله چې هارون الرشید د لیلی او مجنون له مینې خبر شو، هغوی یې خپلې مانۍ ته ور وغوښتل. ګوري چې لیلی هغومره چې مجنون یې صفت کړی و، ښکلې نه‌ده. حتی نه‌شو ویلی چې ښکلې ده. بیا یې مجنون ته مخ کړ او ویې ویل: «ته په دې نجلۍ مېین شوی یې؟» مجنون له زړه څخه آه وکړه او ویې ویل: «**آه، تاسې یو ځل زما له سترګو هغې ته وګورئ.**» یعنې هغه څه چې لیلی ښکلې کوي هېڅ شی بې له هغې مینې څخه چې له هغې سره کېږي، نه‌ده. څه شی چې هغه ښکلې کوي، د مجنون مینه ده.

وِیسَل وایي: «**که زما مینه نه وي، ښایست دې پېنځه ریاله هم نه ارزي. که د زړه مانۍ مې نه وي، داسې ځای نه‌شې پیدا کولای چې ښه وخت پکې تېر کړې.**» ستا په هکله هم همدا صدق کوي. نه یې شې لیدلی؟ **لګیا یې ځان کموې، د هغو معناګانو له امله چې هغې ته یې ورکوې.** په داسې حال کې چې دا ټولې معناوې تا هغې ته

ورکړې. پر دې اساس تـا هغـه لـه لاسـه نـه‌ده ورکـړې. د داسـې ګرانښـت وړتيـا تراوسه ستا په زړه کې شته ده.»

سترګې یې له اوښکو ډکې شوې او ویې ویل: «مه څه... کېږي چې لږ څـه دلته کېنو؟» هغې څوکۍ ته یې اشاره وکړه چې له هغې څخه پورته شوی و.

ومې ویل: «ډېر وخت نه لرم، راته په تمه دي.»

ویې ویل: «البته، یوازې یو دوه دقیقې بسنه کوي.»

وګرځېدو او په څوکۍ کېناستو. احساس مې کاوه چې په ذهن کـې یـې ډېـرې پوښتنې دي، خو نه پـوهېږي چـې لـه کـوم ځایـه یـې پیـل کـړي. سربېـره پـردې پوهېده چې ډېر وخت هم نه لرو. مضطرب و.

غوښتل مې غلی یې کړم. لـه همـدې املـه مـې لـه جیبـه یـو ګـېډۍ کاغذونـه راوایستل، د مولانا او شمس لیکونه او جملې مې پکې په نښه کړې وې...

**یوه جمله مې ورته ولوستله: «هر هغه شي ته چې ګورې، کوم شي تـه چـې تـه ګورې، خو هغه څه چې ته پکې نه‌شې لیدلی، دوی یې همویني. او ټول کېدای شي مېین شي، خو ستا په خبر مینه نه شي کولای، یوازینی توپیر ته یې. څه چې ستا او هغه څوک چې مینه ورسره لرې تر منځ توپیر پیدا کوي، ستا مینه ده.»**

«ډېنیزه هیله کوم د دې په هکله ښه فکر وکړه، کـه د مینـې سرچینـه دې مقابـل لوری وګڼې، د هغه مریی به شې. د مینې سرچینه ته یې. خالق هغه سرچینـه تـا تـه دربښلې ده. **کله چې د آزاد انسان په حیث نړۍ ته راغلی یې، ولې د بل چا مریی شې؟»**

بیا یې په هماغه کبر او غرور وویل: «زه د چا مریی کېږم نه. ته پـوهېږې چې زه څوک یم.»

ومې ویل: «زما په آند ته خپله هم نه پوهېږې چې څـوک یـې، زه مـې د خپـل ځان پر وړاندې یوازې یو مریی وینم.»

هغه وخت مې پام شو؛ لاسونه یې موټی کړل، داسې ښـکارېده چې یـو کلک

سوک به مې ووهي. احساس مې وکړ په باطني زخم باندې مې لاس ورته وواهـه. ښکارېده چې ډېر مې ودرداوه، طبیعتاً هغه به هم غوښتل چې ما و څوروي. خو افسوس چې فکر يې کاوه چې بې سوکانو څخه بله وسله نه لري.

لیدلی مې شوای، د دې لپاره چې ما په سوک ونه وهي، شونډې به يې سره کلکې کړې، ګنې چې نوکان يې د فشار له شدته د لاس په ورغوي کې دننه کړي وي.

په سلګیو سلګیو يې ژړا پیل کړه، مخ يې پـه دواړو لاسـونو پټ کـړ او ژړا يـې پیل کړه.

د ډاډګېرنه لپاره مې نه د هغه لاس ونیـوه او نـه مـې تـرې وغوښـتل چـې غلـی شي. اجازه مې ورکړه تر هر وخته پورې چې غـواړي ودې ژاړي او پـه تمـه شـوم.
**څکه دا ځل له خپل ځانه د غوسې لپاره نه، بلکه د دې لپاره چې ټولو شیانو تـه متوجـه شوی و، ژړل يې.**

کله يې چې ځان ټولاوه، ویې ویل: «ښښنه غواړم.» پورته شـو او بیـک يـې پـه شا کړ، بې له دې چې سر پورته کـړي، ویې ویل: «ډېره مننه. هر څه چې وي نـور به یو بل ونه وینو. تاسې ما نه پېژنئ او زه هم تاسې. یوازې د یو بل نوم‌ونه مو زده دي. او همداسې غوره ده. بل ډول ملاقات و. دا نو یو تصادفي ملاقات دی.»

ډېر شرمېده چې د داسې چا پر وړاندې چې هـېڅ يـې نـه پېژني، کمـزوری او خواشینی ښکارېده چې غوښتل يې وواييي نه غـواړي د عمـر تـر پایـه مـې ووینـي، حتی د تګ پر وخت يې له هماغه کبر او غرور سره هڅه کوله خپل ژوبل شـوی د نفس عزت وژغوري.

**هغه ته مې په ورین تندي ځواب ورکړ او ومې ویـل: «هـر ډول چـې آرامـه یـې. هماغسې چې غواړې، کېږي. یوازې هېڅ ملاقات تصادفي نه‌دی. زما په نظر ته هم دا مه هېروه، ممکنه ده؟»**

# ۳

هر څه خپل مناسب وخت ته په تمه دي
نه ګل له خپل ټاکلي وخته مخکې غوړېږي
او نه لمر له وخته مخکې راخېژي.
مولانا

## نهه (۹) میاشتې وروسته

د ژوند خورا خونوري شيبې مې تېرولې. د خپلو خوبونو په تګلوري کې کلک او په ډاډ مخکې تلم، حتی ځينې وخت به مې له تصوروونو څخه غوره او لا له بري ډکې پايلې ترلاسه کولې.

صوفيزم له کوچنيوالي څخه په خورا ناهيلو وختونو کې راته هيله، په تيارو کې راته روښنايي او په هغو وختونو کې چې د يوازېتوب احساس به مې کاوه، د يو ملګري په ډول راته بدليده.

اوس د هماغو هملارو په تګلوري کې وم چې له هغوی سره يوځای کېدای شم، هماغه خلک چې زړونو يې همدا تعاليم غوښتل. ورځ په ورځ زموږ شمېر زياتېده او په نړۍ کې خپرېده.

په تېرو نهو (۹) مياشتو کې مې د ټولګيو شمېر ډېر شو، سمينارونه مې ډېر خلاصه شول، په نه ختمېدونکو سفرونو مې له يوه ښاره بل ښار ته سربېره، خارجي سفرونه هم ور زيات شول. د مينهوالو او مراجعينو شمېر هم ډېر شوی و. د بد حس د درلودلو لپاره مې هېڅ کومه پلمه نهشوای پيدا کولای. د ژوند ټولې چارې مې د ښه کېدو په لور رواني وې. حتی يو څه وخت کېده چې د کتاب د ليکلو فکر مې هم په ذهن کې و. د دې لپاره چې افکار مې درک او حس کړای

شي شپه او ورځ مې مطالعه کوله. څېړنې مې تحليل کولې او له ښوونکو سره مې غونډې وکړې. ځينې وخت به مې حتی چانس نه ترلاسه کاوه چې ډوډۍ وخورم.

**فکر مې نه و، خو له باطنه په شړېدو وم.**

سربېره پر دې، دا چې نه پوهېدم چې دا شړېدل او ستړيا به څه شی په ما کې رامنځته کړي. يو ډول تلوسې مې په ټول بدن کې ريښې غځولې وې. **ته به وايې چې که دغې دروازې او هغې دروازې ته ونه درېږم او ستړې نه‌شم او يا کومه بريا ترلاسه نه کړم، نو خورا لويه هيله به مې له لاسونو څخه ووځي.**

په داسې حال کې چې په خپل هر ټولګي کې به مې د وخت د مفهوم په اړه خبرې کولې او ويل مې: «هر څومره چې ببړه وکړې، هماغومره ناوخته رسېږې.» **او ويل مې چې د همدې لپاره شيطان د ببړې په کارونو کې ونډه اخلي. بېړه ګمراه کوونکې ده. يو دام دی. هر څه خپل ټاکلی وخت لري. ښه شيان بايد سکوت شي او راورسېږي. د انساني کمال په تګلورې کې هم همدا «بلوغ ته رسېدل» شته. «دم» يعنې پوهه. هر انسان چې سکوت کړی وي، يعنې هم ښښونکی دی او هم ګټور. بې فکره منډې، دوامدارې هڅې د دې لپاره چې له يوه ځايه بل ځای ته ورسېږو او يا ببړه د دې او هغه کار په کولو کې، بې له قطب‌ښودونکي له بې‌لارې کولو نور څه کولای شي؟ که چا غوښتل هر کار وکړي، په اطمينان سره چې يو کار يې هم سم نه شوای کولای. استادي له زيار ايستلو سره مستقيمه اړيکه لري. د دې لپاره چې يو کار په ښه توګه وشي بايد زيار ورته وايستل شي او وخت ورکړي. ببړه نور څه شی دی؟**

کله کله به مې دا حس کاوه چې بايد ورو شم، يو غږ به مې له زړه څخه ويل: **«هر څه خپل ټاکلی وخت لري.»** فکر مې کاوه چې د خپل لومړي کتاب د ليکلو لپاره بايد دومره ببړه ونه کړم. دې ته به مې فکر کاوه چې خپله پوهه او معلومات بايد کبړدم چې سکوت وکړي.

Scanned with CamScanner

## له استاد سره ملاقات

یوه شپه کله چې له خپل دفتره بهر راووتم، ښوونکي ته پیاده ورغلم. هر کله مې چې فکر ګډوډوي، خپل ځان ناآرامه احساس کړم، په دې فکر کې شم چې ښايي یو کار ناسم ترسره کړم، د هغه د کور دروازې ته ورځم او ډېرې وخت هغه مخکې له مخکې راته په تمه وي. زما حالت حس کولای شي لکه چې زما د زړه آواز یې اورېده.

کله به یې چې دروازه خلاصوله، ویل به یې: «ته یې هاکانه؟»

ومې ویل: «هو، زه یم استاده. اړتیا مې ونه لیده چې خبر درکړم. تاسو تل پوهېږئ چې څه وخت ستاسو خوا ته راځم.»

ویې ویل: «پوهېږم زویه... پوهېږم.» ګردې نازکې عینکې یې په سترګو وې او خپله ږیره یې په پام سره ږمنځ کړې وه او په خوږه موسکا یې زما هرکلی وکړ. ښکارېده چې د شپې دغه وخت هم مطالعه کوي. ویې ویل: «وختي ستا په تمه وم، د دې په اړه مې فکر کاوه چې دا هلک څه ببړه لري چې حتی له ما سره په لیدو کې هم ناوخته کوي.»

غوښتل مې چې ووایم «استاد زما په درد حتماً پوهېږي.»، خو ومې نه ویل. ځکه له ځانه په غوسه وم.

ما چې درس ورکاوه «هر څه خپل ټاکلی وخت لري» څنګه کېدای شي چې خپله په دې لومه کې راګیر شم؟»

یو ځای کاري خونې ته لاړو، چې درې لرګیني کتابتوني دېوالونه یې له کتابونو ډک و.

د بخارۍ پر سر د زیرفون دم کړي چای بوی په ټوله خونه کې لګېده. کتابونه په منظم ډول په الماری کې ایښودل شوي وو. د استاد د کار مېز ګډوډ و، خو ته به وایې چې دا شیان په همدې حالت کې خوښ دي. کله به مې چې د هغې

غالی پر سر چې په خونه کې سر تر پایه غوړېدلې وه، پښه ایښوده، فکر مې کاوه چې ذهن مې پاکېږي. په هر ځای کې چې هماغه ډول لویه او لاسي غالی وینم نو د استاد کور مې راپه یادېږي. لکه د زیرفون د دم شوي چای بوی...

د زیرفون چای زما لپاره لکه وصال داسې دی.

وصال هغه چا ته چې اړتیا ورته لرم.

د ناروغۍ په وخت کې هغه مور ده، چې تر سهاره پورې مې په سر ناسته وي، کله مې چې ذهن ګډوډېږي استاد مې په مینه کې مې یار دی، په لاره کې مې هملاری دی.

د پیوستون یو د نه ستایلو وړ حس، نژدې‌والی، صمیمیت، آرامي او اطمینان د زیرفون د چای بوی په ما کې رامنځته کوي. یو ځای مو د چای یوه پیاله وڅښله، یو څو شېبې مو هېڅ خبرې ونه کړې. سکوت هم په هغو شېبو کې ډېر زړه راښکونکی و.

له ما یې وپوښتل: «ستړې یې؟» لږ ورو مې وویل: «همداسې فکر کوم استاده. ډېر لږ کار کوم، د کتاب د لیکلو مفکوره په ذهن کې لرم، خو نه پوهېږم چې څنګه یې په ښه او ګټوره توګه په کرښو واړوم.»

«باید دومره ژر کتاب ولیکې؟»

«همداسې فکر کوم استاده. انسانان له ما نه د کتاب غوښتنه لري. مراجعین مې تل زما د کتاب په اړه پوښتي. سربېره پر دې، ډېری خلک شته چې د ناوړه مالي حالت او یا په نورو ښارونو کې د ژوند کولو له امله په سِمینارونو کې ونډه نه‌شي اخیستلی. ډېر مې زړه غواړي چې د هغوی پوهه هم ډېره کړم. دا کتاب باید ولیکم، خو نه غواړم بې‌دقته واوسم، او کمزوری متن ولري.»

استاد له زړه یوه آه وکړه او ویې ویل: «آه زما بچیه، هغه لکه چې ته نه وې، چې د «سکوت کولو» خبرې دې کولې. پربېږده چې دا مفکورې هم سکوت

وکړي، بېړه مه کوه. په خورا غوره وخت کې او د خیر په ممکن حالت کې به دا کتاب هم ولیکل شي.»

«خو دا به زما لپاره لومړی کتاب وي، مخکې له دې مې د کتاب د لیکلو تجربه نه درلوده، د همدې لپاره باید ډېره هڅه وکړم.»

«بېړه مه کوه، مخکې مې یو داستان درته ویلی و، درياد يې کړه. يو زده‌کوونکی له خپل ښوونکي پوښتنه کوي: زه د دې لپاره چې ستاسو په څېر شم باید څو کاله کوښښ وکړم؟ استاد فکر وکړ او بیا یې وویل: "لس کاله به بس وي." خو زده‌کوونکی غواړي دا وخت راکم کړي. وایي: "استاده، که زه ډېر کوښښ وکړم بنايي چې ډېر ژر یې وکړم؟ که ډېر کوښښ وکړم څو کاله به ونیسي چې ستاسو په څېر شم؟" استاد بیا هم فکر کوي او په ډېرې آرامۍ سره وایي: "که داسې وي پينځه‌لس (۱۵) کاله." زده‌کوونکی حیرانه شو او بیا یې وویل:" که د لېونیانو په څېر کوښښ وکړم بیا څو کاله وخت نیسي؟" ښوونکی خپل سر خوځوي او ځواب ورکوي: "حداقل پينځه‌ويشت (۲۵) کاله وخت نیسي چې ما غوندې شې." زويه! دا کارونه داسې دي. بېړه دې په یوه کار کې له استادی لېرې کوي، بېړه مه کوه. ثابت قدمه اوسه او (دم وباسه) چې استاد شې. بیا ولیکه.»

په حقیقت کې هغه کیسه وه چې مخکې مې څو ځلي اورېدلی وه. خو پوهېدل بس نه وو. باید بیا غوږ ورته ونیسم او را په یاد یې کړم. ومې ویل: «تاسو رښتیا وایئ، خپل ځان بېځایه خوروم.»

«له بلې خوا هم د ټولو د درد لپاره د درمان کېدو لپاره هڅه شته.»

«ظاهراً همداسې ده استاده. نه غواړم څوک بې‌ځوابه وګرځوم. غواړم تر هغه ځایه چې کولای شم، د ټولو لپاره ګټور اوسم.»

**«هاګانه، ته د کوم کس په تقدیر کې لاسوهنه نه‌شې کولای. هغه څوک چې باید تش لاس ونه ګرځي، نه ګرځي. په حقیقت کې څوک یې چې تیاری نه لري له دروازې نه ننوځي. کائنات عادل دي. یوازې ته نه یې چې تدریس کوې او نه د هغه چا مسوول**

Scanned with CamScanner

**يې چې پوهه نه ترلاسه کوي. يوازينی شی چې ته يې مسووليت لرې دا دی چې خپل کار په سمه توګه وکړئ.»**

هغه په حقه و.

يوه شېبه نه پوهېدم چې بايد څه ووايم.

بې له دې چې وغواړم خپل لاس د چای پيالې ته ور اوږد کړم او يو غړپ چای مې وڅښه. کله مې چې پياله په خپل ځای کېښودله، لاس مې وربېردېده او لړ چای د استاد په کاري مېز چپه شو. کله مې چې فکر کاوه په څه شي باندې د استاد مېز وچولی شم، جېب ته مې لاس کړ تر څو کاغذي دستمال پيدا کړم.

د يادښت يوه ورقه مې تر لاسه شوه؛ خلاصه مې کړه چې وګورم څه دي:

**«حضرت امير سلطان تاسو ته په تمه دی.»**

له يوې ترخې موسکا سره مې سر وخوځاوه.

استاد مې وويل: «ووايه، ووايه چېرته دې خپل خوبونه بايللي، چېرته دې خپل باور له لاسه ورکړی؟»

هغه شېبه لږ پاتې و چې وژاړم.

البته د سترېيا خبره نه وه. په زړه کې مې له لاسه ورکړي خوبونه پراته وو. هغه بې باوري چې په مياشتو مياشتو مې ورته پام نه و. حتی بېځايه توقع... ښايي د دې لپاره چې له فکر کولو لرې واوسم، ځان مې په منډو سترې کاوه. د دې لپاره چې په ياد مې نه‌شي، په بېلابېلو شيانو مې ځان بوخت کاوه او پام مې ورته کاوه.

اوس دغو ټولو پېښو ته متوجه شوی يم، زما د زړه باطني ماتوالی.

ومې ويل: «استاده اشتباه مې وکړه. له ځان سره مې وويل چې يوازې يو يادښت دی، کېدای شي معنا هم ونه لري. ټولو نښو ته مې په ذهن کې بېځايه معنا ورکړه. **په داسې حال کې چې هېڅ شی هم تصادفي نه‌دي، هېڅ ملاقات، هر څه حتی يوه پاڼه هم د يوې موخې لپاره رالوېږي. باد په هماغې شېبه کې تصادفي پاڼه نه**

ښوروي. استاد تاسو په جریان کې یاست چې د دې علم د لارښوونو او د خپلې بوهې په مټ تل زیار باسم ډېر په دقت او اطمینان هر شي ته وګورم.

هغه څه چې پر موږ باندې راځي او حتی که نه راځي په حقیقت کې د کائناتو ژبه ده، تل هغو تجربو ته ګورم چې لرم یې یا یې نه یې لرم، تر څو واورم او پوه شم چې کائنات د څه شي په هڅه کې دي چې غواړي ما ته یې ووایي. مخکې له دې مې دې یادښت ته ارزښت نه و ورکړی. بیا بې له دې چې پلان ولرم بورسا ته وبلل شوم. ځان ته مې وایم "آه هاکانه، تا خو نیت کړی و چې د ژوند پیغامونه دې لاسته راوړی شي او ښه زده‌کوونکی هم یې، څنګه دا له پامه غورځوې." په لاره شوم او بورسا ته لاړم. وروسته له دې چې کار خلاص شو، یوازې د امیر سلطان په مقبره کې پاتې شوم. اوږد مهال هلته کېناستم. سترګې مې پټې کړې. دعا مې وکړه. بیا یو ځوان سره مخ شوم. ومې غوښتل له هغه سره مرسته وکړم، ناآرامه ښکارېده، غوره یې دا وي چې ووایم له ځانه خپه و او له ځان سره په جنګ و. لومړی مو لږ جنجال وکړ. بیا کېناستم او له یو بل مو سره وپېژندل. میاشتې مخکې وو... بیا...»

«بیا ښکاره ده بچیه. دې تصادف هیڅ معنا درته نه درلوده... ولې هغه یادښت راغی، که نه و راغلی څه به شوي وای؟ حضرت امیر سلطان تا ته څه در نه‌کړل، که نه یې غوښتل تا ته څه درکړي، هغه یادښت بیا څه معنا لري؟ په خوب کې دې هم نه‌دي لیدلي، ته یې له یوې لارې نه یې راګرځولی تر څو په بلې نوې لار باندې لاړ شې، هغه ځوان همالته پاتې شو، هیڅ معنا یې نه درلوده، که خبرې مو نه وای کړې څه به پېښېدل، ښه خبرې مو وکړې او څه وشول؟ هیڅ څه... حال دا چې ته د صوفیزم زده‌کوونکی یې که نه؟ هیڅ شی هم ستا په ژوند کې نه‌شي کېدای، هماغومره بې‌معنا او تش واوسي.»

«استاده استغفرالله، دا خبره یعنې څه؟»

«همداسې ده زویه... په غوسه یې چې ولې دې دا پېښې په کار نه شوې.

Scanned with CamScanner

حتی داسې شېبې راغلې چې د کائناتو په نظم بې اعتماده شوې، که نه؟ ځان نه‌شې بښلی، که حتی یو ځل دې هم دا خبرې په ذهن کې گرځېدلې وي. د دې لپاره له دې ځایه هغه ځای ته منډې وهې. ځکه کله چې ودرېږې په ځان باندې به غوسه شې او د دې ټولو پېښو لپاره به ځان ونه بښې.»

هغه شېبه مې ستونی بند شوی و. حتی د خولې اوبه مې نه‌شوای تېرولی. د فیلسوف یوه خبره را په یاد شوه: «له بوختیا څخه غوره درملنه نشته.» ما هم د دې لپاره چې له هغه شي سره چې په ذهن کې مې گرځېدل مخامخ نه‌شم، بې له دې چې خپل ځان ته فکر وکړم ځان مې بوخت کړی و.

ومې ویل: «استاده! تاسې په حقه یاست. له دې وروسته به څه کېږي؟»

له مهربانۍ څخه په ډک آواز یې وویل: «زویه! اندېښنه کوه. هر څه خپل ټاکلی وخت لري، هر څه لومړی سکوت کوي چې په خپل وخت کې پېښ شي. نه گل له ټاکلي وخته مخکې غوړېږي او نه لمر له وخته مخکې راخېژي.

په اطمینان سره چې هغه د یادښت پاڼه بې څه درته نه‌ده راغلې، د امیر سلطان بلنه ستا لپاره بېځایه نه‌شي اوسېدای او حتماً هغه ملاقات هم چې هلته پېښ شوی ناڅاپي نه‌ده، خو نه‌شوای کولای پوه شو چې په کوم تصادف کې زموږ لپاره آزموینه شته ده.

دعا کولای شې چې دې بلوغ ته ورسېږې، حساس اوسېدلی شې، سر تر پایه غوږ اوسې، هڅه کولای شې چې د ژوند پیغامونه ولولې.

نه‌شو پوهېدای چې څه وخت او د کوم تصادف په مټ به وآزمویل شو، کېدای شي له هغه سره به مخ شوي هم یو، خو فکر به مو نه وي شوی، کېدای شي اصلاً د امیر سلطان نوم به دې نور په ژوند کې وانه‌وري، کېدای شي هغه څوک چې تا ته یې یادښت درکړی هېڅکله ونه وینې، کېدای شي بیا مو لاره یوه نه‌شي، له هغه ځوان سره چې بورسا کې دې پېژندلی و.

صرف د دې لپاره چې تا ونه‌شوای کولای چې د پېښو په معنا پوه شې، زویه! هېڅ شی هم خپل مفهوم له لاسه نه ورکوي. ښه مه کوه، یوازې پېښو ته ګوره او په دې هڅه کې اوسه چې رامنځته شوې پېښې ولولې.

له یوې خپه موسکا سره مې وویل: «استاده! لکه چې زما د تلو وخت په سفر رانږدې شوی ده.»

ویې ویل: «فکر کوم» بله پیاله یې راته ډکه کړه.

ویې ویل: «ښه زویه! اوس چې موضوع لاره ده، لږ به د لارې د قواعدو په هکله وغږېږو.» بیا له ما سره د صوفیانو د سفر د پینځو قوانینو په هکله وغږېده.

Scanned with CamScanner

# ۴

**د صوفیانو د سفر پينځه قوانين**

**«په هر سفر چې ځې، داسې لارې شته چې په هغو کې په خپل روح او زړه باندې ګام پورته کوې...»**

استاد وویل: «ګوره زويه، غوارې چې هر سفر اووه ورځنی وي، اووه میاشتنی یا داسې سفر چې د یوه عمر اوږدوالي هغومره وي... کوم توپير نه کوي. د صوفيانو په باور هر سفر پایې، قواعد او فورمولونه لري.»

له ما یې هم وغوښتل قوانين په دوامداره توګه یاد کړم او د لارې په اوږدو کې یې له ذهنه لرې نه کړم.

ومې ویل: «استاده، که خوښه دې وي بیا به پرې کتنه وکړم.»

په خپل خوږ او نرم آواز یې وویل: «هرومرو» او بیا یې خبرې شروع کړې:

**۱. په دې لویه او بې‌عیبه پیښه کې هیڅ شی هم تصادفي نه‌دي. له هر انسان سره مخ کېږو، موږ ته یو څه را زده کوي. له هر څه مخکې باید په دې پوه شې.**

**۲. که په صاف نیت، درک کولو او د زده کولو په موخه په دې لار ګام پورته کړې او خپل ځان له کبر او غروره خلاص کړې، له هغو انسانانو سره به مخ شې چې هغه څه به تا ته در زده کړي چې ته یې غواړې.**

**۳. په هر سفر کې سختي شته ده. برعکس ممکنه نه‌ده. په داسې حال کې چې سختی او خندونه چې په لاره کې دې رازرغونېږي، نه ستا د ماتې لپاره، بلکې ستا د روزلو، ستا د کمال ته رسېدو او ستا د بالغېدو لپاره دي.**

**۴. هر انسان د یوې ځانګړې موخې لپاره دې نړۍ ته راځي او هر څوک ژوند کوي، تر څو خپلې موخې ته د عمل جامه ور واغوندي. له همدې امله هر څوک باید وکولای شي هغه نښې چې هغه خپلې موخې ته رسوي وګوري او ویې څاري،**

Scanned with CamScanner

د ژوند د پیغامونو[۱] د لوستلو ارزښت د قرآن لومړنی نازلې شوې کلمې ته په پاملرنې پیلېږي چې وایي: «إقرأ» ولوله!

۵. او دا هېڅکله له یاده مه باسه، پای د نشت کېدلو په معنا نه‌دی. بلکې برعکس... حتی مرګ هم پای نه‌دی، ستا پیل دی. په دې ژوند کې چې هر څه ختم شي، د یو غوره شي د پیلېدو وسیله ده، کافي ده چې ته د پېښو کتونکی واوسې.

د خپل استاد له خبرو سره نور ډاډه شوی وم، چې په رښتیا هم غواړم په سفر لاړ شم. بې له ځنډه مې کاغذ او قلم راواخیستل او همدا پینځه قوانین مې له ځان سره یادښت کړل.

بیا بیا مې ولوستل. د سفر په اوږدو کې به مې هم په ذهن کې وو. فکر مې کاوه چې درونډ بار مې له اوږو لرې شوی. خدای په اماني مې وکړه او د استاد له کوره ووتم. کله چې کور ته ورسېدم، ښه احساس مې درلود. بالاخره نن شپه به آرام خوب وکړم. سبا به مې کاري پلان له سره ولیکم. ډېر ژر به په اووه ورځني سفر لاړ شم، او سفر ته به تیار شم. په کارونو کې به مې وقفه رامنځته کړم، دې سر سپارلي سفر ته مې اړتیا درلوده. احساس مې کاوه په دې لار کې به له یوې اساسي آزموینې سره مخ شم.

---

[۱] د لوستونکي موخه د ژوند د پیغامونو له لوستلو څخه هوښیارتیا او د ژوند پېښو علایمو او نښو ته پاملرنه ده، چې د ژوند درک آسانه کړي او مرسته کوي چې په دې وسیله راتلونکي ښه وسنجوو.

# ۵

حیران یم په دې چې کېدای شي یو څوک زر خلې کعبې ته لاړ شي، خو خان پیدا نه کړي او څوک چې له خپل کلي څخه یې پښه دباندې نه‌ده ایښې په خپل زړه کې به مدام د کعبې ګردچاپېره د طواف په حال کې وي.

سهار چې له خوب وروسته راپاڅېدم، فکر مې برابر و. نه د سترړیا کومه اغېزه راکې وه، نه بېړه. حتماً اورېدلي به دې وي چې وایي: «**کله چې سهار ویښېږې، وګوره چې تخت دې تا ببرته د خان لوري کشوي که ژوند؟**» نن ژوند ما خپلې خوا ته ورغواړي. څکه غوښتل مې سباناری له ملګرو سره په دفتر کې وخورم، نیشان تاشي[1] کې یو د خوږو پلورنځي ته لاړم او لږ پوآچو[2] او بورک[3] مې واخیستل. دفتر ته مې زنګ وواهه او ومې ویل چای دم کړي.

څنګه چې غوښتل مې په استانبول کې ونه اوسم، د ملاقاتونو وختونه چې د مشورې لپاره راکړل شوي وو، بدل مو کړ او نوي پلانونه مو جوړ کړل. هغه غونډې چې د لرو ورځو لپاره وې، د نږدې وخت لپاره مو تنظیم کړې، تدریسي-پلانونه مو بیا ولیکل. لږ وخت مې د سیمینارونو په منځ کې وقفه راوسته. توله ورځ مې دغو کارونو ته ځانګړې کړه.

مازدیګر چې له دفتره بهر راوتلم معاون مې په غوسه شو او په سره مخ زما کوټې ته راننوت.

ویې ویل: «ښاغلی هاکان، یو ځوان زنګ وهلی غواړي له تاسو سره خبرې

---

[1] په استانبول کې د یوې سیمې نوم دی. - ژ

[2] مغز لرونکې ډوډۍ له پنیر، چهار مغز او سبزي سره. - ژ

[3] په ترکیه کې شیرینیو او خوږو ته ویل کېږي، چې له وړو څخه جوړېږي. ژ

وکړي. هغه ته مې وویل چې د زده کړې یا مشورې لپاره له تاسو سره وخت ولیکم، خو لېوني شو. حتی اجازه نه راکوي ټیلیفون هم قطع کړم. هر کار چې کوم بیا بې له دمې زنګ راوهي. تل وایي ته پوهېږې زه څوک یم؟ فکر کوې غوره نهده چې له هغه سره خبرې وکړی؟»

ومې ویل: «وصل یې کړه، وبه ګورم.» په دې دومره وخت کې له څه دول خلکو سره چې مخ نه شووا تر منځ یې هم آرامه کسان وو او هغه عصبي.

کله چې اړیکه وصل شوه، هماغسې چې معاون ویلي وو له هماغسې لهجې سره مخ شوم.

هغه وویل: «ته فکر کوې چې څوک یې صوفي؟ دوه اوونۍ کېږي چې هره ورځ مو له دفتر سره اړیکه نیسم. ستا موندل څومره ستونزمن دي، مګر ولسمشر یې؟ هېواد ژغورې؟ دا کار مو بد نهدی؟»

«خو ملګرو مې غوښتي چې له تا سره مرسته وکړي.»

«که ستا له ملګرو مې مرسته غوښتله له هغوی سره مې خبرې اترې کولې، ما غوښتل له تا سره خبرې وکړم، له تا سره ستونزه لرم.»

زه زنګونو ته ځواب نه ورکوم. وخت یې نه وي. منندوی به مو یم که مې درک کړې.»

«زه درک نه لرم. کار مې بېړنی دی. ډېر عاجز اوسه. دومره له لاسرسي څخه لرې مه اوسه. داسې نهده چې ته به نړۍ وژغورې. خان ته ډېر مه مغروره کېږه.»

«هیله کوم بس کړئ. ووایئ چې زما ل لاسه څه مرسته کېدای شي؟»

«مننه کول.»

«هو؟»

«په تمه یم چې له ما مننه وکړې.»

«زه له تاسو مننه وکړم؟ ولې؟ یعنې د څه لپاره باید ل تاسو مننه وکړم. که مسئله دا وي چې زه له تاسو مننه وکړم. یوازې کافي ده دا مسئله پای ته ورسوئ.»

Scanned with CamScanner

«زه باید له تاسو مننه وکړم. غواړم فرصت یې راکړې.»

«څوک یې؟»

«زه ډنیز یم.»

«یعنې په یاد دې نه‌شول؟»

البته چې راپه یاد مې شو، تېره شپه مې هم له استاد سره د هغه په هکله غږېدلی وم. وروسته له میاشتو څه شوي وو چې راپیدا شو؟ پر دې سربېره څنګه یې وکولای شوای چې ما پیدا کړي، مګر زما له کوچني نوم پرته نور زما په هکله په څه پوهېده؟

ومې ویل: «ولې نه په یاد مې یې. حیران شوم؛ زه دې څنګه پیدا کړم؟» ویې ویل: «ناڅاپي وو.» نور آرامه شوی و. عجیبه انسان و... یو ناڅاپه به په غوسه شو، بیا به آرامه شو. داسې لکه چې هېڅ هم نه وي شوي... ادامه یې ورکړه: «څو ورځې مخکې مې په انټرنېټ ستا یوه ویډیو ولیدله. په بورسا کې، په هغه ځای کې چې ما او تا یو بل ولیدل د امیر سلطان په مقبره کې ضبط شوې وه. اول مې پام نه‌شو چې ته یې، بیا پوه شوم چې تلویزیوني خپرونې ته مېلمه وې. ډېر وخت شوی و چې په ذهن کې مې وې. له ځان سره مې ویل: کاش چې شمېره مې درنه اخیستې وای. ډېر پښېمانه یم چې ولې مې در نه ونه غوښتل چې ځان راوپېژنې. کله مې چې خور ستا په یوټیوب کې ستا ویډیو کتله، باور مې نه کېده چې هغه شپه مې له تا سره کتلي دي. ومې ویل: نور دومره تصادفي نه‌شي اوسېدای. د دفتر شمېره مې دې پیدا کړه، خو خپله ستا پیدا کول آسانه کار نه و. په دې باندې هم پوه شوم.»

« له اړیکې څخه دې ډېر خوښ شوم. هر څه ښه روان دي؟ داسې څه شته چې درته ویې کړم؟»

په تلوسې سره یې وویل: «هو دوه ورځې کېږي چې په استانبول کې یم.

Scanned with CamScanner

صوفي! غواړم وې وینم. د اوونۍ په پای کې بېرته بورسا ته ستنېږم. مخکې له تلو غواړم له یو بل سره چای وڅښو تر څو له تا منته وکړم.»

«د څه لپاره منته؟»

«د پاک نیت لپاره چې هغه ورځ دې د پاملرنې لپاره وښود. د دې فرصت مې درلود چې د اوږدمهال لپاره ستا د خبرو په هکله فکر وکړم، او بله دا چې بې له دې چې خپل عزت‌نفس له لاسه ورکړم یا هغه اعتماد چې په نورو یې لرم سلب شي، بې له غوسې، بې له عصیان کولو، په کوښښ سره د سخت موقعیت په منلو مې وکولای شول له هغه نه تېر شم. خبرو دې زما حال ډېر ښه کړ.»

**هغه شببه مې دې ته فکر وکړ چې هیڅ ملاقات تصادفي نه‌دی. په رښتیا چې د هستي د نړۍ نظام بې‌عیبه او عادل دی... دا نو څه کار دی چې که تا ونه‌شو کولای نظم یې ووینې یا دې ورته پام شي، نیوکه پرې وکړې او ملامت یې کړې؟**

په بله ورځ له غرمې مخکې مې ډنیز دفتر ته راوباله. که هغه مې بهر لیدلی وای، نه به مې وای پېژندلی، څومره بدل شوی و، په سترګو مې ته به وایې چې بل انسان شوی وي. لا ډېر ظریف او تازه شوی و.

ویښتان یې لړ اوږده شوي وو، مخ یې ځلېده او سترګې یې نورې هم ښنې شوې وې.

له ځان سره یې زموږ لپاره کاکاوي قرابیه او تمشک راوړي وو. چای مو وڅښه او لږ خبرې مو وکړې. ویل یې نور له خپلې پخوانۍ کوژدنې سره ستونزه نه لري. له هغې ورځې نه وروسته یې له یو بل سره هیڅ اړیکه نه‌ده نیولې. ویې ویل: «نور ښه شوی یم.» هغه موضوع په بشپړه توګه حل شوې ده. نور یې زړه نه غوښتل چې جنګ وکړي او هغې ته د څه ویلو لپاره یې څه نه درلودل. حتی باور یې نه راته، په هغو کارونو چې تراوسه پورې یې کړي وو. ویل یې: «ښنګه مې وکولای شول چې هغې ته زنګ ووهم، وژاړم او شخړه وکړم. اوس یې چې فکر کوم شرمېږم.»

بیا مې هم احساس کاوه، غواړي ما ته کوم څه ووایي، خو نه‌شي کولای. فکر مې کاوه دا ملاقات یوازې د منني او ساده چای د څښلو لپاره نه‌دی.

کله یې چې وویل نور چای نه غواړي، فکر مې وکړ غواړي پورته شي او لاړ شي؛ خو تازه یې ساه واخیسته او په خپل ځای کې آرام کېناست او ویې ویل: «زه ستا مرستې ته اړتیا لرم.»

په خیر غوښتونکي نیت مې وویل: «څه کار درته کولای شم؟»

«زه نور نه غواړم په بورسا کې ژوند وکړم. پلار مې په بورسا کې بریالی سوداګر دی. هلته کارخانه او کمپنی لرو. د اصل و نسب لرونکي کورنۍ یو. سربېره پردې، له خپلې خاورې او هېوادوالو سره مینه لرو. پلار مې استانبول ته نه راځي. زه هم نور نه غواړم بورسا ته لاړ شم. ما په استانبول کې معماري ولوستله، سږ کال مې درس پای ته ورسېده. باید کور ته وګرځم. خو هلته نه‌شم پاتې کېدلی. د خپګان احساس کوم. هلته ډېر محدودیتونه دي. هلته له مخکې څخه ټاکل شوې ده، چې هلته باید په کوم ځای کې کار وکړم، څه کار وکړم، له کومو کسانو سره وګورم. ځو ځلې سترس، ډېرېشن او ژور خپګان ونیولم. اوس هم اروایوه شته چې د پانیک[۱] حملو د درملنې لپاره په منظمه توګه د هغه څنګ ته ځم. کله کله عصبي شوک تېروم، د غوسې د کنټرول ستونزه لرم. که زه بورسا ته ور وګرځم، مړ کېږم. ساه نه‌شم اخیستلی. ما ته ډېره خوروونکې ده چې د ۲۵ کلونو په عمر له ما سره د نوي ځوان په ډول چلند کېږي.

دا چې غواړي تل ما کنټرول کړي، لېونی کوي مې. خپله مې نه‌شم اوسېدای، تول هغه کارونه مې چې خوښېږي او غواړم یې، هیڅ یو یې نه‌شم کولای. نه پرېږدي چې له هغوی نه لرې او بېل شم. زړه مې غواړي چې کورنۍ مې ما لږ پرېږدي.

---

[۱] پانیک حملې د اندېښنو او ډار د ناڅاپي هجوم په معنا دي، چې په دې حالت کې د شخص د زړه درزا ډېره پورته ځي او شخص په ساه لنډۍ اخته کېږي. - ژ.

غوارم باور راباندې وکړي او د لارې خند مې ونه اوسي. په رښتيا چې صحت مې له خطر سره مخ کېږي، اعصاب مې خرابېږي، خپل ځان نه پېژنم، ځينې وخت هيڅ نه پوهېږم چې ځوک يم، ځينې وخت نه پوهېږم څه وخورم او څه ونه خورم. نه پوهېږم څه شی مې خوښېږي او له څه شي نه مې بد راځي، حماقت کولای شم.

هدف مې دا دی چې د هیڅ شي پر وړاندې ژاده نه يم. نه پوهېږم له هيجانه ډک يم يا خندوونکی يم يا لېوني يم! ځکه، کله مې رښتيا زړه غواړي چې لېونتوب وکړم. کله وايم ځان په نه منونکو پېښو کې بند کړم، خو بيا وايم نه! کورنی مې هېڅکله ما ته دا اجازه نه راکوي او وايي چې زموږ په شان کې نه‌ده.»

خبره مې ورته پرې کړه او ومې ويل: «ډنيزه، په ما باندې ناوخته کېږي. زه بايد له دفتره ووځم. په راتلونکې اوونی کې د ختمېدو ځينې کارونه دي، چې بايد حل يې کړم»، د دغو خبرو په هيڅ ځای کې مې ورته کار نه‌شو کولای شم.

ومې ويل: «دا هغه مسايل دي چې له کورنی سره دې بايد خبرې وکړې او حل يې کړې. دا چې پوهېږې چې څه غواړې، ډېر ارزښت لري. دا مزيت هېڅکله له ځانه لرې نه کړې. د يو داسې ځوان په حيث چې د خپل ژوند مسووليت لري، البته کولای شې هغه ژوند ولرې چې خوښېږي دې، خو ته دې کورنی پېژنې. په دې موضوع کې زما له لاسه څه پوره نه‌دي. داسې خو به نه وي چې غواړې له پلار سره دې خبرې وکړم؟»

ويې ويل: «دا دقيقاً هغه څه دي چې غواړم يې.»

هغه شېبه هک پک شوم، حتماً ټوکې يې کولې.

ومې پوښتل: «موخه دې څه ده؟» داسې نه چې بايد ووايم بچې مو آرام پرېږدئ چې استانبول کې ژوند وکړي؟ دا کار رښتيا هم ډېر احمقانه دی.

بې اختياره مې په خندا شروع کړې وه. په راتلونکو کاري کلونو کې به مې نور څه ليدلي وو...

Scanned with CamScanner

«هغه اروپاوه ته چې ورځم دا ورانديز مې ورکړی و، خو وېې نه منله.» لـه دې جملې سره يې خپلو توضېحاتو ته دوام ورکړ. ويې ويل: «د اخلاقـو لـه نظره ښـه نه‌ده، له اخلاقو لرې کار دی، ويې ويل: نه کېږي. هېڅ اروپاوه ونه منلـه چې لـه پلار سره مې خبرې وکړي. ته ډاکتر نه يې. ته د ژمنليک اندېښنې نـه لـرې. د يـو مشاور په ډول زما له پلار سره خبرې کولای شې، سربېـره پـردې پـه خپلـه کـاري برخه کې نوم لرې.

هر څوک دې پېژني. وايم له تا څخه زده کړې کوم او ته به هغه ته وايې چې د ژور خپګان او سټرس پر وړاندې د مبارزې لپاره دا فشار ستا لپاره هېڅ ښه نـه‌دی. بې له دې به مو بچي له لاسه ورکړئ، څکه عصبي وضعيت يې هېڅ ښـه نـه‌دی. په دې روحي وضعيت له ستاسو سره په اړيکه کې پاتې کېدو سره به هېڅ ښـه نـه وي. حاصل نه‌شي لرلی. ما د بورسا په کمپنۍ کې ونه نيسي او په بورسا کـې دې پښه راته نه بندوي.»

ومې ويل: «جدي نه‌شې اوسېدلی.» نور پـه رښـتيا غوسـه شـوی وم. «دا څـه ډول همت دی؟ دا څه ډول سپک‌والی دی؟ حتی بې احترامي ده. ته متوجـه يـې چې څه وايې؟ په کوم جرئت فکر کوې چې زه کاري اخلاق نه لرم؟ فکـر کـوې زه مسووليت نه لرم، دومره بې‌اخلاقه يم چې دروغ ووايم؟

زه هغه څوک يم چې د صوفي فلسفه زده کوم. کوښښ کوم د صوفي ښوونځـي زده کوونکی پاتې شم. ته ما ته د دروغ ويلو وړانديز کوې؟ دا غير اخلاقي وړانـديز دی... عادت شوی يې چې له پيسـو او کـورني نـوم سره هـر څـه حل کـړې. لـه همدې امله اصلاً د انسانانو شخصي حـريم او د عمـل آزادۍ تـه احـترام ستا پـه وجود کې نه‌دی پاتې. فکر کوې له پيسـو سره هـر څـه کـولای شـې، خـو داسـې نه‌ده ماشومه. په نړۍ کې ډېر شيان دي چې په پيسو يې نه‌شې اخيستلی. تـه پـه رښتيا د هغو شيانو له نه لرلو څخه خوربږې چې پـه پيسو يـې نه‌شـې اخيسـتلی، لـه همدې امله په ځان باور نه لرې، له يوازې کېدو ډارېږې، تل خپـه يـې، پـه يوازېتـوب

سره د يو کار مسووليت سرته نه‌شې رسولی، دا په پيسو نه‌شې اخيستلی. د پلار نوم او نسب دې هم کفايت نه کوي. فکر کوم غوره به دا وي چې پورته شې او له دې خايه لاړ شې.»

ډنيز څېله ساه بنده کړې وه او ما ته يې غوږ نيولی و. ښکاره وه چې تراوسه يې د څېل خان په هکله دا حقيقتونه په دومره ښکاره توګه او لوړ غږ نه وو اورېدلي. هغه شېبه يې دې ته فکر کاوه چې له لرې څنګه ښکاري.

زر خلې پښېمانه شوی و، په دې چې دا پيشنهاد يې ما ته کړی و، خو نه پوهېده مسئله څه ډول په ښه شکل وپوښي.

ژبه يې بنده بنده شوه.

«زه... زه... نه... دا زه نه يم... د پېژندګلوي تېروتنه، يعنې زما په مطلب پوه نه‌شوې، زه يوازې غواړم آزاد واوسم.»

«ښه صبر ډنيزه، څوک تا ته آزادي نه‌شي درکولای، حتی پلار دې.» دا مې په لوړ آواز وويلې.

په رېږدېدلي آواز يې وويل: «خبرې مې هېرې کړه. په دې صورت کې له تا څخه يوازې د مشورې وخت غواړم. يوه حرفه‌يي مشاوره. هر شرط چې وارې منم يې.»

سر مې د منفي ځواب په نښه وخوځاوه او ومې ويل: «د مشاورې په وختونو کې مې واټن رامنځته کړی. يو څه موده به دلته نه يم. ځم. کېدای شي کله چې بېرته راوګرځم.»

«څومره وخت به دلته نه يې؟»

«غوښتل مې هغه له څېلې مخې لرې کړم، ومې ويل: کېدای شي يوه مياشت يا دوه اوونۍ.»

ويې ويل: «نه کېږي، دومره صبر نه‌شم کولای.» لږ پاتې و چې وژاړي. هم محجوب و او هم ستړی. «زه ښه نه يم، بورسا ته نه‌شم ګرځېدای.»

Scanned with CamScanner

«په اصل کې مشاوره هم نه غواړې، کنه؟ غواړې د غونډو په پلمه درې میاشتې، یا شپږ میاشتې وخت تېر کړې او بورسا ته ونه ګرځې.»

د خبرو منځ ته مې راولوېده او ویې ویل: «نه... نه... اصلاً داسې فکر نه کوم. زه یوازې غواړم ډېر ژر د خپل ژوند کنترول په لاس کې ونیسم. داده یم چې ستا لارښوونې زما لپاره ډېرې ارزښتناکې اوسېدای شي.»

«لکه څرنګه مې چې وویل، وخت نه لرم.»

«غواړې د کوم کار لپاره لاړ شې او د څو ورځو لپاره ځې؟ ووایه چې څومره پیسې درکوي، څومره؟ همدا اوس تا ته د هغه دوه برابره پیسې درکوم، لغو یې کړه.»

**په رښتیا چې خوروونکی و. دا ځل ډېنیز غوښتل هره مسئله په پیسو حل کړي. هر څومره توضیح مې چې ورکوله، نه یې غوښتل پوه شي. هغه شېبه په پوره باور دې نتیجې ته ورسېدم چې نه‌شي کېدای چې داسې زده‌کوونکی واوسي چې پرمختګ وکړي. له ډېنیز سره خبرې کول بې ګټې و. د لېونتوب په کچه یې په خپلو باورونو ایمان درلود. هغه کولای شو داسې زده‌کوونکی واوسي چې یوازې د تجربې په مټ زده کړې او بدلون وکړي. د همدې لپاره مې پرېکړه وکړه چې نور خبرې ونه کړم. یوازې مې هغه پوه کړ چې دا مسئله ناشونې ده.**

خپل وړاندیز یې بیا د دغو خبرو په کولو سره تکرار کړ: «ووایه چېرته ځې، د حق الزحمې دوه چنده پیسې دې درکوم.»

ومې ویل: «حج ته ځم.»

حیران شو او په فکر کې ډوب شو.

په لږې شرمندګۍ یې وویل: «مګر اوس د حج ورځې دي؟»

«زه هر کال په یوازې ځان حج ته ځم، چې ځان تسلیم کړم.»

**«ښه دا خو حج نه‌دی، رخصتیانې دي، ځنډولی یې شې.»**

«حج یوازې د یوې بنا شاوخوا ته د تاوېدلو په معنا نه‌دی. د انسان هر سفر، د هغه خپل وجود ته یو سفر دی. **ډېری خلک زر ځلې حج ته ځي، خو ځان نه‌شي پیدا**

**کولای؛ خو داسې خلک هم شته چې پښه یې له خپل کلي بهر نه وي ایښې خو په خپل زړه کې تل د کعبې شاوخوا د طواف په حال کې دي.»**

دا ځل یې داسې راته کتل لکه چې کوښښ کوي ما پوه کوي.

د مرستې په نیت مې د هغه پوهولو ته دوام ورکړ.

## د بایزید بسطامي د حج داستان

ومې ویل: «بایزید بسطامي مشهور داستان لري. یوه ورځ کله چې خپلو زده کوونکو ته په درس ورکو بوخت و چې د ځنګ کلي ملک ورته راغی. د کنایې او ریشخند په ډول یې وپوښتل: "تاسو سږ کال حج ته ځئ؟" د چا آواز نه پورته کېده. ملک دوام ورکړ: "زما پینځم ځل دی چې حج ته ځم." سربېره پردې د ویلو پر وخت یې ډېر غرور درلود. بیا یې د ریشخند په ډول پوښتنه وکړه: "څه شی غواړې چې له هغه ځایه یې درته راوړم؟" بایزید بسطامي پوښتنه وکړه: "اصلاً د څه لپاره حج ته ځې؟ که زما شاوخوا ته هم اووه ځلې وڅرخېږې هماغه خبره ده."

ملک ډېر په غوسه کېږي. آواز یې همداسې پورته کړ او ویې ویل: "ښاغلیه... ښاغلیه... ته متوجه یې چې څه وایې؟ دا کار دې کفر دی."

بایزید په ډېرې آرامتیا سره د کلي ملک ته ځواب ورکړ: **"له هغه وخته چې هغه بنا جوړه شوې ده، زه هلته نه یم تنوتی، خو خدای د دې فقیر له زړه څخه یو ځل هم نه دی وتلی."»**

ډېنیز ژوره ساه واخیستله او ویې ویل: «ډېر ښکلی دی.» د شور او غرور اغېزه یې په زړه کې نه وه پاتې. په یو مظلوم ماشوم باندې بدل شوی و. دوام یې ورکړه: «څومره ښکلې دې وویلې.»

ومې ویل: خو حاجي بکتاش دا داستان په څلورو تکو کې رانغاړي:

**«سوروالی په انارو کې دی نه په صفحه کې**

**ملنګي په ذهن کې ده نه په تاج کې**

**هر څه پسې چې ګرځې په خپل ځان کې یې پیدا کړه**
**ځکه په بیت المقدس او بیت الله کې نشته.»**

دا ځل یې وویل: «زه هم غواړم د حج سفر ته درشم. غواړم له تا سره دا سفر تجربه کړم.»

له شیبې ځنډ پرته مې وویل نه کېږي!

«ولې؟»

«ځکه ستا د پینځو ستورو هوټلونو او اوسېدنځایونو سره چې ته پکې عادت یې، له هغه سره ورتهوالی نهلري.»

اصلاً مې داسې نیت نه درلود چې د هغه د ګستاخۍ لپاره درس ورکړم. دا په ریښتیا خصوصي سفر و. قوانین یې غیر عادي وو. د نفس آزموینه او روزل و. تسلیم کېدل او بې قید و شرطه اعتماد یې غوښت. نهشو ویلی چې آسانه ده. دا سفر هغه قدمونه وو چې په ناڅرګنده تګلوري باندې ایښودل کېدل. او له ګرانبیه بوټونو او جامو سره چې ډِنیز پرې عادت و، نه کېده چې فتح شي.

«مشکل نشته چې له نابرابرو شرایطو سره هم ورتلی شو. یوازې د سفر د وضعیت په هکله لږ راته ووایه. کافي ده چې ووایې باید څه کار وکړم.»

«ډِنیزه، ته نهشې راتلی. او بل دا چې زه تل په یوازې ځان دې سفر ته ځم. له یوه کوچني پنډ او بې له پیسو.»

ډِنیز حیران پاتې و، یا هم کېدای شي په نظر یې ډېر مسخره ښکارېده.

ویې پوښتل: «یعنې څنګه؟ بې له پیسو په سفر ځې؟ څه خورې، څه څښې، چېرته ویده کېږې؟ مګر داسې څه شونې ده؟»

«دا مسافرت نهدی. د نفس د روزنې لاره ده. د حج لاره. شکر چې زه په ښار کې د خدای په مهرباني په هغه رزق سره چې ما ته یې رابښلی، سوکاله ژوند کوم، ډوډۍ هم لرم، پیسې هم لرم، کور هم او دنده هم. قوت او ایمان مې له

هغو شیانو چې الله تعالی رابښلي نه، بلکې له هغه اطمینان څخه چې په الله تعالی بې لرم لاسته راوړم. هر څه چې کېږي مهم نه دي. په دې سفر کې غم چې په یاد راولم چې ژوند مې د الله تعالی له لوري یو امانت دی او د دې په خاطر شکر کوونکی اوسم. حج لوی نامعلوم وضعیت دی. پوهېدلی نه شې چې څه به درته پېښېږي، په جیب کې پیسې نه لرې، نه پوهېږې د شپې به وږی ویده شې که موړ. چې به نه لرې چې ځان ته پناه جوړه کړې. نه پوهېږې د شپې به کوڅه کې ویده کېږې که په پاک تخت باندې.»

«هاکانه، ته عجیبه انسان یې، څنګه د شکر کولو لپاره داسې کار کوې؟»

«که اوس کوم بد څه در پېښ شي څه کوې؟ پلار ته دې زنګ وهې؟ آیا پیسې او نوم ستا د ساتلو لپاره کفایت کوي؟ ډنیزه، زما په آند دومره هم داده مه اوسه.»

په ټینګار سره یې وویل: «**شرایط چې هر څه وي، وي دې، زه هم راځم.**»

په پوره جدیت سره مې وویل: «نه کېږي، زه باید نور لاړ شم.»

«غواړم دفتر وترم، دلته نه شې پاتې کېدای.»

«پاتې کېږم، آخر به پولیس خبر کړم او ورته وبه وایم چې تا زه دلته بندي کړی یم. له تا شکایت کوم، ته به هم په سفر لاړ نه شې تلی.»

ماشوم فکر کاوه چې په ګواښلو سره زما نظر ته بدلولی شي. تراوسه د هغو مطالبو ژورتیا ته نه شو رسېدلی، چې ما ورته وویل، په خواشینۍ سره چې په ساحل کې یې چکر واهه. ښکاره ده چې په زړو اوبو کې یې لامبو نده وهلې. هر څومره چې فکر وکړې تر فشار لاندې لوی شوی، پر وړاندې مې یو ماشوم و چې ډېره لږه توجه ورته شوې وه.

له یوې خوا مې غوښتل په دې سفر راسره راشي، خو خام شاګرد و چې تصور یې نه شو کولای چې دا لاره به هغه ته کوم کوم شیان ورکړي او څه به ترې واخلي.

له خبرو او توصیې ورکولو سره نه کېده چې هغه ترلاسه کړو، په قطعي توګه

بې تجربې ته اړتیا درلوده، خو په دې فکر کې وم چې د حج سفر د هغه لپاره ستونزمن اوسېدای شي، پر دې اساس دا فکر مې له ذهنه لرې کړ، تر اوسه نه وم قانع شوی چې ډِنیز واقعاً غواړي په دې سفر راسره راشي که نه.

«نو ته په دفتر کې پاتې شه. زه دروازه نه بندوم، هر وخت دې چې وغوښتل لاړ شې لاړ شه.»

ویې ویل: «نه څم، تر څو چې راوګرځې زه دلته درته په تمه کېږم. باید ما هم له ځان سره بوځې.»

Scanned with CamScanner

# ۶

د هغو بدلونونو پر وړاندې مقاومت مه کوه؛ تسلیم اوسه، چې ژوند دې ورسره مخ کوي...

تېوله شپه مې خوب ونه‌شواى کولاى. هر کار مې چې وکړ خوب نه راته. پاڅېدم، کله کله به مې کتاب لوست، چاى مې څښېه، غوښتل مې مراقبه وکړم، خو ومې نه‌شواى کولاى. زړه مې بې دلیله راډکېده. د لومړي ځل لپاره مې په ژوند کې یو چا ته چې اړتیا یې راته درلوده شا ور واړوله. سربېره پردې، په ځپل دفتر کې... ځپل مېلمه ته، دا کار مې له داسې مسافر سره وکړ چې دفتر تـه مې راغلی و.

په باطن کې په ځپل ځان غوسه وم. باید داسې لاره مې پیدا کړې واى چې هغه مې په مینې او ملګرتیا بدرګه کړى واى. باید هغه مې له ځپل سره په مجادله کې د «هر کار دې چې زړه وي ویې کړه» په ویلو سره ن واى پرېښى او سربېره پردې نه پوهېدم مسایلو ته څومره تیارى لري.

هغه شپېه دومره له ځپل کړي کاره ډاډه وم، چې فکر مې کاوه که یوازې پاتې شي او د ځپلو پرېکړو په هکله فکر وکړي ورته ګټور به وي؛ خو اوس ډېر ناکراره وم.

یعنې تراوسه په دفتر کې دی؟

نه، فکر نه کوم.

حتماً ډېر وخت مخکې تللی. په هغه ځاى کې چې نه یې پېژني تېوله شپه نه تېروي، مسخره ده.

که نه وي تللی، بیا؟

خو که رښتیا په دفتر کې وي، بیا؟

هغه يې هم ډېره ستونزه ده، نه دې په تمه کېږي.

مګر ماشوم دی، مګر پرېکړه نه‌شي کولای چې کوم کار وکړي او کوم کار ونه‌کړي؟

که له کومې بدې پېښې سره په دفتر کې مخ شي، بيا؟ مثلاً غل راشي، که وډار شي يا له کوم جنجال سره مخ شي يا خدای مه کړه که تر دې بدو پېښو سره مخ شي، بيا؟ زه به مې ځان څنګه وبښم؟

نه... نه...

فکر مې کاوه لا مضطرب شوم.

نيمه شپه مې دفتر ته زنګ وواهه. ټيليفون ډېر زنګ تېر کړ، خو چا ځواب ورنه‌کړ، يا تللی و يا يې جرئت ونه‌کړ چې ځواب ورکړي.

که ځواب يې ورکړی هم وای غوښتل به يې چې څه ووايي، مګر په نيمه شپه کې د دفتر ټيليفون ته زنګ راځي؟ داسې نه کېده، نن شپه به آرامتيا ونه‌لرم. له دې څخه مې ډېر صبر نه‌شوای کولای. څنګه چې لر راخوت، تيار شوم او حرکت مې وکړ، سيده دفتر ته لاړم، څه به مې ليدلي وي چې خوشحاله شوی وم؟

ډنيز د انتظار د کوټې په درې غوړي کوچ کې د جنين په څېر ويده و.

هغه شېبه د پيشو په څېر و، چې ډېره مور يې ورکه کړې وي. د ګناه احساس مې وکړ چې هغه مې په داسې حالت کې پرېښی و او زه ترې تللی وم. قاطع وم. پرېکړه مې کړې وه چې نن په هغه باندې سخته ونه نيسم. له ځورولو او ناآرامه کولو پرته به يې کور ته ولېږم.

د دروازې د خلاصېدو آواز يې چې واورېده، سترګې يې خلاصې کړې، ښکاره وه چې هغه هم آرامه شپه نه وه تېره کړې او له اندېښنو سره ويده شوی و، خو په دروند خوب او آرام کولو باندې نه و برلاسی شوی. په دقيق او آرام آواز يې وويل: «سهار په خير صوفي.»

ومې ويل : «په رښتيا چې ډېر ځېلسری يې. په حقيقت کې پولادي اراده لرې،

**خو نه پوهېږې چې چېرې باید کار ترې واخلې.»**

داسې یې راته کتل لکه چې نه پوهېږي چې هدف مې څه دی.

ومې پوښتل: « راسره همغږی یې چې زموږ دواړو لپاره قهوه جوړه کړم؟ له دېرې بورې سره یې جوړوم، ځکه ډېره انرژي دې له لاسه ورکړې ده.»

پخلنځي ته لاړم او په قهوه کې مې جوش اوبه واچولې. پیالې مې راواخیستلې او په پتنوس کې مې کېښودلې. لږ پروني شیریني او پواچ پاتې وو. په ماکرووې کې مې تاوده کړل. عجیبه وه، ټوله شپه یې یو ګیلاس اوبه هم نه وې څښلې، په دفتر کې یې هېڅ شي ته هم لاس نه و وروړی، له کوم شي څخه یې ګټه نه وه اخیستې. لکه چې هېڅ نه و بنوربدلی او همداسې زما په تمه ناست و.

کله یې چې هغه آماده کړی پتنوس ولیده، سترګې یې وځلېدې. حتماً لږ پاتې و چې د لوږې له امله بې‌حاله شي. د ویلو لپاره مې څه پیدا نه کړل.

وروسته له دې چې د قهوې یو غړپ یې وڅښه، ویې ویل: «منم چې تا ته مې بې احترامي وکړه. هاکانه ته په حقه یې. ټوله شپه مې په دې هکله فکر وکړ. زما او زما د کورنۍ تر ټولو لوی څواک زموږ پیسې او اعتبار دی. نه پوهېږم شاید خپل ټول څواک له دې دواړو اخلو. هېڅ مفکوره نه لرم. که دا اوسنی پیسې او شهرت مو نه درلود څنګه به مو خپل ژوند تېراوه او څه کار به مو کاوه. بنایي په ټولنه کې به ډېر کمرنګه وو او په ډېرې آسانۍ به له‌منځه تللو. ځکه موږ کومه بله معنا او مفهوم نه لرو. ما هم له ماشومتوبه دا زده کړي چې هر څه په دې دواړو تر لاسه کولای شو. مثلاً هېڅکله مې هڅه نه ده کړې چې د چا زړه لاسته راوړم. بلکې هڅه مې کړې چې زړه یې واخلم. دا کار ډېر راته آسانه دی. ګرانې ډالۍ، امریکا ته د سفر ټکټ یا په کښتۍ کې یو سفر د یو چا د زړه د اخیستلو لپاره کافي دي. د هېچا لپاره مې کوښښ نه‌دی کړی، خو د ټولو لپاره مې ډېرې پیسې لګولې دي. واضح ووایم فکر مې وکړ چې ستا کوښښونه هم په پیسو واخلم. ته ما ته داسې خبرې کوې چې په آسانۍ سره نه‌شم هضم کولای.

Scanned with CamScanner

ځینې وخت مې ستا خبرې داسې زړه ماتوي چې که ځو ورځې هم وژاړم، ښه به نه‌شم. ځینې وخت مې ستا خبرې په غوسه کوي، تر هغه کچې چې په تا حمله کولای شم او په اول کې دې مخ په سوک سخت ووهم، خو په حقیقت کې چې دا یو مې هم حالت نه شي ښه کولای...

**دا څنګه امکان لري؟! ته هم زما حالت ښه کوې او هم یې بدوې!»**

خوله مې هم خلاصه نه کړه. په لاس مې ورته اشاره وکړه، لکه څنګه چې غواړم ووایم صبر وکړه، او له ځېله ځایه پورته شوم. ځېله شپېلی مې راواخیسته او مخې ته یې کېناستم. هغه شېبه مې بې له دې چې د څه شي په اړه فکر وکړم او ویې تلم، له زړه نه مې د شپېلی غږول پیل کړل.

لومړی یې داسې راته وکتل لکه فکر چې کوي: زه څه وایم او دا لېونی څه کوي؟ بیا هم لکه د یوه منلي ماشوم په څېر چوپ او آرام یې غوږ نیولو ته دوام ورکړ، کتل یې ورو ورو غمجن کېدل او په فکر کې ډوب شو. لږ وروسته داسې شو لکه په کوټه کې چې نه وي.

وروسته له دې چې شپېلی مې کېښوده، ترې ومې پوښتل: «دې غږ په تا کې څه حس رامنځته کړ؟» وروسته له دې چې لږ فکر یې وکړ، ویې ویل: «فکر کوم درد.»

«بل څه حس؟»

«غم»

«بل؟»

«آرامتیا»

« هیله کوم همدلته لږ صبر وکړه. ډېره ډېر دقت وکړه. زما خبرو ته ښه غوږ ونیسه. دې ته فکر وکړه چې څنګه دې درد او آرامتیا یو ځای حس کړل، آیا دا درته ناشوني ښکاري؟ همداسې ده، که څنګه؟ اوس وګوره چې څنګه شوني شو.آرامتیا ډېری وخت له درده پیدا کېږي. ځینې خلک چې د لومړي ځل لپاره د شپېلی غږ واوري مرګ، درد او بېلتون ترېنه حس کوي، خو لږ وروسته یې ځای آرامتیا نیسي.

Scanned with CamScanner

چارمغز داسې یوه مېوه ده چې ډېره کلکه او سخته ښکاري، خو کله یې چې کلک پوستکی ایسته کړې نو منځ یې نرم او خوندور وي. هغه خوند ته د رسېدو لپاره باید د هغه له کلک پوستکي څخه تېر شو.»

هغه شیبه مې حس وکړ د ډِنیز سترګې لمدې شوې. په پایله کې مې وکولای شول د ډِنیز روح ته لاسرسی پیدا کړم، په حقیقت کې یې یو کلک سنګر درلوده. د دې لپاره چې له اوښکو ډکې سترګې رانه پټې کړي، تیټ شو او یوه ټوټه قرابیه یې راواخیسته او ویې خوړه.

دوام مې ورکړ او ومې ویل: «د صوفیزم فلسفه تا ته ظاهري عینکې نه درکوي. صوفیزم حقیقت درته ښکاره کوي. کله له دردونو سره، کله له آرامتیا سره، خو په پایله کې دا ټول له آرامتیا سره ختمېږي. هماغسې چې شمس تبریزي وایي: غم مینان تازه ساتي. له زخم نه مې هم راضي یم، له یاره مې هم. شمس خپل زخم هم خوښوي، ځکه که هر څومره هم چې له ظاهره دردمن وي، هغه زخم چې په باطن کې یې ځړیکې وهي، د معشوق وصال ته یې رسوي.

له همدې امله د شپېلۍ غږ ډېر د انسانانو زړه ته ورته دی.

د شپېلۍ غږ په غوږ نه، بلکې په زړه باندې اغېز کوي، مولانا هم د مثنوي په نهم بیت کې داسې ویلي:

آتش است این بانگ نای و نیست باد
هر که این آتش ندارد نیست باد

هغه څه چې غواړم ووایم دا دي چې د شپېلۍ غږ لومړی زړونه غمجنوي، او وروسته په خوښۍ بدلېږي. یعنې خوښي او آرامتیا له غم او رنځه پیدا کېږي. کله کله هغه انسانان چې موږ ته رنځ پیدا کوي، وروسته په هغو کسانو بدلېږي چې موږ ته آرمتیا رابښي. فکر کوم زه هم په ناغوښتلې بڼه تا خوروم خو موخه مې ستا کړول نه‌دي.»

لومړی ځل و چې ډِنیز مې دومره آرام لیده. په خیر سره یې ما ته غوږ نیولی و. ربښتیا ووایم د هغه له دې حالته ډېر اغېزمن شوی وم.

د ژوند په اوږدو کې مې هغه خلک د خوښې وړ ګرځي چې ټینګه اراده لري او د تاندریو پر وړاندې ولاړ وي؛ **ځکه ډېر انسانان دي چې ډېری وخت په تمه وي تر څو هغه څه چې اړتیا ورته لري خپله د دوی لوري ته راشي. خو ځینې نه په تمه کېږي چې مسایل خپله د دوی مخې ته راشي، خپله درېږي او حرکت کوي او هغه خپل لوري ته راکاږي.**

**منوهین[۱] ویالونیست**

د ډېنیز دغو هڅو ما ته منوهین ویالونیست رایاد کړ. منوهین ویالونیست ما ته د ژوند داسې درس راکړی چې زه یې ډېر تر خپلې اغېزې لاندې راوستی یم. یو ځل یې له کنسرته وروسته، یو پلوی یې د هغه څنګ ته ورځي او ورته وایي: **«د دې لپاره چې ستاسو په څېر وایلون وغږوم، ټول عمر مې هم ورکوم.»** او منوهین یې هم په ځواب کې وايي: **«زما او ستا تر منځ توپیر همدا دی، ما مې عمر ورکړی.»**

هغه کسان چې په صبر او کوښښ سره په هغې لارې چې باور پرې لري، مخکې ځي. ما تل تر خپلې اغېزې لاندې راولي، زما په آند ښه او یا غلط خوب نشته، یوازې موخه او باور شته دی. د هغه تاوان هم هغه کس ورکوي چې په دې لاره مخکې ځي.

له ډېنیز مې وپوښتل: **«پوهېږې یوازینی اندېښنه مې څه ده؟ داسې ښکاري چې ته حل‌لاره په ما کې لټوې. زه انتي ډېپرېشن (د ژور خپګان ضد) ګولی نه یم چې په جېب کې یې وګرځولای شې او هر ځل دې چې بد احساس درلود، له دې ګولیو څخه یوه وخورې چې په لنډ مهاله توګه ښه شې او ځان ته دوکه ورکړې. دا به د درواغو جنت وي. په هغه کې شریم نه‌شم اوسېدای.**

له هر څه نه مخکې باید پوه شې چې څه شی غواړې او څه شی نه غواړې. باید هغو کارونو ته پام وکړې چې کولای یې شې او کوم کارونه چې نه‌شې کولای.

**که څه هم کوم څوک له تا سره په دې لاره کې مرسته کوي، باید په یاد ولرې چې ته یوازې په خپل ځان تکیه کولای شې.**

---

۱ Menuhin.

حتی باید پوه شې چې بې له تا هېڅ هم نشته. نه دې پلار، نه پیسې، نـه دې کورنی نوم و نسب... په حقیقت کې دوی ستا په سفر کې ځای نه لري، یوازې ته یې.»

ژوره ساه یې واخیسته او ویې ویل: «ځینې وخت ستا په خبرو پوهېدل ډېر راته سونزمن کېږي.» پورته شو او سیده د پنجرې لوري ورغی او دوام یـې ورکـړ: «پـه خبرو دې پوهېږم، خو ستونزه دا ده چې عمل پرې نهشم کولای.»

«ډنیزه، ښکه چې ته د عمل کولو سړی یې. ته له تکنیک او مطالعې سره کوم شی نهشې زده کولای. له هغو کسانو څخه یې چې یوازې د عمل پـه مټ بـدلون کولای شي.»

«آیا دا بد دي؟»

«بد یا ښه نشته. هر څه یوازې شته او جریان لري او باید هغه تـه پـه پـام سره دوام ورکړو!»

وینېتانو ته یې لاس کړ او ویې ویل: «آه... بیا نه درباندې پـوهېږم، زه یـوازې غواړم چې په هغه سفر چې ته ځې درسره لاړ شم. پیسې یې څومره کېږي، ورکوم یې. یعنې پیسې نه. ډېره ښښه غواړم، آه بیا مې څه وویل! یوازې غواړم له تـا سره لاړ شم. دې سفر ته اړتیا لرم.»

نه مې غوښتل له دې نه ډېر فشار پرې راوړم. کـولای مـې شو چې وګورم څـومره غمجن دی. لا نور غمجنېده. سربېره پردې له پرون راهیسې بېخوبه او ستړی و.

ومې ویل. «ډېر ښه. ما ته تر شپې پورې وخت راکړه، باید فکر وکړم.»

«د څه شي فکر کوې؟ ووایه راشه یا مه راځه، دومره ساده. هیله کـوم یـو څـه ووایه، ووایه چې تا سره تلی شم.»

«ګوره ډنیزه، زه تل یوازې په دې سفر ځم، باید بیا هماغسې واوسي، له چا نه مرسته نهشم اخیستلی، له چا نه د خواک او جرئت لپاره مرسته نهشم غوښتلی، دا چې څوک راسره اوسېږي یو ډول خواک راکوي، په شتون دې لـه مـا سره مرسته

کوې، داسې نه‌شم کولای؛ له ځان سره یوازې اوسېږم. نور به هغه لاره د آزموینې موقع نه وي، له پېښو نـه پـه ډک سـفر بـه بـدل شي، چې د دې سـفر لـه اصـلي موخې څخه انحراف دی.»

«اندېښنه مه کوه. زه له تا سره مرسته نه‌شم کولای او نه هم ستا لپاره خـواک اوسېدای شم. تا ته به یـوازې یـو اضـافه پېټـی یـم او خنډونـه بـه رامنځتـه کـوم. کېدای شي په تر ټولو سخته آزموینه باندې درته بدل شم.»

اصلاً مې داسې فکر نه و کړی، په داسې ځای کې یې راګیـر کـړم چې زمـا لـه تمې لرې و. همداسې ده، اصلاً ولې مې له هغې تجربې وړاندې مقاومت کاوه چې مخې ته مې راغلې وه؟ کېـدای شي لارې بـه دا ځـل لـه تـوپیره ډک سـفر او بلـې آزموینې ته تیارولم. دا چې هر څه مې تجزیه او تحلیلول، آیا دا کنترول پالنه نه ده؟

ومې ویل: «ما ته تر مازدیګره پورې وخت راکړه، شاوخوا اووه یا اته بجـې سره وینو. همغږی یې راسره؟»

ډنیز وویل: «ته مـا تـه دوکـه راکوې، غـوارې همداسـې ووایـې او لاړ شـې.» داسې یې وویل لکه ببری یې چې ډوبې شوې وي.

**«ډېر ښه، هر رقم چې غواړې، په پای کې ستا لاره او آزموینه ده. په یاد دې دي چې میاشتې مخکې زموږ د بورسا په ملاقات کې دې ویلي و چې هیڅ ملاقات تصادفي نه‌دی؟ زما په آند ته هم هغو شیانو ته چې انسانانو ته یې ور زده کوې، خپله هم لـږ خیـر اوسـه. خبرې او کارونه دې یو ډول نه‌دي... زموږ ملاقات هم یو سفر و، خو تـه اوس لاره پرې کوې. په هغه سفر چې په ذهن کې یې لرې ډوب شوی یې او په هغه کې پاتې یې.»**

خواب مې ترلاسه نه کړ، هغه په بشپړه توګه په حقـه و، دومـره د تسـلیم کېـدو په سفر کې مشغول وم چې له یاده مې وتـلي و چـې هـره ورځ، هـر سـاعت او هـر ملاقات بله لاره او بله آزموینه ده.

د الهام څرک هغه خپلسري خوان زما په زړه کې رامنځته کړی و چې فکـر یـې کاوه هر څه په پیسو لاسته راوړلی شي، هغه ادعا کوله چې ما پـوه نـه‌شي کـړی،

Scanned with CamScanner

په حیرانتیا سره مې کتل.

ومې ویل: «نه، نه ژمنه کوم نه خم. یوازې یو کار لرم، یو ملاقات. له هغه وروسته د هو یا نه خواب سره راځم. اندېښنه مه کوه. بې‌ځوابه دې نه پرېږدم. که زما ځواب منفي هم وي تا ته به یې وایم.»

په ډېرې پرېشانی یې وویل: «سمه ده.» له اعتماد کولو پرته یې بله لاره هم نه درلوده. د ډېنیز له تلو وروسته زه هم له دفتره بهر ووتم.

په دوو لارو کې ایسار وم، دا لومړی ځل و چې په آرامتیا سره مې پرېکړه نه‌شوای کولای. په داسې حال کې چې زموږ ټاکنې موږ جوړوي او په ځان باور په اصل کې په ټاکنو باندې زموږ د درېدلو عزم دی... له ماشومتوبه مې یو محاسبه کوونکی وجدان درلود چې په هغه درېدم، د پرېکړې پایله یې هر څه چې وي، وي دې. ډېر لږ پېښېدل چې داسې د وجدان په محاسبه کې له ستونزې سره مخ شم.

**له استاد سره دویم ملاقات**

په دې اوونی کې دوه ځلې د استاد ملاقات ته ورغلم.

ومې ویل: «استاده، ستاسو دم شوي چای ته مې هوس راغلی، تاسو ته راغلم.»

په خندا یې وویل: «لاړ شه هلکه، څوک څه پوهېږي چې څه درد لرې، چای مه پلمه کوه.»

موږ دواړو وخندل. دغه عادت مې ورته ډېر خوښ و چې زما په حال له ما نه ښه پوهېده او نه اړ کېدم چې ورته روښانه یې کړم. بې له څنډه مې ورته د هغه سفر په اړه وویل چې غواړم لاړ شم او د هغه هم‌لارې په اړه چې غواړې راسره ملګری شي، ډېر په واضح ډول مې د خپلو حسونو، اندېښنو او ناآرامی په هکله وویل چې وجدان مې درلوده.

ویې ویل: «زویه، ځینې انسانان له حکمته ډکو خبرو په مټ د علم په لاره کې پر مخ ځي، ځینې باید شخصاً په هغې لارې پل کېږدي. ته هغه انسان یې چې نه یوازې

شپېلي پُو کوي، شپېلي جوړوي او د شپېلي په کیسه ډېر بنه پوهېږي. فکر وکړه آیا مخکې له دې چې د نی څانګه سوری کړې، که په داش کې یې کېږدې او کلونه ورته په تمه پاتې شې، هغه غږ چې غواړې اورېدلی یې؟ نه‌شې کولای. ځینې وخت باید انسان په لارو کې شیان زده کړي. زړه یې د یوې اوږدې لارې سفر غواړي. د تقدیر لاسونه یې لارې ته اچوي. ښایي دا ځل ته د هغه په سفر کې د هغه د لارې ملګری غوره شوی یې، نه هغه ستا ملګری. ښایي غوره نه وي، څوک پوهېږي؟ نو د همدې لپاره د عطار د شعر په ډول «تو پای به راه در نِه و هیچ مپرس.»[1]

له ځان سره مې تکرار کړ چې «تو پای به راه در نِه و هیچ مپرس» همداسې ده. د هر څه په ملتیا؛ په پای کې به هر څوک په خپله لاره ځي.

استاد بیا هم د صوفیانو د سفر پینځه قوانین چې مخکې مې نوټ کړي وو، ما ته را یاد کړل.

له هغه سره سکون چې زما زړه یې راډک کړی و، د استاد له کوره ووتم. خپله هوډ مې کړی و، وجدان مې آرام او زړه مې سکون درلود.

کله چې مازدیګر دفتر ته راغلم، کارکوونکي مې ډېر وخت مخکې کورونو ته تللي وو. کېناستم او د ډِنیز په تمه شوم. کله چې له کوره راوتلم، یو غنم رنګه کتابچه مې هم راواخیسته. هغه کتابچه چې د شمس او مولانا د لیکونو یادښتونه مې پکې لیکلي وو...

کله مې چې هغه له آلارۍ راخیسته او په بکس کې مې اېښودله په غیرارادي ډول مې یو پاڼه پرانیستله او ومې لوستله:

«د هیڅ یوه تغییر پر وړاندې چې ژوند یې درته رامنځته کوي، مقاومت مه کوه، یوازې تسلیم اوسه.»

---

۱. «تو پای به راه در نِه و هیچ مپرس     خود را بگویدت که چون باید رفت»؛ عطار

# ۷

«که جبري دې په قسمت کې وي، له یوه مېږي نه به هم درس زده کړې. چې قسمت دې نه وي، که ټوله دنیا دې هم مخې ته په ګونډو شي، ستا لپاره به اشتباه وي.»

مولانا

اووه نیمې بجې وې، چې ډِنیز راغی. یو ډیزاین شوی سور پاکټ یې هم په لاس کې و.

په خندا یې وویل: «سلام صوفي»

د هغه لاس ته په اشارې مې وویل: «خیریت دی، غواړې رشوت راکړې؟»

ویې خندل او ویې ویل: «ښکاره ده چې نه، د خدای شکر چې زده مې کړل چې تا په پیسو او رشوت نه‌شم اخیستلی. دا د جشن نیولو لپاره دی.»

«جشن؟»

«هو.»

« یعنی داده یې چې تا له ځان سره بیایم؟»

«په حقیقت کې داده نه یم، خو له ځان سره مې وویل که ځواب دې مثبت وي، تش لاس ونه اوسم.»

رښتیا هم زما په نظر ډِنیز یو عجیب انسان و، ځینې وخت د دې لامل کېده چې د الهام دروازې مې زړه ته خلاصې شي او د ژورو موضوعاتو په اړه فکر وکړم، ځینې وخت د نه زغملو تر کچې عصبي او خپل چارې کېده، څرنګه چې حتی د یوې دقیقې په اندازه هم د زغملو وړ نه و. کله به د یوه کوچني او معصوم ماشوم په څېر کېده او کله تر ډېره حده خوشحال او خندوونکی او کله ډېر خپه او ورک شوی.

Scanned with CamScanner

« تا له خان سره بیولی شم، خو باید...»

په تمه نه‌شو چې خبره مې ختمه کړم، د ماشومانو په څبر یې توپونه وهل.

په تلوسې سره یې ویل: «ژوندی دې وي، ژوندی دې وي، پوهېدم.»

ومې غوښتل چې آرامه وي، خو خوښي یې داسې نه وه چې ژر دې آرامه شي. ویې ویل: نو اوس د جشن نیولو وخت دی. وروسته یې له سره پاکټه څنباک راویستل.

«دا نو څه دي؟»

« د جشن نیولو لپاره.»

«پوهېږم، خو په دې سفر کې د مستېدلو اراده نه لرم، باید هوښیار واوسو.»

«په لږ جشن کولو خو نه نشه کېږو.»

«که داسې وي چې د اوونی په پای کې سفر پیل کړو، باید د لارې قوانین په پام کې ونیسو. ستا په عادتونو کې لاسوهنه نه کوم. خو لاره خپل قواعد لري. هماغسې چې د پیلاتیست روزونکی دوه میاشتې چای، قهوه او الکول منع کوي او ته یې منې، دلته هم همدا خبره ده.»

له دې چې ومې نه منله چې جشن ورسره ونیسم خپه شوی و؛ خو همدا چې له ما سره په سفر روانېده ژر ډاډه شو.

په پرله‌پسې توګه یې داسې پوښتنې کولې چې څه وخت حرکت کوو، څنګه څو، چېرته څو، له کومو ځایونو تېرېږو، د ریزرف کولو لپاره له کومو شرکتونو سره اړیکه ونیسم؟

ومې ویل: له دې شیانو څخه هېڅ یو نه لرو. هیله کوم، لومړی آرام اوسه او ما ته غوږ شه. زموږ په موخه له دې لارې څخه پوه شه او نور مه پوښته چې دا ولې داسې ده او هغه ولې هغسې ده. څکه که په جزئیاتو کې ډوب شې، دېر وخت کېږي چې سفر پای ته رسېدلی او د دې لپاره چې ته بېرته تش لاس راګرځې، ناآرامه کېږې.»

د هغو ماشوماتو په څېر چې نوی ښووونځي ته تللي دي، په سیده قامت څوکۍ کې کېناست او لاسونه یې په زنګونو کېښودل. په ستونزه مې د خپلې خندا مخه ونیوله.

«له تا سره په اووه ورځني سفر خو. له ناپېژندلو څخه ډک سفر. د هېڅ شي حساب نه کوو، مهاوېش نه جوړوو، کوښښ نه کوو چې خپل وضعیت تضمین کړو، اورېدلي به دې وي چې وايي: "د الله په امان؟" په ډاډ او بشپړه توګه د الله په امان په دې لار حرکت کوو. ځکه که موږ هر څومره هم احتیاط وکړو، هر څومره ضمانت وکړو، هېڅکله بشپړ کنټرول نه‌شو لرلی.

نه پوهېږو ژوند څه وخت موږ ته څه راکوي او څه شی له موږه اخلي، کنټرول‌پالنه یوه ناروغي ده. ډنیزه، موږ کوم شی نه‌شو کنټرولولی.

طبیعت، روزي، او هغه پېښې چې پېښېږي یا نه پېښېږي... یوازې هغه څه چې زموږ له لاسه کېږي کوو یې. قضا او قدر شته... قسمت شته... د ژوند لاره د سر سپارلو لاره ده.

الوتونکي د دې اندېښنه نه کوي چې سبا به څه خوري. هغوی د خدای په امن کې دي او په نړۍ کې داسې الوتونکی نشته چې له لوږې مړ شوی وي. کبان په دې چې سبا به څه خوري په زور خېګان نه اخته کېږي. هغوی د الله تعالی په امن کې دي. په نړۍ کې داسې کب نشته چې د لوږې له امله مړ شوی وي. په خواشینۍ سره یوازې له هغو خطرونو چې بشر یې ورته رامنځته کوي، نیول شوي. په طبیعت کې هېڅ ژوندی موجود د تقاعد لپاره اندېښنه نه کوي، پانګونه نه کوي، پیسې او مال نه ټولوي. هر ژوندی موجود د الله تعالی په امن کې دی.

هېڅ ځاروی تر څو چې د انسان له ظلم سره نه وي مخ شوی، له اندېښنې او لوږې څخه نه مړ کېږي. موږ هم د دې طبیعت یوه برخه یو. موږ د الله تعالی په امن کې یو. د دې لپاره چې دا هېر نه کړو، له تا سره یو ځای په دې لاره کې ګام پورته کوو. د خدای شکر دی، زه هم په ښار کې آرام ژوند لرم. پوره پیسې لرم چې په هر هوټل کې چې وغواړم پاتې کېدای شم. هر وخت له هرې الوتنې سره چې وغواړم سفر کولای شم، خو زموږ موخه دا نه‌ده چې خپله سوکالي تضمین کړو او په هېواد کې وګرځو. زموږ نیت خدای ته تسلیمېدل دي.

برلاسی شوم چې پوه دې کړم؟»

په لنډو او ګټورو ټکو یې وویل: «نه! یعنې باید کوم کار وکړو؟»

«یعنې هر هغه څه چې موږ ته څواک او ډاډ راکوي، دلته یې پرېږدو. څکه هغه په لاس جوړ شوی څواک او ډاډ دی. د کائناتو په نظم او عدالت باور کول مو هېر کړي دي. هغه راپه یادوو. پیسې له ځان سره نه وړو. څکه پیسې هم په لاس جوړ شوی څواک دی. پیسې درلودل تل د امنیت په معنا نه‌دي. د بېلګې په توګه، دا ګران‌بیه کالي له ځان سره نه وړې، نه غواړم د مارک‌دارټ د څو سوو ډالرو ساعت دې په لاس کې ووینم. څکه د وخت حسابول هم یو ډول اسارت دی، کنترول او محاسبه ده.»

«که پیسې ونه لرو، څنګه په الوتکه یا بس کې سپرېدلی شو؟»

«نه سپرېږو. لاره په خپله موږ ځان سره بیایي. که اړینه وي پیاده څو، که اړینه وي هیچهایک[۱] کوو یا د یوه بس له چلوونکي سره خبرې کوو او له هغه نه هیله کوو چې موږ له خپل ځان سره بوځي.»

ډنیز وویل: «توکې کوې! زه سوال نه کوم. د یو درې زرې ټکټ لپاره ځان د کنګل پر مخ نه تېره کوم.»

«بنه نو له ما سره نه‌شې تللی. څکه ته اوس هم غواړې په هغو پیسو او سوکالي کې ژوند وکړې، چې ستا کورنی نسب یې لري. زه تا له دې زندانه نه‌شم راویستلی. ته وېرېږې چې خالق به دې په نیمه لار کې پرېږدي، فکر کوې چې تا ته به پاملرنه ون‌کړي، په پیسو باندې دې له هغه څخه ډېر باور لرې.»

ډنیز وویل: «نه اصلاً داسې نه‌ده. موږ ټول په خدای باور لرو او په هغه اعتماد کوو.»

---

[۱] هیچهایک: یو ډول وړیا سفر دی، چې یو کس د سړک غاړې ته درېږي او له لاریو یا د حمل و نقل له نورو وسایلو څخه غوښتنه کوي چې هغوی په وړیا توګه خپلې موخې ته ورسوي. - ژ.

« ډنیز جانه! موږ تول خان ته دروغ وایو، موږ له هر شي نه مخکې په خپلو پیسو، روغتیا، خواک او توانیز موقف ډاډه یو. د ژبې په څوکه همداسې یو شکر ادا کوو...»

ډنیز د «آه» په ویلو سره خپلې اوږې شکته واچولې.

معلومه وه چې توی پوهېده چې آسانه سفر په مخ کې نه لري، نو خپلې خپتې په خنګه مړوو؟ انسان خو اووه ورځې وږی او تږی نه‌شي پاتې کېدای، مړ کېږي. ګمان کوم موږ د خاتوزنې لپاره په دې سفر څو، کنه؟»

«لږ مخکې مې د الوتونکو په هکله خبرې درسره وکړې. د طبیعت مې درته وویلې، ډنیزه، الوتونکي له بانکي کارته ګټه نه اخلي.»

«خو هاکانه موږ خو الوتونکي نه یو، موږ انسانان یو هر څه په پیسو دي...»

په داسې حال کې چې خپل زغم او صبر ته هک پک وم، په آرامتیا سره مې وویل: «د خالق روزي په پیسو نه‌ده. باید زده کړې چې په هغه باور وکړې. ډنیزه، باید زده کړې چې خان هغه ته وسپارې. له هغې منې سره چې د ونې له خانګې نه یې راشکوو خانونه مړوو، د بزګر د کور دروازه ټکوو مېلمه به یې شو. د یو چا کار کوو او د هغه په بدل کې به موږ ته یوه کاسه شوروا راکړي. مړبدل مګر ستونزمن کار دی؟»

ویې ویل: «څه بابا، توکې کوې، توکې. د یوه بزګر کار به کوو او بیا منتظر پاتې کېږو چې د هغه په بدل کې موږ ته یوه کاسه شوروا راکړي؟ زما غوندې یو چا څخه غواړې چې سوال وکړي؟ اې خدایه، عصاب مې خراب شول.»

په ډنیز باندې د عصبي خندا[1] حمله راغله. همداسې یې خندل چې اوښکې یې له سترګو وبهېدې.

«اوس نو هغه خای ته ورسېدم چې باید سوال وکړم.» تل یې دا جمله ویله او هغې خوا او دېخوا ګرځېده، «نو هوټل هم نشته، پر دې اساس په غوجله کې به

---

[1] د منفي هیجانونو د تخلیې لپاره یو ډول عکس العمل دی.- ژ.

خملو، مګر څه ستونزه لري؟»

د ریشخند په ډول یې دا جمله هم خپلو خبرو ته ور زیاته کړه.

بې له دې چې خپل جدي‌توب له لاسه ورکړم ومې ویل: «په داړ سره نه‌شم ویلی، کېدای شي داسې شپه هم راشي چې هېڅ غوجله به هم نه وي چې شپه پکې تېره کړو.»

«غواړې ما توټه توټه کړې او ومې وژنې، کنه؟ زموږ پایله څه شوه ښاغلیه، د خپل خان د پېژندلو لپاره لرو او ونه ګرځېدلو؟ نه هاکانه، دا لاره زما لپاره مناسبه نه‌ده.»

سر مې د هغه د خبرو د منلو په اشاره وخوځاوه او ومې ویل: «کېدای شي همداسې به وي چې وایې. ژوند ستا لپاره له عطرونو، د پیسو له بټوې، بانکي کارتونو، شخصي وسایلو او ګران‌بیه جامو، لوکسو سباناریو او له پینځو ستورو هوټلونو څخه پرته ناشونې ده. څکه تا هېڅکله خان خدای ته نه‌دی تسلیم کړی، هېڅکله دې په هغه باور نه‌دی کړی، د هغه په عدالت او مهرباني دې حتی د خپل پلار د عدالت په اندازه هم، باور نه‌دی کړی.»

هغه سفر چې د هغه په هکله مې خبرې کولې؛ ورو ورو یې خپل جذابیت له لاسه ورکاوه. کېدای شي کله مې چې د دې سفر په هکله خبرې شروع کړې، خیال یې کړی و چې توکې یا خان لوی ګڼل دي. کله مې چې جزئیات ورته وویل، په نظر یې یو ناشونی کار و. په باطن کې یې نه یوازې د سفر د قوانینو، بلکې دا چې ولې دا قوانین داسې دي پوښتل یې.

ویې پوښتل: «ولې یوازې د دې ویل چې اعتماد لرم، کفایت نه کوي؟ باید یې ثابت کړو؟ د دې لپاره چې مور مې ما ته ثابته کړي چې مینه راسره لري، باید مړه شي؟»

ومې ویل: «ډنیزه! موږ د ادعا د ثابتولو سیالي نه کوو. خدای زموږ ثابتولو ته اړتیا نه لري. دا هڅه به نه کوې چې اعتماد دې ثابت کړې. یوازې باید دا زده کړې چې له خان سره رښتیني واوسې. هغه ستا ثابتېدو ته هېڅ اړتیا نه لري. د

Scanned with CamScanner

خپل امن له کړی ځخه بهر وتل د نفس له روژنې سره تړاو لري. ډنیز، ته هم له همدې امله ناآرامه يې. سره له دې چې ډېرې پیسې لرې، خوشحاله نه يې. په ژوند کې داسې څوک نه لرې چې مینه درسره وکړي. د باور وړ ملګرې نه لرې. په ټولو باندې شک لرې. ستا په نظر هېڅ صادقانه او رښتیني نه‌دي او د ډېرې شتمنۍ په درلودلو سره بیا هم تنګلاسي تجربه کوې، ته په تنګ‌لاسۍ اخته يې او څېله هم نه پوهېږې. خوښي د ډېرو شیانو په درلودلو نه، بلکې لږو شیانو ته په اړتیا سره لاسته راوړل کېږي. زه هم نه پوهېږم چې پ سفر کې به څه راته پېښ شي. کېدای شي بریالی به شم، یا هم نه. نه پوهېږم. خو په دې هڅه کې یم چې په ډاډ او تسلیمېدو سره نامعلوم لوري ته ګام واخلم تر څو خپل نفس اهلي کړی شم، همدا. نورو خبرو پسې مه ګرځه.»

لومړی ځل و چې ډنیز مې ساعت ته د کتلو په حال کې ولید. لومړی ځل و چې غوښتل يې راڅخه لاړ شي؟ ویې ویل: «لومړی مې فکر وکړ توکې کوې. فکر مې کاوه له لږو شیانو، لږو پیسو، لږې پلان جوړونې سره یوې انزوا یا څه پوهېږم د نفس پاکولو په سفر باندې خو، خو ګورم چې ته جدي يې.»

سر مې وخوځاوه.

ویې ویل: «ډېر ښه، هر څه منم، هر څه په ځان اخلم.»

خو تر اوسه ډاډ نه و. له ټولو امکاناتو څخه په ټوکو سره تېرېده. دوام يې ورکړ: «څه وخت او څنګه حرکت کوو؟ لومړی تمځای مو چېرته دی؟»

ومې ویل: «د شنبې ورځ، له غرمې مخکې د بوستانجي[۱] په بندر کې یو بل ګورو. زه هم نه پوهېږم چې لومړنی تمځای چېرته دی.

لاړې چې هر چېرته موږ بیولو همالته ځو. نصیب او قسمت. پیسې له ځان سره مه را اخله، دوه‌ی مه راوړه، ساعت او موبایل هم مه راوړه، یعنې په ورځ کې

[۱] د استانبول له بندرونو څخه دی.- ژ.

یوازې یوه دقیقه له موبایله ګټه اخلو او بس. ډېر نه... کولای شې یو څادر او بالښت له ځان سره واخلې. بې له هغو کالیو چې اغوستي دې دي، یوه بل جوړه به هم نه را اخلې.»

«همدا؟»

«هو، همدا»

سر یې د «نه کېږي.» په معنا وخوځاوه. «غواړې د سفر شرایط لا سخت کړې چې رانه‌شم او لاس و پښو کې دې ځان ونه نغاړم، پوهېږم. خپله هم پوهېږې له داسې شرایطو سره سفر نشو کولای. هڅه کوې ما له خپلې مخې لرې کړې. مشکل نشته، ژوندی اوسې. لکه څرنګه چې ودې ویل قسمت دی، اوس زه ځم، باید خپل ملګري ووینم؛ ناوخته مې کړه.»

او یوازې یې وویل: «اوس...»

پوره اندازه وخت مې ورکړ او د دې لپاره چې سمه پرېکړه وکړي، پوره هڅه مې کړې وه. وجدان مې آرامه و. نن مې آرامه خوب کولای شو. خدای مهربانه دی. که وغواړي راځي، او که ونه غواړي نه دې راځي. زما زړه آرامه دی، له آرامتیا ډک یم او په اوږو باندې کوم بار نه لرم. زړه مې د مرغۍ د ډېنګ[۱] په اندازه سپک دی.

---

۱. قو - ژ.

# ۸

## ښکلي لاري لتوونکی نه لري

هغه ورځ هوا باراني وه. له برکته ډک پسرلنی باران و... کله چې د بوستانچي په بندر کې په تمه وم، داسې احساس مې وکړ چې ساړه مې وشول. د نارنج چای مې راپه یاد کړ چې سهار مې څښلی و. دې ته مې فکر وکړ چې اوس د یوې پیالې گرم چای د څښلو وخت و. ځان ته په غوسه شوم چې ولې مې هغه خوندور چای په بیړه وڅښه او له کوره راووتم. له ځان سره مې ژمنه کړې وه چې په ټولو هغو شېبو کې چې د آرامتیا احساس مې درلودلی وي په ټول وجود سره یې تېرې کړم. له ځان سره مې وویل: هاکانه دا دې څویمه ژمنه ده؟ د سفر له پیلېدو مخکې د مخکنیو سفرونو زده‌کړې مې له سترگو تېرېدې. «اوسنی شېبې» ته مې بې‌پایه فکر وکړ، بې‌پایه شېبه.

هلته هم آرامتیا وه، هم پوهه، هم علم، هم هستي او هم وجود.

مولانا څومره ښکلي ویلي: «نه تېر وخت شته نه راتلونکی. تېر وخت ته مه گوره او غم مه کوه او د راتلونکي اندېښنه او تشویش هم مه کوه. په اوسني شېبه کې ژوند وکړه، خکه یوازې په همدې شېبه کې شته یې.»

نور داده شوی وم چې ډنیز به رانه‌شي. له دې پاک سفره وېرېده. خیال مې هم نه کاوه چې زړه یې ولري. بیا د دې لپاره چې په خپله وعده وفا وکړم، پرېکړه مې وکړه لږ ډېر په تمه شم.

کب نیوونکو ته نږدې په یوې څوکۍ کېناستم. کابو ټولې څوکۍ تشې وې... ټول له بارانه تښتېدل. خیني دي چې تر باران لاندې یوازې لمدېږي او خیني بیا باران احساسوي. ما هم نن وغوښتل له هغو کسانو واوسم چې باران حس کوي.

بیرېږو ته مې کتل چې بندر ته رارسېدلې یا یې بندر پرېښود. خلک چې سپرېدل یا کوزېدل. یوازې د بېړۍ په حال کې پښې او ناخوښې څېرې مې لیدلې. ټولو ورته ډار، اندېښنې او بېړۍ درلودې او یو ځای ته د رسېدو په هڅه کې وو.

هغه وخت چې کور ته ګرځېدل او په هماغه وخت کې چې کار ته تلل پـه بېړه کې وو. په حقیقت کې که وپوښتو، اصلاً دا نه خوښوي چې کور ته وګرځي، خو د دوارو لپاره یې منډې رامنډې کولې. عجیبه ده. وروسته مې پام شو چې یـو څـوک د کب نیوونکو له غرفې په موسکا سره زما لـوري تـه رانـږدې کېده. داډه یـم چې فکر یې کاوه لېونی شوی یم چې په دې څوکۍ لوند خیشت ناست یم.

ورځپانه یې په لاس کې ښکته او پورته کوله. د ملګرتیا په چلند یې وویل:

«حداقل په دې باندې کېنه.»

ومې ویل: «ژوندی اوسې» او ورځپانه مې واخیسته.

ویې پوښتل: «خیریت خو دی؟» پام مې شو چې دا پوښتنه ورسره وه چې ولې تر باران لاندې په څوکۍ ناست یم.

ومې ویل: «هیڅ، همداسې.»

بل کب نیوونکی چې د هغـه تـر شا ناسـت و پـه لـوړ غږ یـې وویـل: «مـیـن شوی.» هغه سرې د چای پیاله هم زما تر څنګ کېښوده او لاړ.

په زړه کې مې وویل: «د خدای شکر دی.» په یاد مې شو چې لږ مخکې مې چای ته زړه وشو. لا څښلی مې نه و، تود شوم. احساس مې وکړ چې د خدای تر ساتنې او مهرباني لاندې یم، ماته یې فکر دی او امنیت کې یم. هغه شیبه مې چا ته توضیح نه شوای ورکولای چې د چای هغې پیالې څخه یې څه معناوې راته درلودې، له شکر کولو سره مې یو غږپ وڅښه. په رښتیا چې په اوسنی شیبه کې وم، نه مې ساړه کېدل او نه څه شي ته په اندېښنه وم. نور مې څه شي تـه فکر نـه کاوه. د دې حال نـوم، تسلیمېدل دي. له پوهې سره تسلیمېدل په دې چې ستا ساتنه کېږي...

د نه ستاېلو وړ آرامتیا...

کب نیوونکي چې ورځپاڼه راوړې وه، وېې منله: «هو، حتماً د مینتوب لـه املـه ده، که نه انسان ولې تر باران لاندې په تمه کېني؟»

په موسکا مې وویل: «تاسو رښتیا وایئ.»

انسان یوازې د مینې له امله داسې لارې مخه کولای شي.

په داسې موقعیت کې نه وم چې د هغـو د فکـر پـه هکلـه پوښـتنه وکـړم چې د مینې په هکله یې لري.

له دې ذهنیت سره چې کېدای شي ډېنیز رانه‌شي، هوډ مې وکړ چې نور په تمه نه‌شم او پورته شوم، فکر کوم داسې د هغه لپاره هم غوره وه. سربېره پردې، هغـه لاره چې له پیله یې ظلم نوموله، بې له درده کومه تجربه ورتـه نـه‌شي جوړېـدای. کېدای شي ډېر به خپه شوی و، کله چې بې له داسې ستونزمنې لارې له دې چې څه شی زده کړي او پوهه لاسته راوړي راوګرځي.

له ځان سره مې وویل: «په دې کار کې کوم خیر شته دی.» او پورته شـوم. د چای لپاره مې مننه وکړه او د کارتال[۱] میدان په لوري روان شوم. بایـد پـه یـو بـس کې سپور شوی وای چې له ښاره بهر وتلی وای، بې له دې استانبول ته تلم.

لږ تللی وم چې یو آواز مې واورېده؛ یو چا پـه لـوړ غـږ چیغـې وهلـې: «هاکانـه! صبر وکړه، هاکانه!» کله چې راوګرځېدم او ومې کتل، باور مې نه کېده. لږ شا تـه ډېنیز له یوې ټکسي نه د را ښکته کېدو په حال کې و. له یوې خوا یې هڅـه کوله چې کرایه ورکړي او له بل لوري له دې وېرې چې ما ورک نه کړي، په لوړ غږ یې چیغې وهلې او لاس یې خوځاوه.

کله یې چې ولیدل زما ورته پام شو، آرام شو. کرایه یې حساب کړه او زما لوري ته یې منډې کړې.

---

[۱] د استانبول په کاډیکول سیمه کې یو میدان دی. - ژ.

ویې ویل: «باور مې نه راځي چې ومې کولای شوای چې پیدا دې کړم. دومره ناوخته له کوره راووتم چې پوښتنه مه کوه. بیا مې هم خپل بخت و آزمویه او حرکت مې وکړ. له تکسي سره په ټول ساحل کې وګرځېدم. کور ته ګرځېدم چې یو ځلي مې ولیدلې.»

هغه ته مې وویل: «که له تکسي نه ښکته شوی وې لیدلی به دې وم، چې ډېره موده په څوکۍ باندې درته په تمه وم.»

ډِنیز هم د هغو کب نیوونکو په څېر راته کتل چې لړ مخکې یې فکر کاوه لېونی شوی یم، وریځو ته په اشارې یې وویل: «سېلاب غونډې باران ورېږي. په دې هوا کې په څوکۍ باندې ناست وې؟ وای... زما له لاسه څه په حال شوی یې.»

تیار شوی وم چې په یوازې ځان وښوروم، خو د ډِنیز په لیدو هم خوشحاله وم. کله مې چې د هغه حالت ته لیدل زړه مې غوښتل چې وخاندم.

خپله مخه مې نه‌شوای نیولی چې د هغه لوی چرمي بکس، د پیسو بټوې او قیمتي ساعت ته ونه ګورم.

ویې پوښتل: «یعنې راځې؟ هغه هم په داسې حالت سره؟»

په تلوسې سره یې وویل: «ښکاره ده چې راځم. مګر زما په حالت باندې څه شوي دي. هر کار دې چې کولای شو ودې کړ، چې زما مخه ونیسې او درسره لاړ نه‌شم، خو برلاسی نه‌شوې. په وروستیو شیبو کې مې هوډ وکړ چې له تا سره یوځای شم.»

ربښتیا چې کاریکاتور غونډې و. له دې خیال سره چې زه غواړم هغه له خپلې مخې لرې کړم، د لارې او سفر قوانینو ته یې غوږ نه و نیولی.

هنو وسایلو ته په اشارې چې ورسره وو، ومې ویل: «خو هیڅ یو قانون دې نه‌دی مراعت کړی. فکر کوې چې ربښتیا مې له خپلې مخې نه ستا د لرې کولو لپاره ستونزمن قوانین وضع کړي.»

Scanned with CamScanner

ویې ویل: «بالکل». هیڅ هم خجالت شوی نه ښکارېده.

«جالبه ده چې له داسې کس سره په سفر تلی شې چې هیڅ باور پرې نه لرې!»

له غروره ډک حالت سره یې وویل: «په ځان باور لرم.»

«په اصل کې ته په ځان باور نه لرې. بې د پیسو له بټوې، پیسو او ساعته له ما سره تلی نه‌شې.»

ډېر وخت مو نه درلود چې په دې هکله بحث وکړو. څکه باران نور هم تېز شو. ډِنیز ته مې وویل چې باید ترمینل ته لاړ شو.

له هغه مې وپوښتل: «خو په لاره کې د هغه له شره خلاصېږې، منې یې؟»

هغه هم وویل: «ډېر ښه، ډېر ښه. ژر هغه ځای راوښیه چې غواړو لاړ شو. غواړو رښتیا چېرته لاړ شو؟»

ومې ویل: «نه پوهېږم؛ ته په لاره پل کېږده او هیڅ پوښتنه مه کوه، لاره به خپله درته ووایي چې باید چېرته لاړ شې.»

## د حج لاره

سړک ته لاړو او لاس مې د هیچهایک په نښه ونیوه. خو موټر په چټکی سره تېرېدل. باران لا چټک شو. داسې ښکارېده چې څوک نه غواړي چې ونه دروي. احساس مې وکړ چې کار مو ستونزمن دی، خو ډِنیز ته مې وویل چې اندېښمن یې نه کړم.

په کوچنیو ښارونو کې څومره په آسانی موټر نیولی شې. هر چا ته چې اشاره وکړې موټر درته دروي. په خواشینی سره په استانبول کې داسې نه‌ده. تول له یو بله ډارېږي. یو بل ته پردي او بې باوره دي. ګواکې انسانان د یو بل د مرګ پرښتې دي.

دوه موټر چې ودرېدل، خوشحاله شو؛ خو هغوی هم د استانبول سیمې ته تلل چې مونږ ته مناسب نه و.

هر څه چې وای باید له ښاره د بهر تللي وای.

هر څومره چې وخت تېرېده، ډِنیز نور هم نا آرامه کېده. باران هم همداسې وربده، ما هم څه نه ویل چې په غوسه نه‌شي. یوازې هغه ته مې دستمال ورکړ.

په داسې آواز یې وویل چې ګواکې نور زغم نه لري: «که کوم موټر ونه دریږده بیا؟ داسې به ناروغان شو!»

په ستوماني سره مې وویل: «د ګِزبې[1] په لوري به پیاده لاړ شو.»

چیغې یې کړې او ویې ویل: «آه... یعنې شونې ده چې هېڅ موټر به پیدا ن کړو! هاکانه! نه یې شم منلی، د سفر له پیلبدو مخکې بېچاره شو.»

همداسې تر شونډو لاندې بنګېده. لږ پاتې و چې په ژړا شي. ډېر ژر و چې له ما سره په راتګ پښېمانه شوی و.

داسې ښکارېده چې هره شېبه منصرف شي.

ویې ویل: «آخر مور تر دې باران لاندې څه کار لرو؟ څه به شوي وای چې په یوې الوتکه کې سپاره شوي وای او کوم ځای ته‌مو چې غوښتل لاړ شو؟ له ځان سره مشکل لرو؟ خپل عقل مو لېوني ته په لاس ورکړی. دا څنګه سفر دی؟ شکنجه ده! یخ به مو ووهي او دلته پاتې کېږو، څوګ به راشي او مور به ووژني. هوا هم تیاره کېږي. لږ وروسته به مو سر هم را غوڅ کړي او تر پله لاندې به یې واچوي.»

پام یې نه و چې که هر څومره شکایت او چیغې ووهي، نو هومره خپله غوسه تغذیه کوي. خبرې به یې چې کولې نو نور به هم ناکراره کېده. خپله یې د خپل ځان لپاره ستونزې غتولې. په داسې حال کې چې که چېرې یې چوپتیا غوره کړې وای، بې له شکه چې د هغې ستونزې لپاره چې پکې راګیر دی، حل لاره یې موندله. خو آخر غوسه هم یو خوږ احساس دی. په هغه کې راګیر شوی و. پام یې نه و چې په ناخبرۍ له دې کاره خوند اخلي.

---

[1] د استانبول د جنوب په ٦٥ کیلو مترۍ کې یو ښار دی.- ژ.

په آرامۍ مې د هغه سترګو ته وکتل. چوپ شو؛ پام یې شوی و چې غوارم څه ورته ووایم. په هغې شیبه کې مې د استاد خبرې په ذهن کې ګرځېدلې.

ومې ویل: «معلومه ده چې هر سفر خپلې سختۍ لري؛ خو مهم زموږ نیت دی. که خپل عادتونه او غرور پرېږدې، وبه ګورې چې دا پرېښودل تا ته ډېر شیان در زده کوي. سفر تا ته درس درکوي.»

هغه زما د خبرو په هکله په فکر کولو شروع وکړه لکه چې د زړه غوښتنه مې پوره شوې وه. یو تور جیپ زموږ مخې ته ودرېده.

ژر یې د مخې شیشه پرانیستل شوه؛ ور نژدې شوم.

موټروان وویل: «چېرته ځئ؟» where are you going?

حیرانه شوم، په دومره لوی استانبول کې ممکنه نه وه چې له یوه توریست سره مخ شو. هغه ته مې وویل: غواړو له ښاره ووځو. اړینه نه ده چې کوم ځای وي.

په ما ته لهجه یې په ترکي ژبه وویل: «زه ایزنیک[۱] ته ځم.»

ومې ویل: «ښه ده، موږ هم درسره ځو.»

له ډېنیز نه مې وغوښتل چې د شا په څوکۍ کې کښېني، چې ویې ویل: «زه ایزنیک ته نه ځم.» ګواکې څو شېبې مخکې ورسره نه وم غږېدلی. په باطن کې یې دومره شور و چې په هیڅ وجه یې د نورو غږونه نه اورېدل. لکه په ځنګله کې چې چیغې ووهې او د الوتونکو آوازونه وانه‌شې ورېدلی.

اړینه راته ښکاره شوه چې وپوښتم: «د څه لپاره؟»

«ایزنیک ته نه ځم. زه له بورسا او د هغه له سیمو څخه نه خلاصېږم؟ یوه لاره ده، موږ خو بېرته کور ته ګرځو!»

ومې ویل: «ضد مه کوه. ایزنیک بورسا نه‌دی؛ له بورسا بهر دی. اوس چې لاره مو هلته بیایي، ښکاره ده چې ځو. مګر بله چاره لرو؟ هوا تیاره کېږي.»

---

[۱] د ترکیې په بورسا کې یو ښار دی. -ژ.

Scanned with CamScanner

حتی که زړه بې هم نه غوښتل په موټر کې سپور شو. چرمي څوکۍ، تووده فضا، او ښکلی موزیک د دې باعث شو چې د آرامتیا احساس وکړي. بالاخره یې حوصله پیدا کړه. د خپتې آواز یې دومره لوړ و چې د نه اوریدو امکان یې نه و.

تل به یې ویل: «زه وږی شوی یم» ما ځان ناګاره اچولی و.

غوښتل مې لومړنی کس چې زموږ لومړني تمځای ته د رسېدو لپاره یې زموږ ملتیا وکړه، ډېر وپېژنم.

په اصل کې آلماني و، دومینک نومېده. څو کلونه یې په یو شرکت کې کار کړی و او د منځني ختیځ د استازولۍ په منصب له هغه شرکته متقاعد شوی و.

ویې ویل: «د کار نړۍ په سرطان اخته کړم. د لېونیانو غوندې مې کار وکړ، له خپل کار سره مې ډېره مینه درلوده. د څېلو څلوېښتو کلونو په کاري مخینه کې مې حتی یوه ورځ ځنډ نه و کړی او د ګرځندویی رخصتي مې نه وه اخیستې. خو په پای کې څه وشول؟ یوازې د تقاعد حقوق او یو سرطان مې ترلاسه کړ. همدا.»

هغه ویل چې له سترسه ډک کار یې درلود. تل د سیالی په فضا کې و، تل به اړ و چې په یوې سیالۍ کې بریالی شي. د عمر په اوږدو کې یې حتی یوه شپه آرامه خوب نه و کړی او داسې رخصتي یې نه وه تجربه کړې چې خوند ترې واخلي. له تقاعد وروسته یې له سرطان سره مقابله کوله.

ویې ویل: «تقاعد مې ځای پر ځای کېناتلو ته نه‌شي مجبورولی . سرطان زما چټکتیا راکمه کړه. پام مې شو، مخکې له دې چې په رښتیا ژوند وکړم، لږ پاتې ده چې مړ شم. پیسې مې پیدا کړې، ښه دنده مې ترلاسه کړه او متقاعد شوم، هېر مې کړل چې ژوند وکړم.»

که ویلي مې وای چې د دې مسئلې په هکله مې خپله خواشیني او ناخوښي ښکاره کړې وای، تېول به د دغو مسایلو لپاره چې ورته پېښ شوي وو د ګناه په احساس او پښېمانی کې پاتې کېدو. پښېماني پښېماني او د ګناه احساس، د ګناه احساس تغذیه کوي. فکر مې وکړ هیله ښېونکې به وي چې د دې په هکله خبرې وکړو چې وروسته

له دې په څه پېښېږي.

له هغه مې وپوښتل په ترکیه کې څه کوي، ولې ایزنیک ته ځي، څه ډول غواړي خپل ژوند تېر کړي.

ویې ویل چې غواړي د ایزنیک آیاصوفی جومات ته لاړ شي. د دې جامع جومات نوم، د عزیز صوفیا کلیسا ده. یو له هغو ځایونو څخه چې د مسیحیت د شورۍ تصامیم هلته نیول کېږي او د مسیحیانو ترمنځ ډېر ارزښت لري...

څومره چې پوه شوی ومو دومینیک مسیحي و او خپل دین ته ژمن و، او د لارې په اوږدو کې یې له ما هېڅ څه شی ونه پوښتل. ګواکې یوازې خبرو کولو ته یې اړتیا درلوده، ته به وایې چې ټول عمر یې د چا خبرو ته غوږ نه وي نیولی. ښکاره وه چې دا ملاقات د هغه لپاره مناسب و. دواړو لورو یو بل ته ښه احساس ورکاوه.

د مینې او دینونو په هکله ډېر وغږېده. د مسیحیت په هکله یې خبرې وکړې، چې د مینې لپاره پراخ شوی و او بیا یې چې اقتدار پیدا کړی و. د ځینو مسیحیانو په هکله په غوسه و. فکر یې کاوه د دې پر ځای چې خلک په خدای مین کړي په دې هڅه کې دي چې له خدایه یې و وېروي. هغوی یې د دې لپاره ملامت او پړه کول چې ښه نظر نه لري او ظلم روا ګڼي.

ویې ویل: «دغو مسیحیانو یوازې د خپلو فکرونو لپاره د ډېرو خلکو د وژلو اجازه ورکړې ده.»

کله مې چې فکر کاوه منصور حلاج مې ذهن ته راغی. څکه «انا الحق» یې ویلي وو، هغه یې په ظلمونو مړ کړ.

بیا مې د آذربایجان لوی صوفي، نسیمي ذهن ته راغی چې د افکارو لپاره یې هغه هم ووژه.

نسیمي داسې څوک و چې بې له ډاره یې حقیقتونه بیانول. مرګ یې د څوپتیا پر وړاندې غوره ګڼه. له دې امله یې امر ورکړی و چې پوستکی یې وباسي چې مړ شي. د روایتونو پر اساس د ټولو د سترګو پر وړاندې په ظلم سره وژل شوی.

دا له درده ډکه پېښنه خلکو لیدلې وه، داسې چې د زمانې مفتي د هغه لوري ته په ګوته اشاره کړې وه او ویلي يې و: «دا داسې کافر دی چې که وینه یې د انسان په کوم غړي باندې ولګېږي باید هغه غړی یې پرې شي.»

نسیمي هم له دې پېښې وروسته دا شعر وویلې:

«گـر قطـع انگشـت شـود از او، بـر خـدا کـافر شـو
لیک زین مسکین عاشق پوست کنند، اشک جاری نشود»

یعنې هغه یوازې د دې لپاره چې ګوته یې پرې نه‌شي، له خپلو باورونو څخه وتښتېدلی شي. یعنې له خدایه تښتي، خو زما، نسیمي، پوستکی رانه باسي، په داسې حال کې چې نه ژاړم.

ډومینیک له ما پوښتنه وکړه: «ته څه کار کوې؟»

هغه ته مې وویل: ډېر وخت کېږي چې د صوفي فلسفه تدریسوم او ومې ویل چې په خواشینی سره دې هغه مسایل یاد کړل، چې دلته هم تېر شوي.

په تلوسې یې وپوښتل: «صوفېزم څه دی؟»

ومې ویل: «دا هغه لاره ده چې په پوهېدو سره یې څوک د خالق او مخلوق تر منځ نه پاتې کېږي. دا د مینې او محبت لاره په توله هستي کې د خالق پیدا کول دي. حداقل له دومره کلونو تعلیم او زده‌کړې وروسته زما برداشت همداسې دی.»

د ډېنیز ذهن د مینې په کلمه کې راګیر او پاتې و.

وېې ویل: «مینه بې له درد او زیانه نور چا ته څه ورکوي؟ وګورئ ملګرو، وګوری ملګرو، زه ډېر مېین شوی یم. خو هیڅ خوښ نه یم. څکه نه پوهېدم چې څه باید کار وکړم، له همدې امله مې ځان ځان ناپېژاندو ته وسپاره. معلوم نه‌ده چېرته ځم او څه کار به کوم.»

ومې ویل: «پام مې دی. د مینې درد د دې لامل شو چې ته له ما سره ووېږنې. کېدای شي اوس هم تا په داسې سفر بیایي چې تول ژوند به دې بدل

کړي، له زغم وله.»

ډنیز وویل: «تا تراوسه د مینې درد ندی لیدلی، ښکاره ده.»

ددې جملې په اوریدو دومینیک هم ډېر وخندل: «ما هم ندی لیدلی په پای کې سرطان شوم، لږترلږه ته سالم بدن او زړه د مینې لپاره لرې.»

کله چې ډنیز وویل: «داسې نه‌ده چې سیالي وکړو، د دې لپاره چې د چا درد لوی دی.»

ګواکې هغه توده فضا یخه شوه. دومینیک پوه نه‌شو چې څه ووایي؛ بیا د دې لپاره چې موضوع بدله کړي ویې پوښتل: «هاکانه! ستا په نظر مینه څه ده؟»

ومې ویل: «له کلمو سره د مینې د بیانولو هڅه د هغې د له‌منځه وړلو په معنا ده، خینې شیان له کلمو سره نه توضیح کېږي. که توضیح یې کړو ارزښت یې کمېږي.»

له دې وروسته مې د پتنګ او اور کیسه وکړه.

داسې مې پیل کړه: «یوه ورځ څلورو پتنګانو له اور سره ولیدل. غوښتل یې پوه شي چې اور څه دی. لومړی پتنګ اور ته نږدې شو او پام یې شو چې ډېر نور تولیدوي. خپلو ملګرو ته ور وګرځېد او ویې ویل: "ویې ویل اور داسې شی دی چې روښنایي ښښي."

دویم پتنګ دا معلومات پوره ونه ګڼل او ویې غوښتل نور هم پوه شي. لږ نور هم اور ته نږدې شو، همداسې یې تودوښه احساس کړه. راوګرځېد او ویې ویل: "ملګرو! اور همداسې یو شی دی چې تودوي مو." درېیم پتنګ وغوښتل نور هم پوه شي، لږ ډېر نږدې شو احساس یې وکړ چې وزرونه یې سوځي.

راوګرځېد او ویې ویل: «همدارازا اور سوځول هم کوي.» وروستني پتنګ وغوښتل نور هم پوه شي، له همدې امله اور ته ډېر نږدې شو. لومړی یې روښنایي ولیده، بیا یې د تودوښې احساس وکړ، بیا د سوځېدو احساس او لږ نږدې هم شو، وسوځېده. په حقیقت کې د اور ربښتیني ماهیت هغه پتنګ درک کړی

و، خو وېې نهشو کولای چې راوګرځي او بیان يې کړي. دا چې اور څه شی دی، څوک يې چې په منځ کې دي پوهېږي، لکه مینه! له همدې امله هغو کسانو چې ربښتینې مینه درک کړې، هغه نهشي شرحه کولای.»

ډومینیک وویل: «څومره ښکلې دې تشریح کړه... په مینه کې نشت کېدل.»

کله چې ایزنیک ته وسېدو لمر لوېدلی و، هوا تیاره شوې وه. ډومینیک تینګار وکړ چې د شپې ډوډۍ له هغه سره وخورو او مېلمه يې شو. ډنیز چې له لوږې مړ کېده، سترګو ته مې خیر شوی و تر څو دا وړاندیز ومنم.

ما هم ومنله. د سفر د لومړۍ ورځې روژي زموږ مخې ته ایښې وه.

ډومینیک که څه هم آلمانی و، په ترکي خوړو مین و. ټولو لومړی د لوبیا، وریجو، مستو او ترشي لپاره سپارښتنه وکړه. ډنیز دومره وږی و چې فکر يې کاوه که هر څه وخوري موړ به نهشي. د ډېرو خوراکونو سپارښتنه يې وکړه د سور کړي چرګ، سلاد، شرومبو، خوږو او ډېرو نورو...

ومې ویل: «آرام، دا ټول نهشې خوړلی، دا څه ډول وضعیت دی؟ د دوو درېیو ساعتونو لوږې دومره وېرولی يې؟»

وېې ویل: «زه عادت نه لرم.» ګواکې له خپلې داسې تمې نه خجالت شوی و، خکه حساب ډومینیک پرې کاوه. یعنې شونې ده چې ډومینیک له بللو نه د شپې د ډوډۍ لپاره پښېمانه شوی وي؟

ډنیز په لږ خجالت سره ورته وویل: «موږ نورمال نه یو. که پوه شې چې موږ څه کار کوو عقل به دې له سره والوځي.»

په خندا يې وپوښتل: «مګر غواړې څه کار وکړې؟»

ډنیز وویل: «ورته ویلی شو چې کشیشان شوي یو. بې له پیسو، ډوډۍ او پلانه په لار روان یو. نه پوهېږو چې څه به رابانډ راځي. نه پوهېږو چې دا لاره به موږ ته څه څه را زده کړي. کېدای شي بې له کومې زده‌کړې بېرته وګرځو. حتی

هیڅ تضمین نشته چې بېرته خپل کور ته ورګرځو که نه؟ هر څه ناڅرګند دي.»

ډومینیک وویل: «ډېر ښه، دا فکر له کومه شو؟ څنګه مو ذهن ته راغی؟»

بیا ما خبرې پیل کړې او داسې مې وویل: «شل کلن وم چې اورېدلي مې و روحاني معلم له هنده زموږ مشاورې ته راځي. د یو داسې ځوان په توګه چې کنجکاو وم د طبیعت فلسفه زده کړم، لاړم چې د هغه ښوونکي خبرو ته غوږ ونیسم. په ټولګي کې نهه یا لس تنه وو. کله چې متوجه شوم ښوونکی په اصل کې د هند نه‌دی د هالنډ دی او شل کاله کېږي چې په هند کې ژوند کوي، حیران شوم. آرامه سړی و، د هندوېزم او نورو دینونو او فلسفو په اړه نه غږېده. هغه ورځ یې د "تسلیمېدو" په هکله مفصلې خبرې وکړې.

ويې ویل چې شل کاله کېږي له کوم ځایه معاش نه اخلي او د مسافر په توګه په نړۍ کې ژوند کوي. د هندستان په بیلابیلو عبادتځایونو کې پاتې شوی و، د هغه له ګډونوالو څخه یو کس له ده نه وپوښتل: "یعنې څنګه؟ تاسې شل کاله بې له معاش اخیستلو ژوند کوئ، په ښارونو باندې په ګرځېدو سره ژوند کوئ؟"

استاد وویل: "هو، په بشپړه توګه مې ځان رب ته تسلیم کړی." هماغه ګډونوال وپوښتل: " له لوږې، په کوڅه کې له پاتې کېدو او یا پیسو ته له اړتیا پیدا کولو څخه نه وېرېږئ؟ دا ژوند دی، د هر ډول پېښې امکان د انسان لپاره شته دی."

استاد ځواب راکړ: «تاسې وېرېږئ؟»

ګډونوال ځواب ورکړ: «که زه وای ډېر به وېرېدم، له همدې امله داسې کار کوم چې ثابت معاش ولرم.»

«یعنې فکر کوئ چې معاش به مو تل ثابت وي؟ که څنګه؟»

«هو همداسې ده.»

«داده یې چې د نړۍ له دې پرله‌پسې کړکېچونو سره په دې زمانه کې به رئیسان هره میاشت ستاسو معاش درکوي. خو زه چې د کایناتو د خالق او پیدا

**کوونکي لپاره کار (خدمت) کوم څنګه کولای شم له هغې روزي څخه چې هره میاشت يې ما ته راکوي، له هغه ځایه چې ما ته به يې راکړي، خان ته شک پیدا کړم؟»**

هغه وخت له دې خبرو نه ډېر اغېزمن شوی وم. ما هم غوښتل د ده په څېر په تسلیمېدو کې پاتې شم. البته د ټولو لارې بدلې دي... کېدای شي زه مې خپل هېواد خوشې نه کړم او مسافر غونډې ژوند ونه کړم، څکه ما بله لاره غوره کړې ده، زه مې په زړه کې بله موخه لرم.

خو هوډ مې کړی و چې هر کال به یوه ټاکلې موده خان په بشپړه توګه رب ته تسلیموم. هوډ مې داسې و چې آرامتیا ورکړم او د دې لپاره چې یوه شمېره تسلیم یم، ځان مې په آزموینو باندې آزمویه.»

خبرو مې زموږ آلماني ملګری ډېر تر اغېزې لاندې راوستی و. توګه په دې هکله بېخي ډېر وغږېدم، سترګې يې را ډکې شوې.

وې ویل: «پوهېږې؟ هغه درس چې په ټول ژوند کې مې باید زده کړی و، همدا و. په کایناتو؛ د خالق په عدالت باندې ډېر بې باوره وم، له همدې امله مې د لبونیانو غونډې کار کاوه، منظم ژوند، د راتلونکي تضمین، تقاعد او پانګه اچونه. هر څه مې باید تر کنټرول لاندې نیولي وای. د دې لپاره چې تقدیر ته تسلیم نه‌شم، داسې شپه راتغله چې آرامه خوب وکړم. یوازې منډې مې وهلې او کار مې وکړ. په نورو هېوادونو کې مې ژوند وکړ، نورې ژبې مې زده کړې، خو اوس د خپل وضعیت د ښه کېدو لپاره مسخره نه‌ده چې غواړم خالق ته مراجعه وکړم او هغه ته تسلیم اوسم؟»

په دې هیله چې لږ مې د دې ملګري پور ادا کړی وي چې له موږ سره يې ملتیا وکړه، هغه ته مې وویل: «که وغواړې شپېلۍ غږول در زده کولای شم.» دې ورانديز چې د ده له تمې څخه لرې دی، حیران کړ. هغه ته مې وویل که له دې سفره روغ او جوړ راوګرځېدم د یوې میاشتې په اوږدو کې به دفتر ته د ده راتلو ته به په تمه شم.

وې ویل: که وغواړې زما له زده‌کړو څخه ګټه اخیستلی شې. هغه ته مې وویل چې د رغېدو په ترڅ کې غواړم له هغه سره مرسته وکړم او په دې سفر کې به يې یوازې نه

کړم او هغه به له یوه ځایه را اخلم او د ځمکې په بل ځای کې به یې ږدم.

د اوښکې ځاځکی یې له سترګو ورغړېده. غوښتل یې په لاس او مخ باندې اوبه واچوي. ډېنیز چې له قابه یې سر نه‌شو پورته کولای هم حیران پاتې و. ویې نه‌شو کولای پوه شي چې څنګه ممکنه ده چې ډومینیک په دومره آسانی هغو کسانو ته خپلې خبرې وکړي چې په لومړي ځل یې لیدلي، څنګه یې هغوی خپل وبلل او دومره یې هغوی خپل ځان ته نژدې وبلل چې د هغوی پر وړاندې یې وژړل.

د هغه تر شا یې وویل: «لکه څلوېښت کلن ملګری مو چې وي، دا څنګه صمیمیت دی؟»

ومې ویل: «ډېنیزه! نه یوازې موږ، بلکې هغه موږ مونډلي یو. لږ یې وآزمویه چې مسایل په خیر وګورې. هغه شي ته یې چې اړتیا درلوده ځان ته یې جذب کړ. هغه مې تش لاس ونه‌شو لېږلی، او موږ هم چې څه شي ته اړتیا درلوده ځان ته مو جذب کړل، هغه هم موږ تش لاسونه ونه‌شو لېږلی.»

هغه خپلې ډوډۍ ته په غرور وکتل او ویې ویل: «زما په خیال موږ ډېر بختور یو. امکان یې درلود چې له کوڅه‌ډب او لنډغر سره مخامخ شوي وو، موږ یې توټې توټې کولو.»

«خو داسې ونه‌شول.»

«هاکان جانه! چانس دی، صرف چانس.»

**«نه د دې نوم چانس نه‌دی، نیت دی. په ښه ډول ووایو نیت ته رسېدل. کله دې چې سفر پیل کړ او د هغه څه لپاره چې اړتیا ورته لرې، نیت دې وکړ، هرومرو یې ترلاسه کوې.** زموږ نیت هم مخکې له تلو دا و چې زموږ روزي راورسېږي، او همداسې وشول. ښکاره ده چې زموږ دې ملګري هم روحي روغتیا او مرستې ته اړتیا درلوده.»

«زما په ګومان اړتیا نشته چې خبره دومره پېچلې کړې. خو چانس دی نو. د څه لپاره ځان دومره په زحمتوې؟ زه اوس د دې په اړه فکر کوم چې شپه به

چېرته تېرووو، تېز باران ورېږي، د خیمې لپاره ځای شته؟»

ومې ویل: «د هغه وار چې راورسېږي بیا به فکر پرې وکړو.»

کله مې چې فکر شو چې ډومینیک د مېز خوا ته راروان دی، نو لـه ډِنیـز ځخـه مې وغوښتل چې بحث ختم کړي.

«څه وخت یې وار رارسېږي؟ زما په نظر یې وخت دی، ځکه شپه رارسېدلې.»

کله چې ډومینیک غوښتل کښني ویې ویل: «هلکانو یـو ورانـدیز درتـه لـرم. راځئ چې نن شپه په ایزنیک کې پاتې شو، سبا تاسې د آیاصوفیا جومات ته بیـایم. څـه وایئ؟ په یوه هوټل کې پاتې کېږو. زه همدا اوس زنګ وهم او د دوه کسـانو لپـاره ځای نیسم. ځکه زما مسافر یاست. منئ یې؟»

د ډِنیز له یاده ووتل چې د خولې مړی وخوري، همداسې حیران پـاتې و. لـه معنا لرونکې خندا سره مې وویل: «د دې سوال ځواب دې ډِنیز ورکړي.»

په ډکه خوله یې وویل: «منو، منو یـې.» کلـه چـې حیـران پـاتې کېـږي نـو د کارټون د اتلانو غوندې کېده. موږ دواړو ته د ډِنیز پـه حالـت بانـدې خنـدا راغلـه. ډومینیک وویل: «وبرېږم چې ونه‌چوې، دومـره ډوډۍ مـه خـوره» ډِنیـز پـه جـدي ډول ځواب ورکړ: «مه وېرېږه غواړم ډوډۍ په ځان کې ذخیره کړم.»

ومې ویل: «نه نو تر هغه حده پورې!»

د هغه مخې تـه مـې د خپلـې خنـدا مخـه ونه‌شوتي نیـولی، ډېـر مـې وخندل. ډومینیک هم د خندا له وجې په ځمکه وغځېده.

د ډِنیز موبایل ته مسج راغی. ځینې وخت مـې د هغـه د موبایـل زنـګ اورېـده. خو پیغام چې راغی ناآرامه شوم. لکه چې ډِنیز زما روحي وضـعیت تـه متوجـه شـو، ځکه له مېزه لرې شو، او پیغام یې ولوست.

کله چې راوګرځېده ډېر ناآرامه ښکارېده. د څو شېبو مخکې خوشـحالي یـې لـه منځه تللې وه. غمجن برېښېده.

کنجکاو وم، خو هغه ته مې ویلي و چې د ټیلیفون شتون مې ناآرامه کوي او په هغه مشغولېدل دې سفر ته زیان رسوي. هغه ته مې یادونه وکړه چې په ورځ کې یو ځل د یوې دقیقې لپاره له ټیلیفونه کار اخیستلی شو، خو په غیر ارادي توګه مې وپوښتل: څه شوي؟

ویې ویل: «هغه ملګری مې چې ډېر راباندې ګران و له دندې ایستل شوی...» ناآرامي یې له همدې امله وه. ومې ویل: «خواخوږي ښه شی دی، په ځانګړې توګه د دوو ملګرو تر منځ، خو په هغه لار کې دې چې پل ایښی دی اساس یې رښتیولي او ژمنتیا ده.»

لکه ماشوم ته چې غوسه شې، ورمېږ یې کوږ کړ او ویې ویل: «ته رښتیا وایې.» هغه شببه مې ښکاره نه کړه، خو همدا چې د ډِنیز غوندې کس راته ووېل چې ته رښتیا وایې، د هغه لپاره ښه ګټل کېده، او له دې مسئلې خوښ وم.

زموږ ترینګلی حالت په چټکۍ سره ښه شو. له ډوډۍ وروسته له یو بل سره هوټل ته لاړو. ډومنینیک کنجکاو و، د هغه ساز په هکله مې چې ورته ویلي و، څه دی. له ما یې هیله وکړه چې سبا په بازار کې شپېلۍ ورته واخلم او هغه ته یې ور وښیم.

ومې ویل: «که زړه دې وي نن شپه به یې دروښیم، ځکه خپله شپېلۍ مې له ځان سره راوړې ده.» موږ یې د چای څښلو لپاره خپلې خونې ته وبللو او ویې ویل: «هلکانو! هیله کوم چې شپېلۍ هم را واخلئ او راشئ، درته په تمه یم.»

د شپې لخوا مې د خپل آلماني ملګري په خونه کې هغه ته شپېلۍ وغږوله. سترګې یې د اوږدې مودې لپاره پټې کړې او د شپېلۍ آواز ته یې غوږ نیولی و. بیا یې په ژړا پیل وکړ او بېرته آرام شو. آرامتیا یې ترلاسه کړه او په هغه ځای کې چې ناست و ژور خوب یووړ.

ډِنیز ووېل: «هاکانه په رښتیا د هغه حال ښه کوي. شپېلۍ په بشپړه توګه هماغه ډول ده چې ته وایې... لومړی درد او غم، بېلوالی، بیا آرامتیا او خوشحالي ښيي.»

ومې ويل: «همداسې ده. که څېرې د بېلابېلو فرهنګونو انسانان هم واوسو، زموږ د احساساتو جغرافیه کټ مټ یو شان ده. بالآخره موږ ټول انسانان یو. ښه تو موږ به هم خپلو خونو ته لاړ شو او ويده به شو. سبا اوږده ورځ په مخ کې لرو...»

ويې ويل: «زه هم غواړم شپېلۍ وغږوم.»

په خندا مې وويل: «یو ته کم وې. د شپېلۍ غږول ستونزمن کار دی. ډېر زغم غواړي. حتی له هغه نه د آواز راېستل هم ممکن میاشتې وخت ونیسي.»

«راکړه! وګوره همدا اوس پکې پو کوم او آواز به یې واورې.»

په تلوسې سره یې نی زما له لاسه واخیست. هر کار یې چې وکړ ویې له هغه نه یې غږ راونه‌شو ویستلی او ويې ويل: «دا شپېلۍ کنه ده.»

ومې خندل.

هر څوک چې دا وايي، ملامتیا د شپېلۍ په غاړه ور اچوي. خو نه پوهېږي چې هغه څه چې خراب دی شپېلۍ نه، بلکې خپله بې صبري یې ده.

هغه ته مې ور وښودل چې څنګه باید په شپېلۍ کې پو کړو. نیم ساعت یې هڅه وکړه، خو ويې نه‌شوای کولای. په پای کې له دې چې ډېر یې پو کړي وو، سر یې وڅرخېده او له ځایه پورته شو.

«وګوره! زه همدا کار کوم او ته به د شپېلۍ آواز واورې، ګورې.»

زما شپېلۍ یې په پور واخیسته او خپلې خونې ته لاړ. څوک پوهېږي چې د شپې په اوږدو کې به یې څومره هڅه کړې وه چې له شپېلۍ نه آواز راوباسي، خو ممکنه ده چې نه به وي برلاسی شوی. ځکه شپېلۍ تر هر څه دمخه د زغم آزموینه ده. رښتینی زغم غواړي، لکه هره بله ښکلا. ښکلې لارې لټوونکی نه لري،

# ۹

که د بیا ژوند کولو چانس مې درلود، ډېر آرام به مې کړی وای. د ژوند په سفر کې د یوه بالغ کس په جدیت نه، بلکې د یوه ماشوم غوندې بې‌پروا به مخکې تلم.

د ځېلو تېرو تجربو تر سیوري لاندې له ځپل باطني آواز سره مخکې تلم. ساعت مې نه په لاس کاوه، خو کله چې راویښېدم، فکر مې کاوه چې مناسب وخت دی.

لمر نه و راختلی، دباندې هوا سړه وه. له ځان سره مې وویل: اوس یې سم وخت دی.

مستقیم د ډنیز د خونې په لوري ورغلم او دروازه مې ور وټکوله. ریښتیا وواېم د هغه ویښول آسانه کار نه و. خوشحاله وم چې د سفر لومړی شپه یې د داسې کېږ په سر تېره کړه چې ورسره عادت و. که په کېږدۍ کې پاتې شوي وای ډېر به ستونزو به برلاسی شوی وای چې په ځپل حال واوسي. وېښتان یې ببر شوي وو، په پرسېدلي مخ او نیمو خلاصو سترګو یې دروازه پرانیستله.

ویې ویل: «ما هم فکر کړی و، چې په خوب کې دروازه ټکېږي، ونه وایې چې زه دې په خوب لیدلی یم او دروازه ټکوې.»

ومې ویل: «ژر تیار شه چې ځو.»

ویې ویل: «څېرته؟ تر اوسه سهار نه‌دی پیل شوی، کوم ځای فتح کوو؟ ویده به شو او آرام به وکړو. جوته نه‌ده چې له کومې پېښې سره به مخ شو، باید له دې فرصته ګټه واخلو، ښه.»

«د مراقبې لپاره خورا غوره وخت دی، له لاسه یې نه‌شم ورکولای.»

«ته يې وکړه، زما يې په مراقبې څه.»

غوښتل يې دروازه بنده کړي، چې ومې نيوله.

« ماشومه! دلته زه قانون ټاکم، يوه اوونی به همداسې وي. څه نه‌شو کولای، زر تيار شه.»

په زوره له خونې راووت. د چاودلو تر حده په غوسه و، خو نور يې غبرګون نه ښوده. يو ځای انګړ ته ووتلو. هوا سړه او نمجنه وه. لمده خاوره، هر ځای له ونو او ګلانو ډک و. کله مو چې ډومينيک تر شيرواني لاندې وليد دواړه هک پک شولو.

له هغه نه مې وپوښتل: «ته په دې ساعت کې پاڅېږې چې لا تر اوسه لمر نه‌دی راختلی؟»

«په ټول ژوند کې تل په دې ساعت کې پاڅېدلی يم. هغه کار دی چې تر هر بل کاره يې ښه کوم. خو تر دې دمه مې له دې پاڅېدلو څخه يوازې مرګ ته د نږدې کېدو لپاره ګټه اخيستې، له دې وروسته به د ډېر ژوند کولو لپاره ګټه ترې واخلم.»

ډېنيز وويل: «خو ويده کېدل او آرام کول بېخي منطقي دي.» کله يې چې له خوبه ډکو سترګو باندې ورته کتل، ډومينيک هغه ته داسې ځواب ورکړ:

«څکه چې فکر کوې ډېر وخت لرې. په داسې حال کې چې موږ يو هم ډېر وخت نه لرو. هره ورځ ممکن ده چې زموږ وروستی ورځ وي، له کومه پوهېږو.»

پام مې شو چې د ډېنيز انرژي په دې سهار کې د مرګ، وروستيو ورځو او د لاسه ورکړل شويو فرصتونو په اړه د خبرو کولو له امله په کمېدو ده. حتی که خبرې يې هم نه وای کړې بيا هم متوجه کېدم چې په زړه کې يې څه ګرځي. زړه يې غوښتل چې بېرته خپل د خوب ځای ته وګرځي. تر اوسه يې خوب نه و تښتېدلی، هوا تياره وه، بيا يې هم خوب کولای شو.

ورانديز مې وکړ چې درې‌واړه يوځای مراقبه وکړو. ډومينيک بې له يوې شېبې فکره په هيجان سره ومنله. ډېنيز هم له ناچارۍ خپل سر وخوځاوه.

ویې ویل: «هله! وبه یې کړو او بېرته به ویده شو. خو ویلي مې دي چې که داسې دوام ورکړې ما به په نیمه لاره کې له لاسه ورکړې. تر پرونه پورې صوفي وې او اوس هندو! دا سرعت زما لپاره ډېر دی.» د ډنیز توکې دومینیک ته هم خوند ورکړ او د خپلې خندا مخه یې ونه‌شوای نیولی او ویې ویل: «رښتیا هم چې تاسې دواړه ډېر خواږه یاست. کنجکاو یم چې وګورم دا لاره ستاسو لپاره څنګه پای ته رسېږي. که په خپلې ناروغۍ برلاسی شم، یوه میاشت وروسته به استانبول کې ستاسو خوا ته درځم. غواړم پوه شم کومې پېښې مو له سره تېرې کړې.»

ومې ویل: «حتماً... خو اوس د مراقبې وخت دی. سربېره پر دې، د مراقبې کلمې ریښه د هندي یا بودېزم له ژبې څخه نه ده اخیستل شوې. یعنی په هندو اوسېدو پورې اړه نه لري. مراقبه یا مدیتېشن فرانسوي کلمه ده. په فرانسوي کې مدیتېشن ویل کېږي او زموږ په ژبه کې په تفکر یا مراقبې ژباړل کېږي. په لاتین کې د ژور فکر لپاره کارول کېږي؛ یعنې هغه کار چې له تاسو یې غواړم دا دی چې یو ساعت په چوپتیا کې ژور فکر وکړئ.»

ډنیز وویل: «زه ډېر فکرونه او خیالونه لرم.» همداسې چې د چوترې په ګوښه کېناسته دوام یې ورکړ: «د کوم یوه په اړه فکر وکړم؟ چې دوه ورځې هم دلته کېنم نه خلاصېږي.»

ومې ویل: «ژور فکر داسې کوم شی نه‌دی.» او وروسته مې دوی ته یو تمرین ورکړ چې هغه ته «د شکر پر څای کول» وایم او ومې غوښتل چې ویې کړي. انسان ډېر ژر هېروي چې کوم نعمتونه لري. داسې ده لکه د خزانې په سر چې کېني او سوال وکړې... شکر ادا کول له موږ سره مرسته کوي، چې هغو شیانو ته مو پام شي، چې موږ یې خاوندان یو. زموږ د انرژۍ کچه زیاتوي. روحیه مو ښه کوي. همااغسې چې شمس ویلي: «له شکر کولو سره، هغه شیان چې بایه شکر پرې وباسې ډېرېږي.»

د سهار مهال دا مراقبه چې د باد، چنچنو او چرګانو د غږونو له موسیقي سره

مله وه. د مراقبې له پای ته رسېدو سره د ټولو انرژي بدله شوې وه. د ډېنیز په شونډو باندې موسکا وه. دواړو له ما ته مننه وکړه. له سباناري وروسته یو ځای د آیاصوفیا جومات ته لاړو او ډومینیک د هغه مخینه په لنډو ټکو کې موږ ته بیان کړه. زموږ لپاره له زده کړې او خونده ډکه ګرځندویي وه.

د غرمې مهال د خدای په امانی وخت رارسېدلی و، په کافه کې د آیاصوفیا جومات ته مخامخ مو له یو بل سره مخه ښه وکړه، له ډومینیک نه مو د هغه د ټولو مرستو لپاره مننه وکړه. که قسمت و، ان شاء الله بیا میاشت به هغه وینو. هغه هم دوه ورځې نور ایزنیک ته روانېده، بیا یې استانبول ته د تللو هوډ درلود. د درملنې لپاره یې ستونزمنه دوره په مخ کې درلوده. له هغه مې وغوښتل چې ما ته خپله پته راکړي. څنګه چې راوګرځېدم، یوه شپېلۍ به ور ولېږم. له روغتون وروسته یې هوډ درلود چې د شپېلۍ غږول زده کړي. له یو بل سره مو همداسې هوډ وکړ. له ډېنیز سره یو ځای مو خپل بارونه په شا کړل او په لاره مو حرکت پیل کړ.

له ایزنیکه مو د اُرهان قاضي د جادې په لور حرکت پیل کړ. ریښتیا چې د یوې ناڅرګندې پېښې په زړه کې وو. دا لاره چېرته تللې، تر کومه ځایه اوږدېدلی شوه، د دې لارې تر پایه به واوسو که نه؛ نه پوهېدو او ډېرې خبرې مو ونه کړې، خو ډېر مزل مو کړی وو، خولې شوي وو. سربېره پردې، چې باد چلېده، سوځوونکی لمر و. په ګرمۍ کې سفر ورو ورو ستونزمن کېده. یوه شېبه مې ګواکې ډېنیز د ژړا په حال کې لیده. نه مې غوښتل د هغه له باطني تضادونو سره د مخامخ کېدو خنډ وګرځم. څوک پوهېږي چې په ذهن کې یې څه تېرېدل، له خپل کوم ډار او کمزورتیا سره به مخ شوی وای...

لږ وروسته یې وویل: «د بې ارزښتۍ احساس کوم.»

چوپتیا مې غوره کړه او هېڅ مې هم ونه ویل. هېڅ مې پوښتنه ونه کړه چې ولې دا حس لري. **کله نا کله چوپتیا د خبرو کولو په پرتله ډېر تاثیر لرلی شي.** په حقیقت کې که چېرې هغه غوښتل چې بیان یې کړي نو بیانول یې.

Scanned with CamScanner

لږ مخکې تللي وو، له ډنیز نه مې د خوښۍ یوه چیغه واورېده. له ماشومانه تلوسې سره یې وویل: «د لونګ ګلونه، د لونګ ګلونه.» په همدې وخت کې مې د هغه پر مخ اوښکې هم ولیدلې. تروې اوښکې چې له خوښۍ سره ملې وې... ډېر خوشحاله روحي حالت یې درلود. څوک څه پوهېږي چې څه طوفانونه یې په زړه کې راپورته شوي.

په لوړ غږ یې چیغې وهلې: «زه د لونګو په ګلانو مېین یم.» د لونګو په لور یې منډه کړه. زړه یې نه کېده چې هېڅ یو راوشکوي، یوازې تیت شو او بوی یې کړل. حتی له هغو سره یې خبرې هم وکړې او ویې نازول.

خوښ بربښېده. لږ د ګلانو منځ کې کېناستلو. بیا یې له خپلې بوغچې نه یوه ګلابي کتابچه راوویستله: «صوفي! ته اوس ما ته غوږ شه، ته یوازې یادښت نه لیکې او کتابونه نه لولې. موږ هم په دې کار کې بد نه یو، ستا له پېژندلو وروسته دې حقیر بنده هم ډېر یادښتونه لیکلي دي.»

رښتیا ووایم خوښ مې شو. بهر یو ښه حس راته پیدا شو. دا چې ډنیز د خپلې کتابچې پاڼې اړولې او زما لپاره د کوم شي په لوستلو پسې ګرځېده، ما تلوسه درلوده.

ویې ویل: «بالآخره مې وموندله» او په لوستلو یې پیل وکړ:

«د ۸۹ کلنې مېرمنې د ژوند درس... که د بیا ژوند کولو چانس مې درلود ډېر آرام به مې کاوه. د یوه بالغ فرد په جدیت نه، بلکې د یوه ماشوم په بې‌پروایي به مخکې تلم. ډېرې وخت به د غرونو سر ته ختلم، له چینو به تېرېدم او ډېر وخت به مې د لمر د غروب تماشه کړې وای. هغه وخت مې ډېر رښتیني او لږ خیالي مشکلات درلودل. اوه هو، ښې شېبې به مې هم درلودې او که کولای مې شول چې هر څه له سره شروع کړم، څو ان لپاره به مې ډېرې شېبې جوړولې. حتی یوازینۍ موخه به مې دا وه چې ښې شېبې رامنځته او لا ډېر به د لونګ په ګلانو مېنېدم.»

ځینې خبرې په یوازېتوب سره ډېره ژورتیا نه لري. دا چې څوک هغه خبره کوي، نو هغه ته پراخه معنا او ارزښت ور وبښي. دا شعرونه چې ډنیز د خپل

یادښت له دفتره ما ته ولوستل په یوازې توګه بې معنا کېدای شي. خو په دې باندې پوهېدل چې د داسې مېرمنې له زړه نه چې د خپل عمر په وروستیو کلونو کې د ۸۹ کلونو په عمر ویل کېږي، د هر شي معنا او مفهوم بدلوي.

ډنیز بیا خلې ولوست: «ډېر به د لونګ په ګلانو مینېدم. اعتراف کوم چې د دې جملې له بیا اورېدلو سره مې د بدن ویښتان ځیږه شول. هغې مېرمنې چې ۸۹ کاله ژوند کړی او ډېر اوږد ژوند یې کړی؛ اغېزمنه نه‌ده، ژوند یې په داسې جزئیاتو بیان کړ؟»

د منلو په نښه مې سر وخوځاوه. د ډنیز کتابچه مې راواخیسته او هغه برخه مې بیا ولوستله.

«که د بیا ژوند کولو چانس مې درلود، ډېر آرام به مې کړی وای.» په اصل کې ډېر ارزښتمن تلنګر دی... په ځانګړې توګه د نن ورځې د انسان له نظره؛ ټول تل د منډو په حال کې یو، خو نه پوهېږو چې چېرته لاړ شو. یوازې په بېړه کې یو. په داسې حال کې چې دا بېړه مو ژر هغه ځای ته نه رسوي چې موږ یې غواړو، ځکه آرام نه کوو. په ځنډ سره ډېری وخت هغه څه ته چې غواړو یې رسېږو.

«د ژوند په سفر کې د یوه بالغ کس په جدیت نه، بلکې د یوه ماشوم په بې‌پروايي به مخکې تلم»... ربښتیا هم همداسې ده... ربښیني پوهه په ماشوم کې نغښتې ده... په شتون سره یې موږ جدي بالغو کسانو ته ډېر شیان را زده کوي، څنګه په یوه کوچنۍ خونه کې د لوبو په یو څو شیانو خوشحاله کېږي او لوبې کوي، که د چا له امله یې زړه هم مات شوی وي، پینځه دقیقې وروسته یې غوسه له منځه ځي، داسې پُخلا کېږي چې ګواکې هیڅ هم نه‌دي پېښ شوي، هره پېښه چې رامنځته شي خندلی شي. په داسې حال کې چې مشرانو ته جدیت مهارت ښکاري. خندل بې ادبي او سپکوالی ګڼي... ګواکې جدیت د اطمینان حس ورکوي... په داسې حال کې چې په بشپړه توګه برعکس ده... خندل نوښت رامنځته کوونکي دي، جدیت ناروغي ده، ړندوونکی او ستړی کوونکی دی.

انسان منزوي او شنډوي.

یاشار کمال دا مسئله په ډېره ښه توګه په خپل شعر کې بیانوي:

«وخانده چې تیاره له منځه لاړه شي

وخانده او بدبیني، ترهوره کړه

وخانده چې په مخ باندې دې ګلان وغوړېږي

چې رڼا دې له موسکا سره خپره شي.»

**«ډېر به د غرونو سرونو ته پورته ختلم، ډېر وخت به له چینو تېرېدلم او د غروب ډېره تماشه به مې کړې وای. هغه وخت مې ډېرې رښتیني ستونزې او لږ خیالي ستونزې درلودې.»**

کېدای شي دا کرښې چې ډِنیز نوټ کړې وې، په حقیقت کې د هغه د فکر زړې وو چې اوس یې په ژوند کې د هغو حاصل راښکاره کېده.

د دې په ویلو: «**ډېرې شپې به مې خان ته جوړولې او لا ډېر به د لونګو په ګلانو مینېدلم.**» لیکنه یې پای ته ورسوله. اوس مې هغه ځوان ته چې ځان یې په بې پروایي سره د لونګو د ګلونو غېږې ته سپارلی و او د هغه د تجربو او لیکنو تر منځ ورته‌والي ته یې کتل.

ومې ویل: «ډِنیزه، پام دې دی چې همدا شیبه لګیا یې خپلې لیکنې تجربه کوې؟»

ویې ویل: «هو، پام مې دی او له تا څخه مننه کوم چې لامل یې وګرځېدې. نن مې هم ډېر څه زده کړل.»

**«پوهېږې ډِنیزه، ته هم زما لپاره وسیله شوې. د بېلګې په توګه ما هېڅ دا د لونګو ګلان ونه لیدل. په لاره باندې بوخت شوی وم... نه وینم چې شاوخوا ته مې څه روان دي. دا یو فرصت شو، چې شاوخوا، کیڼ او ښي لوري ته وګورم. کېدای شي ژوند به مې همداسې تېر کړی وي، هو، هغه تمځای چې باید ورته ورسېږو هغه مو موخه نه‌ده ټاکلې. یوازې د ځان لپاره مې په لاره مخکې تلل موخه ټاکلې. فکر کوم یوازینی موخه مې همدا ده. په داسې حال کې چې د لارې شاوخوا ګټه ګونه ده. د لارې شاوخوا له**

**ښکلاوو، فرصتونو او نښو څخه ډکه ده... باید دا ولیدل شي... له تا مننه کوم چې زه دې د لارې د څنګ له لونګو ګلونو سره ویښ کړم.»**

هماغسې چې استاد وویل: «د زده کولو او پوهېدو په نیت په لاره ځې، که څېل ځان دې له څپل کبره خلاص کړې، په ډاډ سره چې له هغو شیانو سره به مخ شې، چې غواړې پرې پوه شې.»

د څپل استاد دا خبره را په یاد شوه او په ژوره توګه مې د هغه په هکله فکر کاوه چې ډنیز وویل: «غوارم شپېلۍ وغږوم.» البته په آرام او صمیمي آواز سره. له یوه شوق سره یې شپېلۍ په لاس کې ونیوله. څو ځلې یې پکې پو کړل خو ونهشو، شپېلۍ له هغه سره خبرې ونهکړې.

# ۱۰

«د ماشومانو یوهاوی ډېر ارزښتمن دی. د بېلګې په توګه، مشرانو ته ور زده کولای شې چې بې دلیله خوشحاله واوسي او ټینګار وکړي چې خپلو غوښتنو ته ورسېږي...»

کله چې هوا په تیاره کېدو شوه، له اصلي لارې نه مو په پلي مزل د خورا نږدې کلي په لور تګ ته دوام ورکړ، نور مو اړتیا درلوده چې یوه کرونده، چینه یا باغ پیدا کړو. نور مو پښو حرکت نه کاوه. بخت مو نن د هیچهایک لپاره د ځای پیدا کولو لپاره یاري ونه کړه. په ډېر امکام سره اړ به شو چې په دې شاوخوا کې کوم ځای مېلمه شو.

د یوه کلي چوکاټ مو ولید او په هغه لوري مو حرکت ور وکړ. وروسته له دې چې د کلي له شني دروازې تېر شولو، د کلي ډګر ته ورسېدو.

د مازدیګر د لمانځه آذان تر غوږو کېده، لومړنی څه مو چې ولیده د کلي اجاره‌اي کورونه وو، بې له ځنډه ورننوتلو.

هغه سړی د نغري تر څنګ ناست و، ورته ومې ویل چې له لارې نه راغلي یو او توضیح مې ورکړه چې موټر هم نه لرو. ومې پوښتل چې آیا په کلي کې داسې چینه شته چې اوبه ترې وڅښو که نه او داسې څوک شته چې له خپله باغه موږ ته مېوه راکړي؟

ویې ویل: «صبر وکړه، صبر وکړه.» بیا یې خپله پښه د نغري له شا نه راکش کړه او ګوډ و مات زموږ په لور راغی. نوم یې ګوډ علي و، له زېږون راهیسې یې هغه ته د «ګوډ» په نوم غږ کاوه. حتی مخکې له دې چې پښه یې زیان ژوبله شي، ګواکې له ماشومتوبه یې دا بار پر اوږو ور ایښی و، ویې ویل: «تاسې ته اوبه هم درکوم، چای هم، څه اړتیا ده چې چینې پسې وګرځې؟»

ډنیز وویل: «کولای مې نه‌شوای چې نور ودرېږم، ساه نه‌شم اخیستی، له تندې مرم.» دباندې ووتلو او یوه لرګین مېز ته کېناستلو. څکه چې ډېر ګرځېدلي وو؛ دواړه لامده او په خولو کې ډوب وو.

په اصل کې لږ پاتې وو، مونږ دواړه له لوږې ومرو. خو لومړی د تندې ماتولو په هڅه کې وو.

ګوډ علي د اوبو یو جک له دوو ګیلاسونو او دوه پیالې تازه دم کړي چای سره په مېز سر کېښودل...

هغه ته مې وویل: پیسې نه لرو. له همدې امله مې تړي وغوښتل چې زمونږ لپاره ډېر ښکته او پورته نه‌شي او له هغه ځایه چې نه‌شو کولای چې بیه یې پرې کړو، هیله مې ترې وکړه چې مونږ پوروړي نه کړي او ومې ویل چې د اوبو لپاره مننه. هلته دمې کولو مونږ ته ښه حس راکړ.

ډنیز غوښتل ووایي: «چې پیسې لرم» چې یو ځل له خپلې خبرې وګرځېده.

زه کړي یې و چې هغه پیسې یې چې له ځان سره راوړې ګټه ترې نه‌شي اخیستلی، حتی په دې هڅه کې و چې څنګه د هغو پیسو له شره ځان خلاصولی شي.

ګوډ علي زما خبر راپرې کړه او ویې ویل: «دا څه رقم خبره ده، د چای لپاره زما مېلمانه یاست.»

ویې ویل: «کله چې میدان ته دننه شوئ له دوو لارو سره به مخ شئ، په خامه سړک باندې کېن لوري ته مخکې لاړ شئ، هلته د اوبو یوه چینه ده، دا مې څکه وویل چې په یاد مو وي.»

ومې ویل: «خدای دې وساته.» لږ دمه مو وکړه او بیا مو حرکت پیل کړ. ډنیز ستړی و، خو نن یې ډېر شکایت نه کاوه.»

غوښتل مې مناسب ځای پیدا کړم چې په کلي کې کیږدی ووهو. که نه پیدا کېده له اوسېدونکو مې هیله کوله چې مونږ ته اجازه راکړي چې په انګړ کې یې

کېږدۍ ووهو.

هغه چینه مو پیدا کړه، چې ګوډ علي را ښودلې وه. لږ د چینې تر څنګ کېناستلو او بیا مو اوبه وڅښلې.

ومې لیدل چې هلته د بایسکیل پلورلو یو پلورنځی دی. د دروازې پر مخ لیکنې یې زما پام ځان ته ور واړاوه. د دې لپاره چې ښه یې ووینم، مخکې ورغلم:

«د بایسکیل جوړول د ماشومانو لپاره وړیا دي.»

سر مې پلورنځي ته ور ښکته کړ او ومې پوښتل: «سلام! په رښتیا وړیا دی؟»

ویې ویل: «هو همداسې دی، ماشومان پیسې له کومه کړي؟ د هغوی ټوله غوښتنه لوبې دي. څه اړتیا ده، چې ذهن یې په دې مسایلو کې راګیر شي؟»

د ډېنیز سترې موسکا زه اغېزمن کړم او ویې ویل: «له ماشومتوبه په بایسکیل چلولو مېین وم. د لوبو سامان مې هیڅ نه خوښېده.»

مِسټري لـه مـوږ وپوښـتل: «ګرځنـدوی یاسـت؟ ښـکاري چـې د دې سیمې اوسېدونکي نه یاست.»

ومې ویل: «مسافر یو، سفر د حج د سفر په ډول دی.»

مِسټري له تلوسې سره وویل: «واه، واه، راځئ دمه وکړئ او ما ته ووایئ چې د حج د سفر مسافر، یعنې څه.»

موږ ته یې یوه پیاله چای او هغه سفنجي بوریک چې مېرمنې یې غرمه ورته راوړی و، کېښودل. همداسې چې خبرې مو کولې هغه مو هم وخوړ.

دا چې ډېنیز بیداره شو، زه آرام شوم. د دوه مړی ډوډۍ او یوې پیالې چای په څښلو سره یې حالت ښه شو.

بیا یې د تېر په څېر خپلې ډېرې خبرې پیل کړې، د خدای شکر دی. ویې پوښتل: بایسکیل پلورنځی هم لرې؟

Scanned with CamScanner

مِستري وویل: «مګر کېږي چې ویې نه لرم.» مخامخ بایسکیلونو ته یې اشاره وکړه او ویې ویل: « دا ټول نوي دي» دویم کتار ته یې هم اشاره وکړه او ویې ویل: «دا دویم لاس دي، خو ټول د خرڅلاو لپاره دي.»

ډِنیز وویل: «څومره ښه.» ګواکې اوربېدلي مې و چې په ذهن کې یې څه تېرېږي. ژر یې د پیسو بټوه راوویستله او پیسې یې وشمېرلې، مِستري ته یې ور وښودلې او ویې پوښتل: «په دې پیسو باندې بایسکیل پېرودلی شم؟»

سړي وویل: «اوه، په دې پیسو باندې لس بایسکیلونه پېرودلی شې.»

«نو لس بایسکیلونه اخلم.»

سړي په حیرانتیا ورته وکتل او له دې چې د شپې په سر کې یې داسې ښه سودا وشوه، خوښ شو.

له ډِنیز نه مې وپوښتل: «څه غواړې، په لسو بایسکیلونو باندې لارې ته دوام ورکوو؟»

ویې ویل: «نه، زموږ لپاره دوه عرادې بس دي، نور ماشوماتو ته ډالۍ ورکوم.»

ډِنیز له مِستري نه وغوښتل هر څنګه چې وي هغه د کلي ماشومان پېژني، بایسکیلونه دې هغو ماشوماتو ته ورکړي چې نه یې شي اخیستلی او هغوی دې خوشحاله کړي.

مِستري وویل: «سمه ده، په ډاډ سره چې خوشحالوم یې، همدا زموږ کار دی.»

ډِنیز ته مې وویل: «مخکې له دې چې هوا تیاره شي، باید حرکت وکړو.» باید ژر مو د اوسېدو لپاره ځای پیدا کړی وای، له مِستري مې وپوښتل: داسې ځمکه شته چې امنیت ولري تر څو کېږدۍ پکې ووهو؟

ویې ویل: «له کلي نه وتلو په مسیر کې داسې ځایونه شته چې د کېږدۍ وهلو لپاره مناسب دي. د یږ، لېوه، خوګ او داسې نورو حیواناتو خطر پکې نشته.»

کله مې چې دا واورېدل ومې ویل: «وای... د دې په اورېدلو ډېر خوشحاله شوم. موږ هم کېږدۍ ووهو. د خبرو او چای لپاره ډېره مننه، خپل حق دې موږ ته راوښیه.»

Scanned with CamScanner

مِستري تر دروازې پورې بدرګه کړو او ویې ویل: «دربښلی مې دی، دا نو ښکلی خبره ده.»

په بایسکیلونو باندې سپاره شولو او پایډل وهل مو پیل کړل.

ډِنیز ماشومانو غوندې خوشحاله و.

ویې ویل: «کلونه کېږي چې بایسکیل مې نه‌دی چلولی، خو ګوري چې له یاده مې نه‌دی وتلی؟»

په خندا مې وویل: «ګورم، ګورم. ځینې شیان دي چې وغواړې او که ونه غواړې د عمر تر پایه دې له یاده نه وځي.»

چیغې یې کړې: «راځه چې سیالي وکړو.» او په چټکی سره یې پایډل وهل پیل کړل. ته به وایې چې باد و. ما هم سرعت ډېر کړ او ورپسې ورغلم. له غونډیو نه په چټکی سره له ښلاندو چینو سره ښکته روان وو. دربډل مو ناشونی ښکارېدل. د بایسکیل په سر د داسې الوتونکي غوندې په الوتلو وو چې فکر مو نه کاوه چېرته کېنو.

یوه بادي ژرنده له لرې راښکارېدله. پام مې شو چې ډِنیز د ژرندې په لور بایسکیل څغلوي.

باید دې ته مو فکر کړی وای چې داسې پرواز به له شوره ډکه ناسته ولري، خو فکر مو هم ونه کړ. د ډِنیز بایسکیل د دوو تیرو تر منځ بند شو، کله چې په ځمکه ولوېد، نه پوهېدم چې څه وکړم. ښی وریځه یې په ځمکې د لګیدو له امله شلېدلې وه او له دواړو زنګنونو نه یې وینه بهېدله. کله یې چې وویل چې خپله یوه پښه نه‌شي ښورولی، ډېر وډار شوم، د درد له امله یې ژړل او زګېروی یې کاوه.

بې له ځنده مې له خپل بکسه اوبه او بنداژ راواخیستل. زنګنونه مې ورته پانسمان کړل.

لاس یې زما په غاړه واچوه او مرسته مې وکړه چې پورته شي، خو په رښتیا یې

هم نه‌شوای کولای چې په ښی پښې باندې ودرېږي.

ویې ویل: «باید روغتون تـه لاړ شـم. کېدای شي ماتـه شـوې بـه وي. ډېره خوږېږي، له دې حالت سره په لاره نه‌شم تلی.»

ومې ویل: «اړ یو چې تر سړکه پورې پلي لاړ شو. هلته باید موټر پیدا کړو چې موږ ورسوي.» په دې حالت کې مو د دې لپاره فکر نه کاوه چې کېږدی ووهو. دا چې ډِنیز په تیپي پښه شپه تېره کړي، شونې وه چې خطرناکه وي.

برلاسي شوي وو چې سړک ته په رسېدو یوه لارې ودروو. دا چې ټولـه ورځ مـو ګرځندويي ونه‌شوای درولی، خو په شپه کې همدا چې ومې غوښتل لاس مې پورته کړم یوه لارۍ ودرېده، یوازې ویلی شم چې قسمت مو و.

موټروان ته مې وویل: اړ یو چې روغتون ته لاړ شو. د ډِنیز حالت هـم ښکاره و، بایسکیلونه مو د لارۍ شا ته واچول او سپاره شولو.

موټروان تر ټولو نږدې روغتون ته ورسولو او بېړنۍ برخې تـه ورننوتلو. د خدای شکر و، چې د ډِنیز پښې کسر او درز نه درلوده، بلکې پښه یې ګرېدلې وه، یوازې ډاکتر ترې وغوښتل چې دوه ورځې په احتیاط سره په لاره لاړ شي.

ډِنیز په ستومانو سترګو ما ته راکتل، زما په مخ کې د دې پوښتنې په ځواب پسې ګرځېده چې څنګه لارې ته دوام ورکړو.

له هغه نه مې وغوښتل چې خپله آرامي وساتي او ومې ویـل: **«کـه چېرتـه اراده لرې او په نیت کې دې ثابت قدمه یې، لاره درته خلاصېږي، مه ډارېـره. پـه کومـه لار دې چې قسمت وي، حتماً پرې مخکې ځې، ته دې یوازې په خپل ښه کېدو پام کوه.»**

په توکو یې خپلې پښې ته اشاره وکړه او ویې ویل: «حال ته مې ګوره، د وینـې بهېدو له امله مرم.»

ومې ویل: «هو، رښتیا چې دا وینـه بهېدنـه نـه پرېـږدي چـې تـه ژونـدی پـاتې شې، په ټولنیزو شبکو کې اعلان وکړو چې وینې ته اړتیا لرو؟»

«هو وبه وایو، د منفي او (O) ګروپ وینه.»

«ښه داسې؟ په خواشینی سره زه تا ته وینه نه‌شم درکولی، زموږ د وینې ګروپونه توپیر لري.»

په دې وخت کې یې یو ځوان د څنګ تخت ته راوړ چې د موټروانی پر وخت یې حادثه کړې وه، ښکاره وه چې تېږي کس یې چې راوړی و ډېر چانس یې نه درلود او باید ژر عملیات شوی وای. ډېر ژر خبر شولو چې د منفي او (O) وینې ګروپ ته اړتیا ده.

دواړو هغه شپه یو بل ته وکتل، هغه څه چې د ډِنیز له زړه تېربدل ګواکې د هغه پر مخ مې لیدل. هغه ته د دې په ښودلو چې پام مې شوی و، وویل یې له ډاکټر سره خبرې کوم، لا ډېر ځند نه و شوی چې له نرس سره ډِنیز ته ور وګرځېدو.

کله یې چې نرس ولید، بې له ځنډه یې وپوښتل: «وینه ورکولای ک نه؟»

د خدای شکر چې نرس وویل: «هو، کولای شې.»

د نن ورځې په څمکه لوېدو یې ستونزه نه وه رامنځته کړې او هغه وکولای شو تېږي کس ته وینه ورکړي. د ځوان تېږي خپلوان یو یو روغتون ته راتلل. یوه ښځه د ډِینز خوا ته راغله او هغه یې په غېږ کې ونیوه، څو ساعته وروسته پوه شولو چې د تېږي مور ده.

ویې ویل: «ته له دې وروسته زما زوی یې. په خپلې وینې دې زما د زوی ژوند وژغوره. که د عمر تر پایه مې تاج هم په خپل سر کېږدم ستا پور نه‌شم ادا کولای.»

«هیله کوم. که هر څوک که وای همدا کار به یې کړی وای.»

د تېږي خور، پلار او تره هم له ډِنیز نه مننه وکړه. یوه شپبه یې هم موږ یوازې نه پرېښودو. غوښتل یې داسې لږ مینه جبران کړي.

ډِنیز هک پک پاتې و، خبرې یې نه‌شوای کولای او نه یې حرکت کاوه. سترګې یې لمدې شوې وې او په هماغه ځای کې چې ناست و، په خپل ځان کې

ډوب و. نه پوهېده د هغې کورنۍ د ډېر عزت ورکولو پر وړاندې څه ووايي، د هغوی د مننې کولو تر بار لاندې راغلی و. رښتیا چې آرامتیا او چوپتیا یې د وجدان له آرامۍ سره بې تړاوه نه وه. وجدان یې آرامه و. ښه او له ستایلو څخه ور احساس یې ټول وجود نیولی و. دا بشپړ پای او کمال‌کاري وه چې باید کړی یې وای، هغه یې ځوانمردۍ ته هڅاوه.

بیا د کورنۍ له ټولو غړو سره د روغتون کافتریا ته لاړو او هلته کېناستلو. د ډېنیز په څېره کې د نه ستایلو وړ خوښي وه. لومړی ځل و چې د یو چا په ژوندي پاتې کېدو کې یې برخه اخیستې وه یا هم ممکن وه چې د لومړي ځل لپاره یې احساس کړی چې د چا په درد خوړل شوی. مګر مخکې له دې چې د لونګو د ګلانو په لور وخغلي د خپلې بې ارزښتۍ په هکله یې څه نه ویلې؟ ډېر عجیبه ده... ګواکې مخکې له دې چې ناروغي یې ښه شي باطني روغتیا یې ترلاسه کړې وه...

له کورنۍ سره مو لږ خبرې وکړې. له مور یې وپوښتل چې له کوم ځایه راغلي یو او چېرته ځو. ما هم زموږ داستان په لنډه توګه ورته بیان کړ. د هغه تېي پلار د تریلي موټروان و. سبا د چاناک کاله په لور روان و. ویې ویل چې خوشحاله کېږي چې موږ هم له ځان سره بوځي. سربېره پردې، ټینګار یې وکړ چې د شپې له خوا د هغوی په کور کې مېلمه شو.

ډېنیز وویل: «خو داسې ستاسو د زحمت لامل کېږو.»

د کورنۍ پلار وویل: «اختیار لرئ، رحمت یئ، مېلمه د خدای دوست دی.»

# ۱۱

«مور يې اسيران کړي يو
مور يې په بنديخانه کې اچولي يو
زه يې د بنديخانې دننه
او ته يې له هغه دباندې
البته زمونږ کار آسانه دی
خو بد شی دا دی چې انسان
په پوهې يا ناپوهی سره
په خپل باطن کې زندان جوړ کړي...»
ناظم حکمت[۱]

هوا چې روښانه شوه د چاناک کاله په لور مو حرکت وکړ. ښاغلي مراد لـه هيلو او شکرگذاری نه ډکه خبره درلوده. نيمه شپه يې د خپل زوی د ښه کېدو حال اخيستی و چې په هوش راغلی او د خپلې مـور لاس يې نيولی او پـه کـراره يې ويلي و چې «راغلم». ډاکترانو ويلي چې وروسته له دې به يې د ښه کېدو پروسه آسانه وي. بالآخره ښاغلی مراد هم برلاسی شوی و چې پـه آرام فکـر پـه لاره لاړ شي او نور يې د زوی لپاره انديښنه نه درلوده.

که څه هم هغه يې کولـه چې څرگنـد نـه‌شي، خو لـه پـرون شپې راهيسې ماشومانه او معصومه تلوسه د ښاغلي مراد په خبره کې ښکارېدله...

په داسې توگه يې زمونږ بايسکيلونه په خپله تـريلي کې کېښـودل چې گـواکې آسمان ته لاره جوړوي او له وريخو څخه تېرېږي.

---

[۱] د ترکيې نوموتی شاعر چې له ۱۹۰۲ نه تر ۱۹۶۳ ز پورې يې ژوند کړی.- ژ.

د اشترنګ تر شا چې کېناست، ژوره ساه یې وویستله او ویې ویل: «د خدای کارونه دي، هلکانو! نور په دې پوه شئ چې هره شېبه چې ساه اخلئ، هغه لورینه ده چې الله تعالی تاسو ته دربښلې ده.»

ډنیز چې خپله ټېې شوې ښبنه په څوکی اورده کړې وه، ځواب یې ورکړ: «رښتیا چې همداسې ده.»

د دې ځواب په اورېدو چټک او لرې زما له تمې حیران شوی و. تلوسه مې شوه چې څه به وایي، د همدې لپاره شا ته وګرځېدم او د هغه مخ ته مې ور وکتل.

دا ځل مې داسې ځوان ولید چې ستړی، خو آرام او په ځان یې اعتماد درلود. ویې ویل: «انسان نه پوهېږي چې له څه شي سره مخ کېږي.» بیا په داسې توګه چې وغواړي زما کتلو ته یې ځواب ورکړی وي، ویې ویل: «مګر داسې نه ده؟ مثلاً پرون مې بایسکیل چلاوه، کولای مې شول داسې په ځمکه ولوېږم چې بیا به هیڅ پورته شوی نه وای. د خدای شکر دی چې یوازې سطحي ټپي شوم، همدا. د مراد کاکا زوی به هم پرون دا وخت آرام، روغ او جوړ په خپل کټ کې ویده و، خو نن د روغتون د تخت په سر پروت دی او د دویم ځل لپاره یې ژوند ته سترګې پرانیستې دي. زما په آند تقدیر شبېه په شېبه له سره لیکل کېږي. باید زده کړو چې له ژوند سره همغږي واوسو... لکه څرنګه چې مراد کاکا وویل: "هره ساه یوه دویم ځلي فرصت دی"... هم ستا لپاره او هم ستا شاوخوا کسانو ته. باید په خلاصو سترګو ژوند وکړې. باید پام دې وي چې هره ساه څه معنا لري.»

په موسکا سره مې وویل: «آفرین، زما په آند دومره ژور کتل او د لیدو وړتیا او مفاهیم چې له پېښو څخه را اخلې، ډېر ارزښتمن دي.»

مراد کاکا د دې خبرې په کولو سره «چې ګران ډنیز مې رښتیا وایي» خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «زه او زوی مې تېره شپه له یو بله مرور وو، له هغه وخته چې له خپلې کوژدنې جلا شوی و؛ دوه اوونۍ کېدې چې د شپې به ناوخته کور ته راته. هغه ته مې وویل چې خپل حال سم کړي. د نجونو وچکالي نه ده راغلې!

هغه هم ما ته خواب راکړ: «هر څوک په خپل حال ښه پوهېږي. اجازه راکړه هماغسې چې زه خپله پوهېږم حالت مې ښه کړم. که ښه هم نه‌شوم زما خپله مسئله ده.»

"غوسه شو او ویې ویل: لاسوهنه مه کوه". بیا زموږ آواز پورته شو. دواړه ناآرامه د خوب ځای ته لاړو. که له هغه سره کومه حادثه شوې وای، د عمر تر پایه به مې ځان نه وای بښلی.»

ډنیز وویل: «مګر تا څه ګناه درلوده مراد کاکا؟ که شخړه دې کړې وای که نه دا حادثه کېدونکې وه. سربېره پردې، د خدای شکر و چې اوس یې حال ښه دی.»

مراد کاکا وویل: «نه، داسې هم نه‌ده ډنیزه.» ګواکې لږ خواشینی شو. «هغه شپه نه‌شو پوهېدلی چې هغه درک کولای شم. ما هغې حادثې ته چې زما زوی ته پېښه شوې وه په کمه سترګه وکتل او د هغه درد ته مې درناوی ونه کړ. ښکاره ده چې هر څوک به خپل حال ښه ګوي. څوک پوهېږي چې په زړه کې یې څه طوفان و. څوک پوهېږي خپله کوژدنه به څومره ورته ګرانه وه او څومره به نه وه، څومره باور یې پرې درلود او څومره پرې بې‌باوره و، یا دا چې بېلوالي له هغه نه څه شی واخیستل او څه یې ورکړل، نه یې شوای کولای چې په دې پوه شو. آیا یوازې د دې لپاره چې دردېده، له هغه سره مې باید بد چلند کړی وای؟»

ډنیز وویل: «د دې لپاره مې ونه ویل چې خواشینی دې کړم.» په اصل کې مراد کاکا د وجدان په عذاب کې راګیر و، چې ولې یې خپل زوی سم نه‌دی ساتلی، بیا یې وویل: «یوازې د دې لپاره چې نه مې غوښتل هغه غمجن ووینم، ومې ویل چې خپل حالت سم کړي. هر څومره چې ښه نیت ولرو نه‌شو کولای د هغوی په برخلیک کې رئیس شو، ګرانه ډنیزه، کله مې چې د زوی د حادثې خبر واورېده، ومې ویل: خدایه هغه بېرته موږ ته راوبښه؛ ژمنه کوم چې د خپلو شپېو په ارزښت پوه شم. کله مې چې د شپې لخوا سر په بالښت ږدم له چا سره به مرور نه یم، له خپل زوی سره د شخړې پر ځای به کوښښ کوم چې ډېر ورباندې پوه شم، نه پرېږدم چې د یوازېتوب احساس وکړي.»

د مراد کاکا خبرو ته مې په ځير سره غوږ نيولی و. ګواکې د تېريلي موټروان نه، بلکې داسې عالم ناست دی چې تاوده ا وساړه يې څکلي. د فکرونو ژورتيا يې زما پام ور واړوه. له حالته يې داسې ښکارېده لکه لوړې زده‌کړې يې چې کړې وي او له ښو استادانو سره يې چې وخت تېر کړې وي، چراغ وهلی دود او بالآخره يو کامل او شامل عالم ترې جوړ شوی دی. تجربه بايد همدا وي. اعتراف کوم چې هر څومره يې چې د فکرونو په هکله مثبت فکر ولرم ويلی شم چې ډاډه وم، چې د يو تېريلي موټروان هېڅکله دومره ژوره پوهه نه‌شي لرلی. کله مې چې وپوښتل: په توضيح ورکولو باندې يې پيل وکړ. حيران شوی وم؛ کله مې چې واورېدل مراد کاکا کلونه مخکې په يوې دعوه کې راګير شوی و او په غير ارادي توګه د چاقو په وار سره د يوه کس د مړينې لامل شوی و. له همدې امله يوولس کاله بندي شوی و. د عمر تر ټولو غوره کلونه يې د زندان د دروازو تر شا تېر شوي وو. د ژوند نظم يې ښکته و پورته شوی و او لرې له هغو کسانو چې پرې ګران وو، ژوند يې برباد شوی و.

هغه دوران يې د «يوولس کلنې تيارې» او «يوولس کاله زندان» په نوم ياد کړ.

نه يوازې د بنديخانې سختی، بلکې د وجدان عذاب تر ټولو ستونزمن شی دی. ژوند يې ورته تور او تياره کړی و.

په ډېر غم يې وويل: «د يوې ژر تېرېدونکې غوسې له امله! د يوې شېبې غوسې له امله د وجدان لخوا محکمې ته دې اسير کېږې چې تمامېدونکې نه‌ده، بې له هغه بندي کېږې هم.»

د پښېمانۍ اغېزې چې د هغې پېښې له امله يې په څېره کې ښکارېدلې ليدلی مې شوې.

تر اوسه له ځان سره وايي: «کاش چې خپلې غوسې ته نه تسليمېدم.» خپل ځان يې د هغه کار لپاره نه‌شوای بښلی چې کړی يې و. تر اوسه يې د وجدان عذاب درلود.

**اوربدلي دې دي چې وايي: «غوسه د باد په څېر ده، ژر ويده کېږي، خو مخکې له هغه د ډېرو څانګې ورته پرې کوي.»**

ويې ويل: «ناآرامه وجدان هېڅ بنه نه‌دی.» ته به وايې چې زما د زړه آواز يې اوربدلی و. «په هغو کلونو کې چې په زندان کې وم، د هغه ځای له کتابتون سره عادت شوی وم، ځان مې کتابونو ته سپارلی و. شپه او ورځ مې مطالعه کوله. په لومړيو کې د دې لپاره چې د وجدان آواز مې لږ واورم، ځان به مې بوخت کاوه. خو بيا مې چې حال لږ رابنه شو، ومې ليدل چې په يوه بې پايه سمندر کې لامبو وهم. کتابونو زه خپل لوري ته جذب کړم او خپل سمندر ته يې ورګډ کړم. يادښت نيول مې پيل کړل. هر څه به مې چې لوستل يادښت کول مې. ډېر يادښتونه مې وليکل. څومره مې چې له وسه پوره وه، يادښتونه مې وليکل. همداسې مې د هغه ځای کتابتون لا لوی کړ. کتابچې مې ورځ په ورځ ډېرېدلې. تل به مې ليکلو ته دوام ورکاوه. پوره يوولس کاله مې بې له دمې، شپه او ورځ يوازې لوستل او يادښت کاوه.»

د منلو وړ نه و. مراد کاکا په اسارت کې د ځان لپاره آزاد چاپېريال برابر کړی و. رښتيا چې «درد» انسان بدلوي او بلوغ ته يې رسوي. دا بند يې د ځان لپاره د آزادېدو په مبارزه باندې بدل کړی و. د خپلو ليکنو په مټ هم د نورو د درد دوا ګرځېدلی و، الهام ببښونکی شوی و، لارښوونکی شو او لاسونه يې نيولي وو.

مراد کاکا وويل: «که رښتيا ووايم زه له زندانه بهر، بندي وم. روح مې ستړی و، هر کار به مې چې کاوه هر ځای ته به چې تلم، ژوند مې د باطن په زندان کې د تېرېدو په حال کې و. خو کله چې په زندان کې وم، د ځان د آزادی لپاره مې لاره پيدا کړه. بچيه! کله په نړی کې ګرځې، خو اسارت دې پای ته نه رسېږي، په ياد ولره چې انسان د خپل زړه د لويوالي او علم په اندازه آزاد دی.»

کله چې بېرته راوګرځېدم ډېنيز ته مې وکتل. پام مې شو چې سترګې يې له اوښکو ډکې دي. په ډېرې امکان سره يې لومړی ځل و چې له خپل باطني زندان سره مخ شوی و. يا هم کېدای شي لومړی ځل به و چې داسې خپلې آزادی پسې

خفه شوی و. ته به وایې ورو ورو تیارېده چې د خپل باطني قفس دروازه پرانیـزي. د هغه بدلون د پام غورځولو وړ نه و. تر اوسه یې هغو پېښو تـه پـام نـه و چې پـه باطن کې ورته پېښې شوې وې، تر اوسه یې غوښتل یوازې خپله ورځ تېره کـړي. خو د هغه نمجنو سترګو او آرامتیا ته چې په خبره کـې یـې ښـکارېده متوجـه وم او هغه دروازه یې چې خپل ځان ته پرانیستې وه چې تر اوسـه هېڅکلـه لـه هغـه سره مخ شوی هم نه و.

ډینیز وویل: «ته رښتیا وایې مراد کاکا، داسې هېواد نشته چې هلتـه بـه نـه یـم تللی، له ماشومتوبه ټوله کورنۍ په سفر مېین وو.

تل به د اوړي ټولګیو، کمپونو او اوږدمهالـه مسـافرتونو تـه تللـو، خـو پـه دې وروستیو کې مې حس کاوه چې ساه نهشم اخیستلی. ته به وایې داسـې ځـای نـه و چې هلته لاړ شم او خپل ځان وژغورم، چې ښـه شـم او بیرتـه راشـم. داسـې لکـه چې ټوله نړۍ چې زندان وي او زه پکې ایسار یم. غافل له دې چې تیـرې مـې د زړه په سر ځای نیولی او ښایي که هغه پورته کړم ښه به شم. کېدای شي داسې مې زړه آزاد شي، نه پوهېږم.»

دا ځل زه احساساتي شوی وم... لومړنی ځل و چې باطن مې ورته لیـده، بـې لـه شکه چې هلته یو ډېر غوره انسان و. ښکاره وه چې د هغه هم زړه غوښتل چې تعلـیم وکړي. ښکاره وه چې هغه غوښتل دا وحشي حیوان چې د ځان لپاره د درملو پـه لټـه کې زخمي شوی و، درملنه یې وکړي او زه د دې لپاره چې په دې مبارزه کې لـه هغـه سره وم، د لومړي ځل لپاره مې د رضایت او خوښۍ احساس وکړ.

کېدای شي زما به هم پام نه و چې دا «تګلوری» د دې لامـل شـوی و چې زه هم ډېر ځنځیرونه مات کړم.

داسې زده‌کوونکی وم چې له دومره مطـالعې، زده‌کـړې او د ارزښـتمنو اسـتادانو له لوري د ښوونې او روزنې په لیدو سره تر اوسه هم نه وم برلاسی شوی چې خپل قضاوتونه پرېږدم.

Scanned with CamScanner

له بل لوري له ځېل خان سره په مخامخ کېدو، هم یې خوشحاله کړی وم او هم ناآرامه. بیا مې د ښوونکي خبرې ذهن ته راغلې: «په سفر کې کړکېچونه شته دي، خو دا ستا د کمزوري کولو لپاره نه‌دي، بلکې تا بلوغ ته رسوي.»

له بل لوري د سفر ستونزې او هغه فشار چې د نورو تر ځنګ اړ شې له رښتینې خبرې سره دې مخ شې، آسانه کار نه‌دی. په اصل کې مې دې ته فکر کاوه څومره عاجز مسافر یم.

## وار له مخه قضاوت

یوه شېبه مې د هغو فکرونو لپاره چې د مراد کاکا په هکله درلودل، له ځانه وشرمېدم. هېڅ مې د هغه لپاره دا امکان نه و اټکل کړی چې وتوانېږي داسې کس وي چې د ځېل پرمختګ لپاره یې زیار ویستلی وي. د ډېر لوی فکر په هڅې سره په ژوند باندې منګولې ښخې کړې او سرو او تودو لیدلی کس وي. په داسې حال کې چې فکر مې کاوه د انسانانو تر منځ توپیر نه منم، په داسې حال کې چې ډېر وار له مخه قضاوتونه زموږ په باورونو کې ریښه پیدا کړې. ځېل مرونډ د دې وار له مخه قضاوتونو د ترسره کولو په وخت کې غلط نیسو.

ولې؟

ځکه ټولنې موږ ته را زده کړي چې د موټروانانو پوهاوی ډېر کم دی، تر دې چې ویلی شو جاهلان دي. ځکه بې معنا او بې اساسه باورونو لکه دا چې «که تعلیم یې کړی و او متمدن کس و او ارزښتناک استعداد یې درلود د شترینګ تر شا به نه کېناست.» زموږ په ذهنونو کې یې ځای نیولی. په داسې حال کې چې دا اوس د یو ډېر ښه استاد تر څنګ ناست وم، داسې عالم چې په ورته وخت کې د لارې موټروان هم و.

بې حده د ځېل قضاوت له امله په غوسه وم. داسې ناروغي ده چې انسان او انسانیت رنځوي، بې رحمه مېکروب. عجیبه دا ده چې پر دې مېکروب برلاسي

لاره هم د ځان روزنه ده. یوازې کامل انسانان د هغه عیبونه چې په ځان کې لیدلی شي د هغه پر وړاندې مجادله وکړي او همدارنګه بیا یو کامل انسان کولای شي ژوند، طبیعت او نور انسانان بې له دې چې د هغوی د بدلولو کوښښ وکړي ویې مني.

په داسې حال کې چې ما په خپلو سِمینارونو کې د وار له مخکې قضاوت په هکله خپلو اوریدونکو ته کیسې کولې. اوس یې چې فرصت مختـه راغلی، اوس یې تا ګران لوستونکي او د سفر ملګري ته بیانوم.

یوه ورځ یو سړي خپل ماشوم ښوونځي ته رساوه. په لاره کې حادثه کوي او په خواشینی سره چې پلار یې خپل ژوند له لاسه ورکوي. ماشوم هم ډېر سخت ژوبلېږي. بې له ځنده امبولانس راځي او ماشوم روغتون ته رسوي. په عملیات خونه کې کله چې جراحه د ماشوم مخ ګوري مخ یې ګچ غوندې سپینېږي.

وایي: «زه دا ماشوم نه‌شم عملیاتولی، هغه زما زوی دی.»

عجیبه نه‌ده؟

په خپلو سِمینارونو کې هم دا کیسه تر همدې ځایه کوم، بیا له ګډونوالو پوښتنه کوم چې: «ستاسو په نظر جراحې ولې داسې ویلي.»

ښکاره ده چې هر څوک جلا ځواب ورکوي. ځینې وایي حتماً به یې په زوی‌ولی نیولی و، ځینې وایي غبرګونی دی، ځینې نور بیا نورې کیسې جوړوي.

کنجکاو شوم...

ته څه فکر کوې؟

نو زه به هغه ځواب ووایم، چې تاسو یې په کیسه کې په لټه کې یاست.

هغه جراحه چې غواړي ماشوم عملیات کړي، رښتیا وایي. ځکه هغه د کټ پر سر د پروت ماشوم «مور» ده.

ستا په نظر ولې ډېری خلک حتی فکر نه‌شي کولای؟

ځکه موږ ته دا ذهنیت راکړل شوی چې جراحان سړي دي. حتی د دې امکان چې جراحه د ماشوم مور وي، زموږ ذهن ته رانغله، کېدای شي له دېرو وړاندوینو وروسته دا احتمال زموږ ذهن ته راشي.

د دې کیسې په څېر ما هم د مراد کاکا په هکله ډېر بې‌رحمانه قضاوت کړی و. دې پایلې ته ورسېدم چې د قضاوت په هکله باید اوږده لاره ووهم او د علم، کوښښ او دې تګلورې نه به هېڅکله د عمر تر پایه پورې لاس وانخلم.

د مراد کاکا له پېژندلو نه وروسته مې په وجود کې ډېر شیان بدل شول. له پینځو کلونو وروسته مې په زندانو کې د صوفیزم پـه هکلـه سِـمینارونه ورکړل. د بېلګې په توګه، په بل کال د وان ښار یوه زندان ته لاړم او هلتـه مـې سِـمینار ورکـړ. لـه ډېرو میله‌یې دروازو نه په تېرېدو یې زه د زندانیانو یـوه صـالون تـه بـوتلم چـې هلتـه یـې د فوټبال لوبه کوله. هلته مې د کنفرانس صالون و. په لومړي کتار کې ساتونکي او تر شا یې محکومین... ما ته یې توصیه وکـړه چـې د دې لپـاره چـې کومـه ستونزه رامنځته نه‌شي باید څوک دریخ ته راونه غواړم او د هغو منځ ته ور نه‌شم. خو ما په دې خبرو کې په یوې هم عمل ونه‌کړ. ځکه ټول هغـه کسـان چـې هلتـه وو د مراد کاکا په څېر راته ښکارېدل. له هغو ټولو سره مې خبرې وکـړې، ځینـې مـې پـه غېږ کې ونیول او له ډېرو سره مې ډېر وخت د لیک په مټ اړیکه درلوده.

هغه ورځ مې تصور نه‌شوای کولای چې دې څلور ساعته سفر کـومې دروازې زما پرمخ پرانیستلې. له څه ډول کسانو سره به ملګری شم او کوم شیان به راونښيي.

کله چې مراد کاکا د نـاظم حکمـت یـو شـعر ولوسـت، مـوږ درې‌واړو یـوه ژوره چوپتیا غوره کړه. کله چې ناظم حکمت د بورسا په زندان کې و، دا شعر یې خپلې مېرمنې ودا ته لیکلی و:

«موږ یې اسیر کړو

موږ یې زندان ته واچولو

زه یې د زندان دننه

ته یې بهر

البته زموږ کار آسانه دی

خورا بد شی دا دی چې انسان په پوهې یا ناپوهۍ سره

په خپل باطن کې زندان جوړ کړي...»

ونه توانېدو چې د ناظم د شعر د سِحر او د مراد کاکا د بااحساسه آواز له اغېزې نه بهر ووځو، ښایي چې خپله مو ونه غوښتل چې بهر راووځو.

نه پوهېږم دا چوپتیا څومره اوږده شوه، خو موږ درېواړه د آرام په حال کې وو. دا یوه ځارګره آرامتیا وه. داسې حالت چې د لارې، آسمان او زړه ځارونکی و.

**آرامتیا یوازې دا نه‌ده چې سترګې پټې کړې او په چوپتیا کې ډوب شې. یو کېدل دي، په دې اطمینان دی چې مسایل په هغې بڼه چې دي ویې منې او په عین حال کې چې عملاً کوم کار نه کوې، خو په حقیقت کې د ډېرو کارونو د کولو په حال کې یې.**

کله چې چاناک کاله ته ورسېدو، نه مو غوښتل چې بایسکیلونه بېرته واخلو، یوه کورنۍ وه چې ښاغلي مراد د هغوی لګښتونه پوره کول. په حقیقت کې کلونه کېدل چې د هغې کورنۍ لګښت یې ورکاوه چې د هغه د مرګ لامل شوی و، ځکه چې هغوی بښلی و، د پور د ادا کولو لپاره چې هر کار اړین و د هغوی لپاره یې کاوه. له هغه مو وغوښتل چې بایسکیلونه د هغې کورنۍ ماشومانو ته ورکړي. ډِنیز هم خپل ګران‌بیه ساعت د لومړي ځل لپاره له لاسه خلاص کړ او د ډالۍ په توګه یې د هغې کورنۍ مېرمنې ته ور ولېږه او ویې ویل: «هغې ته ووایه چې د ژوند په کیسه یې پوهېږم. ژوند هغه ته ور زده کړي وو چې له بښنې سره په ښښو ودرېږي. ان شاءالله چې هغه هم خپلو بچیانو ته له هر څه ډېر بښنه ور زده کړي. دا ساعت هغې ته د دې یادونه کوي چې څومره ځواکمنه مېرمنه ده.»

Scanned with CamScanner

# ۱۲

«د لارې پای ته فکر کول، بې‌خایه هڅه ده.»
شمس

ښکاره وه چې د ښاغلي مراد هم زړه نه و چې له موږ څخه بېل شي. کله چې چاناک کاله ته ورسیدو او تیاری مو نیوه چې خدای په اماني وکړو، ویې ویل: «دومره ژر مه ځئ هلکانو، کوم ملاقات خو نه لری چې بېړه کوئ، یو ځای به ډوډۍ وخورو، زه هم وخت لرم.»

رښتیا چې ... موږ نه بېړه درلوده او نه هم باید کوم کار ته رسېدلي وو. په حقیقت کې د همدې لپاره مو پل په لاره ایښی و. د ورو والي د زده کولو لپاره لرې کېدل له هغې اندېښنې چې ژر ورسېږو او بېړه وکړو، د ځان د آزادولو لپاره مو د ژوند په بهیر کې سفر کاوه. باد به چې هر لوري ته ولګېده موږ هم حاضر وو چې ځان ورته وسپارو.

ځکه پوهېږو باد هم بې له دلیله نه لګېږي.

ومې ویل: «ډېر ښه، نو سباناری به یوځای وخورو.»

پام مې شو چې د ډِنیز سترګې وځلېدې، په اطمینان سره چې ډېر وږی شوی و. سربېره پر دې، څومره مې چې پام و د سهار په چای مېین و. کولای بې شوای چې ټوله ورځ ډوډۍ، چای او مربا وخوري.

په یوه کوچني رستورانت کې کېناستو. په خوند سره مو چای وڅښـه او ماړه شولو. کله چې د خدای په اماني وخت راورسېده، مراد کاکا له موږ وپوښتل چې له چاناک کاله نه وروسته به چېرته لاړ شو؟ نه یې غوښتل چې موږ داسې پرېږدي. پلار و نو... له ټولو سره یې د هماغې پلارنی توجه، مینې او ساتنې په انګېزه چلند کاوه.

ما او ډنیز یو بل ته وکتل او د دې لپاره چې نه پوهېدو چېرته ځو، خندا راغله. بیا ځرنګه یې چې غوښتل، ما پوه کړې چې د دې نه پوهېدو عامل زه یم. په معنا لرونکې توګه یې وویل: «خدای کریم دی.»

ما هم په خندا وویل: «بارک الله زده دې کړ.»

بیا یې وویل: «ستا د شتون په سیوري کې مې زده کړل چې ښه زده‌کوونکی واوسم. لګیا یم د حساب نه کولو او د پلان د نه لرلو له حالته خوند اخلم. فکر کوم آزادي به همدا وي. مګر بده ده چې وغواړم له هغو ځنځیرونو نه ځان خلاص کړم چې په پښو کې مې تړل شوي؟»

مراد کاکا وویل: «بچیه! په حقیقت کې هغه انسان چې ونه ډار شي، آزاد انسان دی. له ماتې مه وېرېږئ، د راتلونکي اندېښنه مه کوی، په اوسني شېبه کې ژوند وکړئ، په دې توګه انسان ځان په امنیت کې احساسوي، رښتنې آزادي همدا ده.»

ومې ویل: «مراد کاکا ځومره ښکلې دې وویل، شتون، هر کله چې وغواړې کوم کار دې خوښ وي ویې کړې، انسان ته د آزادۍ احساس ورکوي. هغه انسان چې خپل ټول خواک له شتمنیو ځخه ترلاسه کوي تل په وېره کې وي، ځکه تل د خپلو شتمنیو د له لاسه ورکولو په وېره کې وي. هماغسې چې تا وویل، آزادي د امنیت د احساس په درلودلو او نه وېرېدلو کې ده.»

مراد کاکا وپوښتل: «یعنې د دې په هکله مو فکر نه‌دی کړی چې د چاناک له کاله نه وروسته به چېرته لاړ شئ، همداسې؟»

ومې ویل: «رښتیا ووایم فکر مې نه‌دی کړی، خو تېره شپه مې قونیه په خوب کې ولیده، د مولانا د مقبرې تر څنګ وم. هېڅوک نه و. څه مې چې په یاد کې پاتې دي یوازې د نه ستایلو وړ آرامتیا وه.»

هېڅکله نه وایم چې خوب و، پرېږده یې. حتماً دا فکر کوم چې په هغه کې کوم پوهاوی و چې باید ویې لولم. البته د هر پوهاوي لوستل آسانه کار نه‌دی. بالآخره خوبونه یوازې په ذهن باندې نه لوستل کېږي. د هغې مرتبې په مطابقت

Scanned with CamScanner

چې زړه ورته رسېدلی وي، مفاهيم ښکاره کېږي او د لوستلو وړ ګرځي.

له همدې امله تل دعا کوم چې داسې مرتبې ته ورسېږم چې د خپلو خوبونو په حکمت ځان پوه کړی شم. ممکن ده چې ځينې خلک به خوبونه د شېبېزو حس لوبه ګڼي، خو مونږ صوفيانو ته دا مسئله دومره هم ساده نه‌ده. صوفيان خوبونو ته ډېر ارزښت ورکوي، په اړه يې ډېر فکر کوي. په ډېرو منابعو کې ذکر شوي چې حضرت محمد _ به د سهار له لمانځه وروسته، د خلکو خوبونه تعبيرول. د بېلګې په توګه، نيلس بوهر هم چې د کوانتم ميخانيک له مخکښانو څخه پېژندل کېږي د خوب په هکله خبرې کوي. دا عالم په ۱۹۲۲ ز کال د نوبل جايزه ګټې. هغه وموندله چې الکترونونه د اتوم د هستې شاوخوا په څرخېدو دي. هغه داسې نظر ورکړ چې انرژي له يو مداره بل مدار ته الوځي، بوهر دا نوموتی موډل په خوب ليدلی و، هماغسې چې سيارې د لمر شاوخوا ته په څرخېدو دي، الکترونونه هم هماغسې د اتوم شاوخوا په څرخېدو دي. کله چې وېښ شو خپل ازموينځي ته د هغو شيانو د علمي اثبات لپاره لاړ چې په خوب يې ليدلي وو.

آلبرټ انشتين، د نړۍ لوی فزيک‌پوه، د هغو خوبونو په هکله چې په ځوانۍ کې يې ليدلي وو، خبرې کوي. هغه وايي چې د شپې په تياره کې کله چې له خپلو ملګرو سره پر واورو د ښويېدونکې درې په وسيله يې وسايل لېږدول په چټکۍ سره له پورته نه تر ښکته يې سرعت ورو ورو ډېرېده. په خوب کې يې ليدلي و چې هماغسې يې سرعت ډېرېده، تر هغو پورې چې د نور سرعت ته رسېدلی و. د خوب په هغه شېبه کې آسمان ته ځير شو او ستوري يې وليدل. ستورو هغه رنګونه خپرول چې مخکې يې ترې نه وو ليدلي. زړه يې د نه ستايلو وړ احساسه ډک و. هغه شېبه په دې فکر کې و چې د خپل ژوند د خورا اړين مفهوم د ليدلو په حال کې دی. وروسته يې ښکاره کړه چې د خپل ټول حرفه‌يي شخصيت نوم يې له هغه خوبه وروسته شروع شوی.

پر دې اساس غواړم ښکاره کړم چې که هر څومره هم بې معنا ښکاره شي، همدا چې په خوب کې مې قونيه وليده ځانګړې معنا راته لري، چې تر اوسه د

هغه د تعبیر په پوهېدو نه یم توانېدلی. ډنیز د «زه تر اوسه قونیې ته نه یم تللی» په ویلو سره زما خبره پرې کړه او ویې ویل: «کاش چې هلته لاړ شو!»

ومې ویل: «قسمت! ته به لاره قدم کېږده او هیڅ پوښتنه مه کوه. لاره به خپله درته ووایي چې څنګه لاړ شې...»

مراد کاکا په خندا شروع وکړه او همداسې چې لرې کېده، اړیکه یې وتیوله. بیا راوګرځېده او ویې ویل: «قسمت مو په قونیه کې وو! دوه ورځې وروسته مې ملګري چې د ترانزیټ موټروان دی، هلته ځي. هلکانو! تاسې هم له ځان سره بیولی شي؛ څه نظر لرئ؟»

دا دوه ورځې یې له شکه د ډنیز د ښه کېدو لامل ګرځېدلې. له پوره آرام سره یې ژوبله شوې پښه هم رغېدله.

وروسته له هغه چې مراد کاکا لاړ، لږ په چاناک کاله کې وګرځېدو.

د دې لپاره چې ډنیز آرام ته اړتیا درلوده؛ زه مې وغوښتل چې شپه په آرام ځای کې تېره کړو. همدا چې پام مو شو چې د ښار په مرکز کې د سیند په غاړه د کیږدۍ وهلو لپاره مناسب ځایونه شته، په چټکۍ سره تیار شو. آرام او تش ځای مو وموند. مازدیګر مهال و چې خپلې کیږدۍ مو هم ووهلې. هوا ډېره پاکه او معتدله وه. دواړه لاړو چې لږ آرام وکړو. همدا چې سرونه مو چې په بالښتونو باندې ایښي وو خوب وړي وو. کله چې ویښ شو ډېره موده کېده چې هوا تیاره شوې وه.

د سپوږمۍ رڼا په نرمۍ سره د سیند په اوبو کې ځلېده. هوا لږ سړه شوې وه، خو د پسرلنیو ګلونو بوی ټول ځایونه نیولي وو.

د کیږدۍ مخې ته یې ورغلم او بې له خنده مې راویښ کړ.

ومې ویل: «داسې شپه له لاسه مه ورکوه. آسمان له برم څخه ډک او د سیند منظره فوق العاده ده...»

ډنیز له خوبه ډکو سترګو سره وموسل او په تلوسې سره له خپلې کیږدۍ راووت.

هغه د تعبیر په پوهېدو نه یم توانېدلی. ډنیز د «زه تر اوسه قونیې ته نه یم تللی» په ویلو سره زما خبره پرې کړه او ویې ویل: «کاش چې هلته لاړ شو!»

ومې ویل: «قسمت! ته په لاره قدم کېږده او هېڅ پوښتنه مه کوه، لاره به خپله درته ووايي چې څنګه لاړ شې...»

مراد کاکا په خندا شروع وکړه او همداسې چې لرې کېده، اړیکه یې وتیوله. بیا راوګرځېده او ویې ویل: «قسمت مو په قونیه کې وو! دوه ورځې وروسته مې ملګری چې د ترانزیټ موټروان دی، هلته ځي. هلکانو! تاسې هم له ځان سره بیولی شي؛ څه نظر لرئ؟»

دا دوه ورځې یې له شکه د ډنیز د ښه کېدو لامل ګرځېدلې. له پوره آرام سره یې ژوبله شوې پښه هم رغېدله.

وروسته له هغه چې مراد کاکا لاړ، لږ په چاناک کاله کې وګرځېدو.

د دې لپاره چې ډنیز آرام ته اړتیا درلوده؛ زه مې وغوښتل چې شپه په آرام ځای کې تېره کړو. همدا چې پام مو شو چې د ښار په مرکز کې د سیند په غاړه د کیږدۍ وهلو لپاره مناسب ځایونه شته، په چټکۍ سره تیار شو. آرام او تش ځای مو وموند. مازدیګر مهال و چې خپلې کیږدۍ مو هم ووهلې. هوا ډېره پاکه او معتدله وه. دواړه لاړو چې لږ آرام وکړو. همدا چې سرونه مو چې په بالښتونو باندې ایښي وو خوب وړي وو. کله چې ویښ شو ډېره موده کېده چې هوا تیاره شوې وه.

د سپوږمۍ رڼا په نرمۍ سره د سیند په اوبو کې ځلېده. هوا لږ سړه شوې وه، خو د پسرلنیو ګلونو بوی ټول ځایونه نیولي وو.

د کیږدۍ مخې ته یې ورغلم او بې له خنده مې راویښ کړ.

ومې ویل: «داسې شپه له لاسه مه ورکوه، آسمان له برم څخه ډک او د سیند منظره فوق العاده ده...»

ډنیز له خوبه ډکو سترګو سره ومو‌سل او په تلوسې سره له خپلې کیږدۍ راووت.

+93700870594 M Ali

Scanned with CamScanner